# هغه پوښتنې چې د شیعګانو د هدایت سبب شوې

المؤلف
سليمان بن صالح الخراشي
الترجمة
لقمان حكيم حكمت

Pashto
بشتو

IslamHouse.com
Osoul Center
www.osoulcenter.com
Rabwah

# أسئلة قادت شباب الشيعة إلى الحق

المؤلف
سليمان بن صالح الخراشي

الترجمة
لقمان حكيم حكمت

PASHTO
بشتو

**ⓒ المكتب التعاوني للدعوة والإرشاد و توعية الجاليات بالربوة، ١٤٤١هـ**

**فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر**

عبدالبصير، لقمان حكيم

أسئلة قادت شباب الشيعة إلى الحق: اللغة البشتو . / لقمان حكيم عبدالبصير. - الرياض، ١٤٤١هـ

١٢٨ ص، ١٤ سم x ٢١ سم

ردمك : ٩-٤٩-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨

١- الشيعة أ. العنوان

**ديوي ٢٤٧ ١٤٤١/١٥٧٢**

**رقم الايداع: ١٤٤١/١٥٧٢**

**ردمك : ٩-٤٩-٨٢٤٩-٦٠٣-٩٧٨**

مركز أصول
OsoulCenter
www.osoulcenter.com

أُعد هذا الكتاب وصمِّم من قبل مركز أصول، وجميع الصور المستخدمة في التصميم يملك المركز حقوقها، وإن مركز أصول يتيح لكل مسلم طباعة الكتاب ونشره بأي وسيلة، بشرط الالتزام بالإشارة إلى المصدر، وعدم التغيير في النص، وفي حالة الطباعة يوصي المركز بالالتزام بمعاييره في جودة الطباعة.

+966 504 442 532

+966 11 445 4900


+966 11 497 0126

P.O.BOX 29465 Riyadh 11457

osoul@rabwah.com


www.osoulcenter.com

بسم الله الرحمن الرحيم



# لړليک

| | |
|---|---|
| د ژباړن سريزه | ۹ |
| سريزه | ۱۵ |
| تورونه | ۱۹ |



# د ژباړن سريزه

نبي کريم ﷺ په ګرد بشريت کې د رښتنولۍ بې سارى سمبول دی چې هېڅ نظير نه لري، د بې نظيره رښتياو له جملې څخه يې يو زر څلورسوه پنځه ديرشت کاله مخکې دا ليدو چې اسلامي امت به د هغه تاثراتو له کبله چې په خپل مبارک حديث کې يې ياد کړي دي درې اويا ډلو ته تقسيمېږي.

نبي کريم ﷺ فرمايي:

**«كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ».**

**هر نو مولود انسان په اسلامي فطرت او د الله پاک په وحدانيت پيدا کيږي، پلار او مور ترې يهودي يا نصراني او يا مجوسي جوړوي.**

له حديث څخه روښانه بريښي چې پلار او مور د انسان په ټولنيز او ګړيز او په ديني اړخونو مثبت اغيز لري، په دې چې خبره راڅخه اوږده نه شي او له موخې نه کوږ او لرې ولاړ نه شم، دېته اشاره کول غواړم چې شيعيت هم يوه هغه ډله ده -که څه هم ځانونه مسلمان بولي- خو د خوارجو په څېر د تکفيري نظريې پرته د ښې څېړنيزې حقيقي کره کتنې په پراخه بنسټ د هر اړخيزه شننې له مخې د اسلام څخه وتلي او له يهودانو څخه هم بدترين کافر دي.

دا ليکل دهغه چا غوږونو ته رسول غواړم چې د شيعيت او سنيت ترمنځ د توپير هېڅ علم او عبور نه لري او د دواړو خواو د ورورولۍ نارې سورې وهي، خو لوړه په رب لايزال چې په لاس کې يې زما روح ده او زما د نفس بشپړ واکدار دی چې که هر څومره ورته ځانونه نږدې کړئ په وعدو درسره وفا نه کوي او نه مو ديني خيال ساتي.

په دې ليکنې کې هغه چا ته خطاب کوم چې د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو رضي الله عنهم عزت او ابرو ورته هېڅ ارزښت نه لري، صرف يو څو نمونې د يادولو وړ بولم، نور هر لوستوال بويه چې د حقيقت پلټنې ته دوام ورکړي.

د شيعيت ديني کلمه د نبي ﷺ مونږ ته د راښولې کلمې (**لَا اِلَهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلَ اللهِ**) څخه توپير خوري.

په دې ټول پوهېږو چې انسان په دې کلمه مسلمانېدای شي او په دې کلمه به جنت ته ځي، پوښتنه دا منځ ته راځي چې څوک له دې څخه په بله کلمه اقرار کوي او د ځان لپاره یې د اسلام کونجي بولي ایا مسلمان ورته ویلې شو؟ سره له دې چې رسول کریم ﷺ فرمايي:

**«أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ»**[۱].

**ما ته امر شوی دی چې تر هغه د خلکو سره جنګ وکړم تر څو اقرار وکړي چې له الله پرته نور څوک د عبادت لائق نشته او محمد ﷺ د الله استازی دی، لمونځونه قائم کړي او زکاتونه ورکړي، که یې دغه کارونه وکړل له ما څخه یې وینه او شتمنی محفوظ کړې خو بغیر د اسلام له حقوقو څخه او نور حساب یې په الله دی.**

د حدیث په رڼا کې په دې ویوهېدو چې مذکوره شیان ټول هغه څه دي چې انسان پرې اسلام کې داخلیږي، ایا شیعګان مونږ سره د دغې کلمې په ویلو کې موافق دي؟ ایا شیعګان په دغه کلمه اقرار کوي؟

دمسلمانانو له جماعتو څخه دانګیزن اومثبت اغېزه اذان څخه د شیعګانو اذان بدل دی.

هغه اذان چې نبي کریم ﷺ یې په حق کې فرمايي:

**«مَنْ أَذَّنَ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ سَنَةً وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَكُتِبَ لَهُ بِتَأْذِينِهِ فِي كُلِّ يَوْمٍ سِتُّونَ حَسَنَةً، وَلِكُلِّ إِقَامَةٍ ثَلَاثُونَ حَسَنَةً»**[۲].

**څوک چې دولس کاله اذان وکړي، جنت ورته واجب شو، اود هرې ورځ په هر اذان به ورله شپېته نېکۍ ولیکل شي.**

پوښتنه دا پیدا کیږي چې ایا شیعګان په دې اذان اقرار کوي؟

---

(۱) صحیح البخاري: (۲۵) نمبر حدیث.

(۲) سنن ابن ماجه: (۷۲۸) حدیث نمبر.

ايا کله يې هم په خپلو مسجدونو کې دغه نبوي اذان کړى دى؟

د اذان دغه کلمات شيعګانو ته څا ښوولي دي؟

ايا دغه اذان علي ﷺ خپله چرته کړى دى؟ يا يې اورېدلى دى؟

اذان هغه کلمات دي چې صحابه کرامو ﷺ به په کليو تر هغه نظامي بريدونه نه کول چې به يې اذان واورېد، که به يې وا نه اورېد بيا به يې کلى غزا کوو.

ايا دا اذان له کوم صحابي څخه ثبوت لري؟

- د اسلامي دين د حج او لمونځ د رکنونو څخه د شيعګانو حج او لمونځ بدل دى.

ايا کله هم شيعګانو حج په هغه توګه کړى دى چې عام مسلمانان يې هر کال کوي؟

ايا تاسو پوهېږئ چې د شيعګانو په نېز حج څه شي ته اشاره ده؟

- قران يې له مونږ څخه بدل دى، هغوى وايي: زمونږ قران څلويښت سپارې دى.

هغه قران کريم چې رب کائنات پرې د عربي نړۍ ټول د فصاحت او بلاغت پوښل شوي شاعران تر نن ورځ پورې ګونګ او چاړا کړل، هېڅ چا يې تر نن ورځ مقابله ونه شوه کړاى او تر قيامته به يې مقابله ونه شي کړاى، ايا شيعګان په دې قران ايمان لري؟

دلته ډېرې پوښتنې ځکه نه ږدم چې ليکوال خپله په دې مسئله زياتې پوښتنې ايښي دي شيعګان ورته بايد هرومرو ځواب ووايي.

- په تناسخ الأرواح او حلول عقيده لري.

- د مور، خور او ټولو محرماتو سره نکاح حلاله بولي.

لږ څه وروسته به يې شعرونه ولولئ او درته به واضحه شي چې شيعيت سراسري اباحي مذهب دى او په ټولو معناګانو د اسلام سره ټکر خوري.

- د متعې په نوم يې زنا رواج او ټوله ځوانه طبقه هلکان او نجونې يې پرې اخته کړي دي.

- بخپلو باور وړ کتابونو کې د تزوير او دجل په بنسټ خپلو امامانو ته منسوب قولونه روايت کوي، خو د نبي کريم ﷺ سپيڅلي ارشادات پکې دګوتو په شمېر او هغه هم زياتره يې موضوعي وي، روايت کوي.

- د (بداء) د عقيدې په بنياد په الله پاک تورونه پورې کوي.

- دعلي رضي الله عنه باندې د الوهيت په عقيده کلک او غوڅه پرېکړه لري.

کولای شئ د شيعګانو د مزيد زندقت لپاره دغه شعرونه ولولئ:

خذ الدف يا هذه واضربي — وغني هزارك ثم اطربي
تولى نبي بني هاشم — وجاء نبي بني يعرب
أحل البنات مع الأمهات — ومن فضله زاد حل الصبي
لكل نبي مضى شرعه — وهذي شريعة هذا النبي
فقد حط عنا فروض الصلاة — وحط الصيام ولن يتعب
اذا الناس صلوا فلا تنهضي — وإن صاموا فكلي واشربي
ولا تمنعي نفسكِ المعزبين — من الاقربين ومن الاجنبي
فمن اين حللت للابعدين — وصرت محرمة للاب
اليس الغراس لمن اسسه — وسقاه في زمن المجدب
وما الخمر الا كماء السماء — فقد قدست من مذهب

- ای ښځې ډول ډبلی راواخله اووهه او سندري ووايه او وګډېږه.
- د بنوهاشمو نبي ولاړ او اوس د بني يعرب نبي او پيغمبرراغی.
- د مورګانو سره يې د لورګانو نکاحونه هم حلال کړل او له خپل ځانګړي احسان له مخې يې د هلک سره لواطت هم روا کړل.
- د هر پيغمبر لپاره خپل شريعت وي او دا د دې نبي شريعت اوتګ لاره ده.
- له مونږ.څخه فرض شوي لمونځونه ساقط العمل وګرځيدل اودروژې ستړيا هم ساقطه شوه.

- چې کله هم خلکولمونځونه کول ته مه ورنږدې کېږه اوچې کله یې روژې نیولې نوته خپل خوراك اوڅښا ك كوه.
- د پردو او خپلو بې واده هلکانو (لونډانو) نه ځان مه بندوه.
- له کوم ځای نه ته دپردولپاره حلاله شوې یې اودخپل پلارلپاره حرامه بلل کیږې؟
- ایا په نیالګۍ هغه څوك ډېرحقدارنه دی چېبې ناله کړې وي اوپه وچکالې کې یې ورته اوبه ورکړې وي؟
- اوشراب هم لکه داسمان داوبو په شان دي اوزما په مذهب کې روا دي.

خو که زه هسې د شیعګانو عقیدې ته د لړلیک شکل هم په سریزه کې ورکړم، شاید سریزه د ژباړل شوي کتاب څخه اوږده شي.

چونکه دا کتاب ډېر زیات باوری او د علمي تحقیق په اساس لیکل شوی دی، پښتو ژباړه مې دیني دنده وبوله او هاغه دی الله په خپل ځانګړې فضل تکمیل کړ.

الله پاک دې په دې کتاب له حقیقت څخه ړندې سترګې بینا کړي.

الله پاک دې پرې کاڼه غوږونه او په غفلت ویده زړونه راببدار کړي.


هغه ځوانان چې شیعګان دي الله پاک دې د هغوی په هدایت تمام کړي، او سني ځوانانو لپاره دې الله دا کتاب د دیني سربښندنې او د زړورتیا په صفت تمام کړي.

له ما څخه دې الله پاک دا خدمت قبول کړي، او الله دې دا عمل خالص د هغه د رضا په خاطر وګرځوي.

امین

ځواک صافی

۞۞۞



# سریزه

الحمد لله القائل ﴿وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُۖ وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦ﴾ [الأنعام: ١٥٣]، والصلاة والسلام على رسوله خاتم الأنبياء القائل: «إِنَّ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ افْتَرَقُوْا عَلَى إِحْدَى وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً، وَتَفْتَرِقُ أُمَّتِيْ عَلَى ثَلاثٍ وَسَبْعِيْنَ مِلَّةً؛ كُلُّهَا فِيْ النَّارِ إِلاَّ وَاحِدَةً، فَقِيْلَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ مَا الْوَاحِدَةُ؟ قَالَ: مَا أَنَا عَلَيْهِ الْيَوْمُ وَأَصْحَابِيْ»[1].

أما بعد:

الله پاک د خپلې کوني ارادې له مخې ګر بشریت ډلو ټپلو او ګوندونو ته ویشلی دی، ځنې ډلې د ځینو نورو سره تربګني او خواه بدي لري، یو بل ته سره خپل منځ کې چل او پراډونه جوړوي د تاوتریخوالي په مهال سره خپلمنځي اړیکو کې د الله پاک د دې قول څرګند مخالفت کوي چې انسان به دغسې وختونو کې د الله کتاب او نبوي سنتو ته ستنیږي:

﴿فَإِن تَنَٰزَعۡتُمۡ فِي شَيۡءٖ فَرُدُّوهُ إِلَى ٱللَّهِ وَٱلرَّسُولِ إِن كُنتُمۡ تُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلۡيَوۡمِ ٱلۡأٓخِرِۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ وَأَحۡسَنُ تَأۡوِيلًا﴾ [النساء: ٥٩]

له دې کبله د امت د هر خیرخواه چې د ټولنې وحدت او یووالي ته باوري او لیوال وي دا یې لازمي دنده ده چې د خپل توان په اندازه ټولنیزه شمله او اتحاد لکه چې څنګه د نبي ﷺ په دور حیات کې عقیدة او شرعا او اخلاقا و ، شته کېدو پسی یې بشپړ زیار وباسي، ترڅو د الله پاک د دې قول په سمه دمه پیروکار جوړ شي چې:

﴿وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْ﴾ [آل عمران: ١٠٣]

ژباړه: د الله پاک په رسۍ کلکې منګولې ولګوئ او ډلې ټپلې کیږئ مه.

د دې کار په شته کېدو سره به ډېر اړین اړخ چې دقرانکریم او نبوي سنت

---

(١) صحیح ترمذي د الباني لیکنه (٢١٢٩). د حدیث د سند او متن اړوند بشپړه شننه د شیخ سلیم هلالي په کتاب (درء الارتیاب عن حدیث ما أنا علیه و الأصحاب) کې وکوره.

د دعوت سره ټکر ډلې ټپلې او د هغوی دعوتونه، ديني کړلېچونه او مېداني خدمات دي چې خلک يې د حق څخه سرغړوني او د مسلمانانو له جماعت څخه کناره کېدو ته مجبور کړي دي لا په ښه توګه څرګند شي.

له دې کبله دغې پوښتنو ته دليک په بنه اړتيا وليدل شوه ترڅو د اثني عشريه شيعګانو د ډلوځوانې برخې ته وړاندې کړی شي، شايد هغه څوک چې د عقل مزی يې ارزښتناک او پياوړی وي حق ته د رسيدګۍ مرستندويه بې جوړ شي.

کوم مهال چې دغه ځوانه برخه دې پوښتنو کې د سوچ او فکر پړاو پېل کړي ورته به جوته شي چې په قران کريم او نبوي سنتو باندې له عمل کولو پرته نوره د خلاصون لاره نشته.

په ډېر زيات يقين او باور مې د «**ربحتُ الصحابة.. ولم أخسر آل البيت**»! د يو شيعي ځوان[1] چې دحق دلارې د پيروۍ توفيق ورپه برخه شوی دی پخپل دغې کتاب کې د شيعيت له ګمراهۍ څخه د حق مندولو په لور کې يوه خبره کړېده چې زما ډيره زياته خوښه شوه، هغه دې الله ثابت قدمه ولري سمه دمه خبره يې کړېده څکه چې د آل البيت او دعامه صحابه کرامو:سره يو ځای محبت او مينه لرنه هېڅ کله مسلمانه هستې په سترپيا او ستوماني کې نه اچوي، له بل پلوه دغې ځوان خپلې ليکنې ته داسې نوم ورکړی دی چې ماته يې د هغه نصراني سړي چې اسلام ته يې تن کېښود اود «**ربحتُ محمدًا.. ولم أخسر عيسى** عليه السلام» په نوم کتاب نوشته کړ راياد کړ هغه وايي:

ټول دې ښه خبر وي چې دا پوښتنې او تورونه ما د نړيوال جال له دعوتي ويب پاڼو او په ځانګړې توګه د «**منتدى الدفاع عن السنة**» څخه اخستي دي، د دې برسېره مې د شيعګانو د ځېنو ليکنو هم هغه الزمات او تورونه نقل کړي دي چې د شيعګانو ترمنځ د روزمره خبرو اړوند حيثيت تشکيلوي،

---

(١) دغه ورور ابوخليفة قضيبي چې د بحرين تابعيت لري په رياض کې ورسره زما له نزدې نه ليدل کتل وشول او په ملاقات کې يې زما ډېر زيات درناوی وکړ.

دغه غونډې پوښتنې او تورونه مې په یوقالب کې ځای پرځای کړل، دلته یواځې د ټولې په زیاړ بوخت یم، له الله پاک څخه سوال کوم چې په دې سره د شیعګانو ځوانانو ته ګټه او فایده ورسوي، او د خیر او سعادت کونجیاني یې جوړې کړي.

او ورته ددې یادونه کوم چې د حق او حیقیقت په امید لټون او شنني په باطل کې له غرقېدو بهتر دي، له شیعګانو څخه یوه هغه هستي چې د حق دین او حقانیت په مرسته او خوشحالۍ او وربانديې منګولو لګولو حالت کې له هغه سست او ناخبر بې کاره خلکو نه چې ځان اهل سنت ته منسوبوي په زرهاو چنده بهتر او غوره دي، داسې بې خبره چې دین ته اړتیا نه محسوسوي او د شبهاتو په جال کې بندیوان وي، او حالانکه الله پاک فرمایي


﴿مَن كَفَرَ فَعَلَيْهِ كُفْرُهُۥ وَمَنْ عَمِلَ صَٰلِحًا فَلِأَنفُسِهِمْ يَمْهَدُونَ﴾ [الروم: ٤٤]

ژباړه: که کفر اوسرغړوني څوک کوي نو ورته به د خپل کفر سزا ورکړل شي او که غوره او پسند کارونه چا وکړل خپله ګټه یې ده، نور الله پاک پخپلو کارونو ډیر ښه پوهیږي

وصلی الله علی نبینا محمد واله وصحبه وسلم.

ابومصعب

Alkarashi1@maktoob.com



# تورونه

١ شيعګان د علي ﷺ په معصوميت كلك باور او سرسخته عقيده لري، خو بېرته د شيعګانو په اعتراف هغه د حسن او حسين خپله پلاريېزه او مورييزه خور «ام كلثوم» عمر بن الخطاب ﷺ ته په نكاح وركوي(1) له دې څخه شيعګانو ته زمونږ دوه پوښتنې متوجه كيږي چې يوه له بلې ترخه ده:

**لومړۍ**: علي ﷺ بالكل معصوم نه دی ځكه چې ستاسو په ګمان يې كافر ته خپله لور په نكاح وركړې ده، او د كافر سره رشته د مذهب بنسټونه نړوي، بلكې پر دې هم ورڅخه دليل نيول كېدی شي چې هېڅ امام معصوم نه دی.

**دوهم**: عمر ﷺ سم دم او صحيح مسلمان دی! له دې كبله خو ورسره علي ﷺ د زومولۍ اړيكې ټينګې وساتلې، دواړه ډېر د حيرانتيا وړ پوښتنې دي.

٢ شيعګان كلك باور لري چې ابوبكر او عمر ﷺ دواړه كافران دي، خو بيا ګورو چې علي ﷺ پرله پسې دواړو سره په خلافت بيعت كوي، دا ښكاره دليل دی چې علي ﷺ معصوم نه دی، ځكه چې د داسې دوو كافرانو سره چې ده سره يې بغض او تربګني لرله بيعت وكړ، كه څه هم په ظلم بيعت كول او ورسره مرسته كول هم دي خو عصمت هم ورسره دوه پرقه كيږي، او له معصوم څخه دغسې كار هېڅكله نه صادريږي، او يا به د علي ﷺ دغه كړنه حقيقت او رښتيا او دين وي!!

ځكه بيا دواړه سم صحيح مومنان او د رښتيا سمبول او د عدل نمونې دي، كه داسې شي نو ابوبكر اوعمر ﷺ ته په سپكو سپورو او تورونولو او د

---

(١) دغه كور ودانی د شيعګانو لويو شيوخو لكه: كليني په (الكافي فى الفروع: ٦/١١٥) او طوسي په (تهذيب الأحكام: ٨/١٤٦) باب عدد النساء، او الاستبصار: (٣/٣٥٦) مناقب آل أبي طالب: (٣/١٦٢) د مازندراني ليكنه او عاملي په خپل كتاب مسالك الأفهام: (١/كتاب النكاح) مرتضى علم الهدى په (الشافي: ١١٦) ابن ابى الحديد په شرح نهج البلاغة: ٣/١٢٤) او اردبيلي په (حديقة الشيعة: ٢٧٧) شوشتري په (مجالس المؤمنين: ٧٦-٨٢) او مجلسي په بحارالأنوار (٦٢١) او د مزيد معلوماتو لپاره كولای شئ چې د (زواج عمر بن الخطاب من أم كلثوم بنت علي بن أبي طالب – حقيقة لا افتراء) د ابو معاذ اسماعيلي رسالې ته رجوع وكړئ.

هغوی له خلافت څخه په خواه بدۍ کې شیعګان له خپل امام څخه ښکاره سرغړونکي او کلک مخالفین دي، مونږ حیران دریان یو چې:

یا به د ابوالحسن علي رضي الله عنه د مسلک تګلاري جوړېږي او یا به یې د سرغړونکو شیعګانو په پل پل ږدو!

۳ د فاطمي رضي الله عنها له مړینې وروسته علي رضي الله عنه څه شمېر بي بیاني په نکاح اخستې وې، او ګڼ شمېر بچیان یې ترې پیدا شوي وو چې له جملې څخه یې یوه هم:

«أم البنین بنت حزام بن دارم»[(١)] وه چې ورله یې عباس بن علي بن ابي طالب، عبدالله بن علي بن ابی طالب، جعفر بن علي بن ابی طالب، عثمان بن علي بن ابی طالب زږولي وو.

د تېر په څېر: عبیدالله بن علي بن ابي طالب، ابوبکر بن علي بن ابی طالب یې هم د «لیلی بنت مسعود دارمية»[(٢)] څخه بچیان وو.

د تېر په څېر یې «أسماء بن عمیس» رضي الله عنها هم په نکاح اخستې وه چې ورڅخه یې: یحیی بن علي بن ابي طالب، محمد الاصغر بن علي بن ابی طالب، عون بن علي بن ابی طالب پیدا شول[(٣)].

همدغه شان علي رضي الله عنه «ام حبيبة بنت ربيعة» هم په نکاح اخستې وه چې یې: رقية بنت علي بن ابي طالب، عمر بن علي بن ابي طالب چې په پینځه دیرشت کلنۍ کې وفات شوی دی ورله زږولي دي[(٤)].

همدغه راز د ام الحسن بنت علي بن ابي طالب، او رملة الکبری بنت علي بن ابی طالب مور «ام مسعود بنت عروة بن مسعود الثقفية» وه[(٥)].

---

(١) کشف الغمة فی معرفة الأئمة: (٢/٦٦) د علي أربلي لیکنه.

(٢) مخکني مصدر.

(٣) مخکني مصدر.

(٤) مخکني مصدر.

(٥) کشف الغمة فی معرفة الأئمة: (٢/٦٦) د علي أربلي لیکنه.

❂ پوښتنه دا منځ ته راځي چې ايا پلار چرته د خپل بې تحاشا لوي او ستر دښمن نوم د زره په توکړې او خوږ اولاد ږدي؟؟ او بيا لا دا چې پلار هم د علي بن ابي طالب رضي الله عنه په څېر وي!!

ولې علي رضي الله عنه دهغو خلکو نومونه چې تاسو يې د هغه دښمنان بولئ ولې پخپلو زامنو او بچيانو ايښودل؟؟

❂ ايا هوښيار انسان خپل محبوب د دښمن په نوم نومي؟!

❂ ايا تاسو پوهېږئ چې علي بن أبي طالب رضي الله عنه لومړی هغه قرشي دی چې پخپلو بچيانو يې د ابوبکر او عمر او عثمان نومونه ايښی دي؟

٤ د شیعګانو په نېز د خورا غوره کتاب [نهج البلاغة] ليکوال ثبتوي چې علي رضي الله عنه له خلافت څخه په دې کلماتو استعفی ورکړه چې [ما خوشې کړئ او له ما پرته د بل چا په لټه کې شئ[1]].

❂ دا خبره د شیعګانو د مذهب بنسټ نړوي ځکه هغه داسې کار چې-ستاسو په نېز- پرې الله پاک فرض او لازم کړی دی ولې ترې استعفی غواړي او ستاسو په ګومان يې له ابوبکر رضي الله عنه څخه يې غوښتی هم و؟؟!!

٥ شیعګان انګېروي چې د نبي صلی الله علیه وسلم د زړه توکړه فاطمة رضي الله عنها د ابوبکر رضي الله عنه په دور خلافت کې توهين او تحقير شوې وه، د ډېر ستم له کبله يې په وهلو پوښتۍ هم ماته شوې وه، په دې بسنه نه وه شوې بلکې د هغې د کور د سوځولو کلک هوډ کړی شوی و او په وهلو يې ورڅخه د محسن په نوم ماشوم هم له خېټې ضائع کړی و.

❂ پوښتنه دا مخې ته راځي چې دغه مهال علي رضي الله عنه چرته ؤ؟؟

❂ د شجاعت او بې مثله بهادرۍ سره هغه ولې دغه غچ ونه شو اخستلای؟

٦ زيات صحابه کرام رضي الله عنهم مونږ وينو چې د نبي صلی الله علیه وسلم د مبارکې کورنۍ سره کلکې ازدواجي اړيکې لرلي دي او سخرانه يې جوړه شويده، يواځې

(١) نهج البلاغة: (١٣٦، ٣٦٦، ٣٦٧، ٣٢٢).

دا نه بلکې له دوی څخه یې هم وده ولې دي، او په دغو ټولو خپلولیو د اهل السنت او شیعګانو تاریخ پوهانو کلکه ګواهي ورکړې ده چې اړیکې ښتنې دي، ځینې بېلګې یې ستاسو مخې ته ږدم: نبي ﷺ :

- د ابوبکر رضي الله عنه لور عائشة رضي الله عنها یې په نکاح اخستې وه.
- د عمر رضي الله عنه لور حفصة رضي الله عنها یې هم په نکاح اخستې وه.
- خپلې دوه لورګانې رقیة او أم کلثوم رضي الله عنهما یې د اسلام دریم خلیفه عثمان بن عفان ذوالنورین رضي الله عنه ته په نکاح ورکړې وې.
- د عثمان بن عفان رضي الله عنه ځوی ابان د عبدالله بن جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه لور «ام کلثوم» په نکاح اخستې وه.
- د ابان بن عثمان ځوی «مروان» د «ام القاسم بنت الحسن بن الحسن بن علي بن ابی طالب رضي الله عنهم» لور په نکاح اخستې وه.
- «زید بن عمرو بن عثمان» هم «سکینة بنت الحسین» په نکاح اخستې وه.
- «عبدالله بن عمرو بن عثمان بن عفان» هم «فاطمة بنت الحسین بن علي» په نکاح اخستې وه.

د نورو صحابه رضي الله عنهم له ذکر پرته د خلفاء راشدینو د کورنیو د سخرګنۍ په یادولو بسنه کوو، تر څو څرګنده کړو چې اهل البیت د دوی څخه خوشحاله او مینه ګرکي وو، له دې کبله یې په ډېره رضاکارانه انداز ورسره سخرګنۍ او خپلولۍ کړې وې[1].

په تېره شننه کې مو ولیدل چې د اهل السنت او شیعګانو دواړو مصادر په دې ګواه دي چې اهل البیت خپلو بچو ته د خلفاء راشدینو نومونه هم ایښي دي.

(۱) که د صحابه کرامو ترمنځ سخرګنۍ اړوند مزید معلومات چاته درکار وي کولای شي چې [الدرر المنثور من تراث أهل البیت] کتاب د علاء الدین امامي لیکنې ته مراجعه وکړي هلته ډېر ښه معلومات نور هم شته.

- علي رضي الله عنه په ټولو بني هاشمو کې لومړنی سړی دی چې د لیلی بنت مسعود نه پیدا خپل ځوی ته یې د ابوبکر نوم کېښود[۱]، پر دې هم ټول شیعي مصادر ګواهي ورکوي.
- حسن بن علي هم خپل څلور واړه بچي په: ابوبکر، عبدالرحمن، طلحة، عبیدالله باندې نومولي وو[۲].
- حسن بن الحسن بن علي هم خپلو بچو ته دغه نومونه ایښي وو[۳].
- موسی کاظم هم خپلې لور ته د عائشې نوم انتخاب ایښی و[٤].

په اهل بیتو کې داسې هم شته چې په اسم کنیه یې ورله ځان مسمی کړی و، لکه زین العابدین بن علي[٥] او علي بن موسی (الرضا)[٦].

خو هغه اهل بیت چې خپل بچي یې په (عمر) نومولي دي ورڅخه یو هم علي بن ابي طالب رضي الله عنه دی چې له ام حبیبة بنت ربیعة نه پیدا خپل ځوی یې په عمر الاکبر نومولی و او د حسین رضي الله عنه سره یوځای شهید شوی دی او د عمر اصغر په نوم بل ځوی چې مور یې صهباء تغلبیة وه نومولی و، عمر اصغر چې الله پاک درازه زندګي ورکړې وه له خپلو ورونو نه یې میراث هم یوړ[٧].

---

(۱) الارشاد (۳٥٤) د مفید لیکنه. مقاتل الطالبین (۹۱) د ابوالفرج اصفهاني شیعي لیکنه. تاریخ الیعقوبي (۲/۲۱۳) او یعقوبي هم شیعه دی.
(۲) التنبیه والاشراف: (۲٦۳) د مسعودي شیعي لیکنه.
(۳) مقاتل الطالبین (۱۸۸) د ابوالفرج اصفهاني شیعي لیکنه.
(٤) کشف الغمة: (۳/۲٦) د اربلي لیکنه.
(٥) کشف الغمة: (۲/۳۱۷) د اربلي لیکنه.
(٦) مقاتل الطالبین: (٥٦۱ – ٥٦۲) د ابوالفرج اصفهاني لیکنه. چاپ: دارالمعرفة.
(٧) الارشاد (۳٥٤) د مفید لیکنه. معجم رجال الحدیث: (۱۳/٥۱) د خوئي لیکنه. مقاتل الطالبین: (۸٤) د ابوالفرج اصفهاني لیکنه، چاپ: بیروت. عمدة الطالب: (۳٦۱) چاپ: طبعة نجف. جلاء العیون: (٥۷۰).

- د تېر په څېر حسن بن علي هم خپلو بچو ته د ابوبكر او عمر نومونه اېښي وو[١].
- علي بن الحسين بن علي هم دغه نومونه اېښي وو[٢].
- دغه څېر علي زين العابدين، موسى الكاظم، حسين بن زيد بن علي هم دغه نومونه اختيار كړي وو.
- د تېر په څېر اسحاق بن الحسن بن علي بن الحسين، او حسين بن علي بن الحسين بن الحسين بن الحسن هم اېښي وو، له دوى څخه نورو اهل بيتو هم ددغې نومونو اختيار كړى و، خو په دې چې خبره رانه اوږده نه شي په دې بسنه كوو[٣].

پاتې د اهل بيتو هغه هستۍ چې د عائشې د نوم انتخاب يې كړى دى له جملې څخه يې ځينې هم: موسى الكاظم[٤] او علي الهادي[٥] دي.

خو دلته د عائشې رضي الله عنها په نوم او په دغې دوو شيخينو رضي الله عنهما باندې بسنه كوو.

٧ كليني په كتاب الكافي كې ذكر كوي چې **[امامان پوهيږي چې كله به مړه كيږي او دوى په خپل اختيار مړه كيږي]**[٦].

بيا مجلسي په خپل كتاب (بحار الانوار) كې حديث نقل كوي چې **[لَمْ يَهُنْ اِمَامُ اِلاَّ مَاتَ مَقْتُوْلاً أَوْ مَسْمُوْماً]**.

ژباړه: هېڅ امام نشته مګر يا د چا له لاسه او يا په زهرو وژل شوى دى[٧].

(١) الارشاد: (١٩٤) منتهى الآمال: (٢٤٠/١)
(٢) الارشاد: (١٥٥/٢) د مفيد ليكنه. كشف الغمة: (٢٩٤/٢).
(٣) ددې مزيد تفصيل په (مقاتل الطالبين) او د امامي شيعګانو په نورو كتابونو كې شتون لري لكه د بېلګې په توګه: (الدرر المنثور: ٦٥ – ٦٩) د علاء الدين المدرس ليكنه.
(٤) الارشاد: (٣٠٢). الفصول المهمة: (٢٤٢). كشف الغمة: (٢٩٤/٢).
(٥) الارشاد: (٣١٢/٢).
(٦) اصول الكافي: (٢٥٨/١) د كليني ليكنه. الفصول المهمة: (١٥٥) د حر عاملي ليكنه.
(٧) (٣٦٤/٤٣).

که د کلیني او حر عاملي په قول امام رښتیا په غیبو پوهیږي نو طبعا هغه خواړه او څښاک چې ورته راوړل کیږي پرې هم پوهیږي، په کومو خواړو کې چې ورته زهر اچول شوي وي باید ورڅخه ځان بچ کړي او که په زهرو وپوهیږي او بیا هم ورڅخه ځان ونه ژغوري نو مرګ یې خودکشي بلل کیږي، ځکه چې په خواړو کې له زهرو څخه باخبره دی نو خوراک یې په قصد سره د ځان وژنې هدف دی، سره له دې چې نبي کریم ﷺ فرمایي څوک چې ځان ووژني په اور کې به وي.

پوښتنه داده چې ایا شیعګان د خپلو امامانو لپاره په دې حکم راضي او خوشحاله دي؟؟

۸ حسن بن علی رضي الله عنه له خپل منصب څخه معاویه رضي الله عنه ته په داسې وخت کې راښکته او ورسره یې جوړجاړی وکړ چې که معاویه رضي الله عنه سره یې جنګ جګړه غوښته نو د ورسره مرستندویه جنګیالو په شتون کې یې ورسره کلکه مقابله کولای شوه، خو بالعکس د حسن رضي الله عنه ورور حسین رضي الله عنه یې مقابلې ته په داسې وخت کې راووت چې ورسره جنګیالي د شمار له نګاه نه کم او جوړجاړی کول په کې هم شوني و.

په دې دواړو که به هرومرو یو په حق او بل په ناحقه وي، ولې که حسن رضي الله عنه د جګړې سره د جوړجاړي په کولو پر حق او سلامت وي هرومرو به یې ورور حسین رضي الله عنه چې مرستندویه یې هم کم وو، د جنګ جګړې د مقابلې هم ورسره څوک نه وو، او جنګ یې وکړ په باطل وي.

که له بل پلوه د کمزورتیا او ناتوانۍ په حالت کې د حسین رضي الله عنه د معاویه رضي الله عنه سره جنګ ته وتل په حق او سلامت وي نو حسن رضي الله عنه چې جنګي قوه یې هم پیاوړې وه او صلح او سلا یې وکړه هرومرو به په باطل وي!

د شیعګانو دغه تګلاره هغه دریځ څرګندوي چې حسد ورسره پرې نه ارزي، که هغوی وایي چې مونږ سراسري په حقه یو، دوه ضدونه سره یوځای کوي او په دې سره یې مذهب له اصولو څخه نړیږي، او که وایي چې حسن ناسم کار کړی دی، باید امامت یې هم باطل وګڼل شي او که شیعګان د

حسن رضي الله عنه په امامت د بطلان عقيده ولري نو له دې څخه لازميږي چې د علي رضي الله عنه امامت او عصمت هم له منځه لاړ شي، ځکه چې هغه حسن رضي الله عنه ته په امامت -د د وی په زعم- وصيت کړی و، او د شيعه مذهب په بنسټ معصوم امام يواځې معصوم امام ته وصيت کولای شي.

او که وايي چې د حسين رضي الله عنه کار او کړنه باطله ده، له دې څخه لازميږي چې د حسين رضي الله عنه او د ټولو اولادې په امامت او عصمت يې د بطلان عقيده ولري، ځکه چې حسين رضي الله عنه د ټولو امامانو پلار او امامت له همغه څخه پيل اخستی، او چې کله اصل ونړيد نو ورباندې بناء شوي ټول فروع خپله نړيږي.

**۹** کليني پخپل کتاب الکافي[۱] کې پخپل سند ذکر کوي: ابو بصير وايي: زه ابو عبدالله عليه السلام ته راغلم او ورته مې ويل: له تا څخه قربان شم، که مې خبرې څوک نه اوري يوه پوښتنه درڅخه لرم، ابو عبدالله عليه السلام د خپل او بل کور ترمنځ پرده پورته کړه، کور ته يې وکتل او بيا يې وويل: ابو محمده! چې څنګه پوښتنې کوې تا ته اجازت دی، ما ورته وويل: له تا څخه قربان شم... بيا لږ ګړی خاموش شو بيا يې وويل: مونږ سره د فاطمې عليها السلام مصحف «قران» دی، تا ته څه پته ده چې دغه څنګه قران دی، ما ورته وويل: د فاطمې قران څنګه دی؟ هغه وويل: د فاطمې قران ستاسو د قران درې چنده دی، لوړه په رب لايزال چې ستاسو د قران يو حرف هم پکې نشته، ما ورته وويل: لوړه په رب لايزال چې دې ته علم وايي، هغه وويل: هو دا علم دی...

- ايا نبي صلى الله عليه وسلم ته د فاطمې د مصحف معلومات و که نه و؟
- که معلومات ورته نه و اهل بيتو ته دغه معلومات له کومه راغلل؟ سره له دې چې محمد صلى الله عليه وسلم د الله رښتنی رسول دی.
- او که معلومات ورته و، ولې يې له امت څخه پټ او پناه کول؟ سره له دې چې الله ورته وايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَ ۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥ﴾ [المائدة: ٦٧]

(۱) أصول الكافي: (۲۳۹/۱).

١٠ د کليني په کتاب «الکافي» لومړي ټوک کې د هغو راويانو نومونو او د اهل بيتو اقوال چې له لارې يې خلکو ته د نبي ﷺ حديثونه رسوي ځينې دغه نومونه دي:

[**مُفَضَّل بْن عُمَر، أَحْمَدَ بْن عُمَرَ الْحلَبيِّ، عُمَر بْن أَبَانٍ، عُمَر بْن أُذَيْنَة، عُمَر ابْن عَبْدالْعَزِيز، ابْرَاهِيمَ بْنِ عُمَر، عُمَر بْنِ حَنْظَلَةَ، مُوسَى بْنِ عُمَر، الْعَبَّاس ابْنِ عُمَر**] وګورئ چې د راوي خپله او يا هم د پلار نوم يې عمر دی، که رښتيا هم د عمر تاريخ داغ دار و، بيا نو ولې د (عمر) په نوم خوښ وو.

١١ الله پاک فرمايي:

﴿وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ﴾ [البقرة:١٥٥-١٥٧]

**ژباړه: هغه حوصله کونکو خلکو ته زيری ورکړه چې کله هم مصيبت او غم ورته ورسيږي وايي چې مونږ ټول د الله پاک يو او هغه ته راجع کېدونکي يو، په دغه خلکو به الله پاک رحمتونه وکړي او دوی په سمه لاره روان خلک دي.**

او الله فرمايي:

﴿وَٱلصَّٰبِرِينَ فِي ٱلۡبَأۡسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ وَحِينَ ٱلۡبَأۡسِ﴾ [البقرة: ١٧٧]

**ژباړه: هغه خلک چې په سختو کړاوونو او د جنګ جګړې په وخت صبر کوي.**

په «نهج البلاغة» کې ذکر کوي: علي عليه‌السلام نبي ﷺ ته د مړيني په حالت کې وويل: که په داسې وختونو کې تا له سورو نارو څخه منعه نه وه فرمايلې او په صبر کولو دې امر نه و کړی مونږ به دربانديې ټولې اوښکې توي کړې وی[1].

بيا ذکر کوي: «**علي عليه‌السلام وايي: که د مصيبت په وخت کې که چا خپل ورون هم**

(١) نهج البلاغة: (٥٧٦) مستدرك الوسائل: (٢/٤٤٥).

**په لاس ووهو ټول عمل به يې برباد وي»[١].**

د فارسی په ژبه «منتهى الآمال[٢]» کې چې عربی ژبې ته يې ژباړه شوې ده ذکر کوي چې په کربلاء کې حسين خپلې خور زينب ته وويل «اى خورکی! زه درته په الله قسم درکوم او زما په قسم کلکه ودرېږه چې کله زه ووژل شم کالي دې راباندې مه څيروه، مخ دې راباندې په نوکانو مه شکوه، زما په شهادت شور او ژړاګانې مه کوه».

ابو جعفر قمي نقل کوي چې امير المؤمنين عليه السلام وايي «تور پوښاک د فرعون لباس دی تاسو يې مه اچوئ»[٣].

﴿وَلَا يَعۡصِينَكَ فِي مَعۡرُوفٖ﴾ [الممتحنة: ١٢]

**ايت لاندې په «تفسير الصافي» کې ذکر کوي چې نبي ﷺ د ښځو سره په دې بيعت کړی و چې مخونه به نه توروي، جامې او کالي به د مصيبت په وخت نه څيروي، په چغور نارو او سورو به نه ژاړي.**

په «فروع الکافي» د کليني په ليکنه کې نقل دي چې نبي ﷺ فاطمې رضي الله عنها ته وصيت وکړ چې کله زه مړ شم په نوکانو دې مخ ونه شکوې، او نه کالي وڅيرې او نه راباندې په زوره اوازونو ژړا شور وکړې[٤].

د ګردو شيعګانو په نيز قابل باور او د صدوق په لقب بريا شيخ يې وايي: د نبي ﷺ د خولې کلماتو له جملې څخه دا هم دي چې: په مړي باندې په زوره ژړل د جاهليت د دور عمل دی[٥].

(١) الخصال للصدوق: (٦٢١) وسائل الشيعة (٢٧٠/٣).

(٢) (٢٤٨/١).

(٣) من لا يحضره الفقيه: (٢٣٢/١) د ابوجعفر محمد بن بابويه قمي ليکنه. وسائل الشيعة (٩١٦/٢) د حر عاملي ليکنه.

(٤) (٥٢٧/٥).

(٥) من لايحضره الفقيه (٢٧١/٤ - ٢٧٢). وسائل الشيعة (٩١٥/٢)، الحدائق النضرة: (١٤٩/٤) د يوسف بحراني ليکنه. جامع أحاديث الشيعة: (٤٨٨/٣). د حسين بورجردي ليکنه. محمد باقر المجلسي هم په دې لفظ روايت کړی دی چې: «النِّيَاحَةُ عَمَلُ الْجَاهِلِيَّةِ» بحارالأنوار (١٠٣/٨).

د نبي ﷺ نه د شیعګانو غښتلي او ستر علماء لکه مجلسي، نوري، بروجردي روایت کوي چې

«صَوْتَانِ مَلْعُوْنَانِ یُبْغِضُهُمَا اللهُ إِعْوَالٌ عِنْدَ مُصِیْبَةٍ وَصَوْتٌ عِنْدَ نَغْمَةٍ، یَعْنِيْ النَّوْحُ وَالغِنَاءُ»(۱).

**ژباړه: دوه اوازونه د الله پاک بدي شي، د مصیبت په وخت کې فریادونه او ژړاګانې کول، او په سندرو ګانو بجانو اوزاونه پورته کول.**

شیعګانو ته دا پوښتنې متوجه کیږي چې:

❂ شیعګان هغه حق ولې نه مني چې د هغوی په خوله غږیدلی دی؟

د چا تصدیق وکړو، د نبي ﷺ او که د شیعګانو علماوو؟

۱۲ ❂ که د عاشوراء په ورځ سر وینې کولو او سینه په څپیړو وهلو کې اجر او ثوابونه وی نو د شیعګانو ملایان ولې ځانونه نه وهي(۲)؟

۱۳ ❂ د شیعګانو په ګومان چې د غدیر په ورځ زرګونو صحابه و د علي رضی الله عنه د خلافت وصیت اوریدلی وو، بیا نو په زرګونو صحابه کرامو رضی الله عنهم کې ولې هیڅ یو صحابي هم حتی چې عمار بن یاسر، مقداد بن عمرو، او سلمان فارسي رضی الله عنهم یې په تایید هم راپورته نه شول چې ابوبکره! ته د علي رضی الله عنه نه ولې دغه حق اخلې؟ سره له دې چې ته پوهیږې چې د غدیر په ورځ ورته نبي ﷺ د خلافت په منصب وصیت کړی دی؟

۱٤ ❂ د نبي ﷺ له وفات کیدو څخه وړاندې علي رضی الله عنه ولې خاموش پاتې شو چې هغه وویل چې زه تاسو ته هغه څه ولیکم چې له مرګ نه وروسته مې ګمراه نه شئ، سره له دې چې علي رضی الله عنه له الله پاک پرته نور له هیڅ چا نه نه ویریده؟

او هغه په دې هم پوهیده چې د حق د ویلو نه سکوت د ګونګې شیطان کار دی!

---

(۱) بحار الأنوار (۱۰۳/۸۲)د مجلسي لیکنه. مستدرك الوسائل (۱۴۳/۱-۱٤٤). جامع أحادیث الشیعة: (٤۸۸/۳). من لا یحضره الفقیه (۲۷۱/۲).

(۲) إرشاد السائل: (۱۸٤).

۱۵ ایا شیعګان نه وايي چې د «کافي» زیات شمېر روایتونه ضعیف دی؟!

له قران کریم پرته نور مونږ سره هیڅ صحیح کتاب نشته.

بیا نو شیعګان په دروغو او دوه مخې د دې دعوه ولې کوي چې د موجوده قران کریم الهي تفسیرونه په دغې کتاب «کافي» کې چې زیات روایتونه یې ضعیف دي شتون لري؟؟

۱٦ عبادت یک او یوائې د الله پاک حق دی، الله پاک فرمایي:

﴿بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ﴾ [الزمر: ٦٦]

**ژباړه: بلکې یوائې دالله پاک عبادت وکړه.**

- ولې بیانو شیعګان د (عبدالحسین، عبد علي، عبدالزهراء، عبدالامام) نومونه ږدي؟
- که دا نومونه دروست وای امامانو ولې خپلو بچو او لمسو ته نه ږدل؟
- ایاد حسین رضي الله عنه د شهادت نه وروسته د عبد الحسین معنی په خادم الحسین دروسته ده؟
- ایا دا د دروسته ده چې حسین رضي الله عنه ته په قبر کې خوراک، څښاک، او د اودس لپاره اوبه راوړي نو ځکه ورته عبدالحسین ویل کیږي؟

۱۷ که علي رضي الله عنه په دې ښه پوهېده چې خلافت یې د الله پاک له پلوه نصا حق دی، بیا نو ولې یې د ابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم سره په خلافت بیعت کو؟؟

که تاسو وایئ چې عاجز و، نوسمه ده، ځکه چې عاجز انسان د خلافت د سترپیاو سره د مقابلې نه ناتوانه وي.

او که وایئ چې دخلافت سترپیاوې یې په ښه توګه انجامولی شوې نو نه یې کولې، نو دا خو بیا خیانت دی!!

او خائن کله هم د مسلمانانو ټولواک نه شي جوړېدای او نه د رعیت سمبالښت

کولای شي، او زمونږ په عقيده هغه ددې دواړو عيبونو نه پاک دی.

دې پوښتې ته ستاسو دروست ځواب څه دی؟؟

۱۸ له کله راهيسې چې علي ﷺ د واک واګې واخستې تر پايه مو ترې د راشدينو خلفاوو هيڅ نوعه مخالفت نه دی ليدلی، نه يې خلکو ته نوی قران وښود، او نه يې د کوم راشد خليفه سره مخالفتونه کړې دي، بلکې بارها ترې په ممبر اوريدل شوي دي چې: د نبي ﷺ نه وروسته ددې امت ډېر غوره ترين ابوبکر او بيا عمر ﷺ دي.

نه يې د متعې د نکاح رواوالی اعلان کړی دی.

نه يې فدک په شخصي قبضه کې راوستی دی.

نه يې په حج کې متعه حلاله بللې ده.

نه يې په اذان کې د «**حي على خير العمل**» کلمات ويلي دي.

او نه يې له اذان نه د (**الصلاة خير من النوم**) کلمات لرې کړي دي.

که ابوبکر او عمر ﷺ په رښتيا کافران وای، او د شيعګانو په عقيده يې خلافت له علي ﷺ نه په جبر اخستی وای، سره له دې چې د واک واګې يې په لاس کې وې ولې يې دغه ظلم او بربريت خلکو ته نه ښکاره کړ؟

بلکې هغه خو ستاسو برعکس د دواړو صفتونو کول او په خېر به يې يادول؟

يا خو يې په پل روان شئ او يا به دا وايئ چې هغه د امت سره خيانت کړی دی چې دغه ظلم او بربريت يې خلکو ته نه دی بيان کړی، او زمونږ په عقيده علي ﷺ له دغې تورونو څخه بري دی.

۱۹ شيعګان عقيده لري چې خلفاء راشدين کافران دي بيا نو ولې:

الله پاک ورته په نورو کافرانو برياوې ورکولې؟

د هغوي د خلافت په دورونو کې اسلام د عزت او شرافت اوج ته رسيدلی

و، تر نن مهال د ټولو مسلمانانو په اجماع اسلام چې هغه وخت په څومره عروج او ترقۍ کې وو نن نه دی.

❁ ایا د کافرانو او منافقینو د شرمندګۍ باوجود دغسې فتوحات او شرافت د الله پاک د کوْنِي سنت سره سمون خوري؟!

د دې برعکس ستاسو په عقیده هغه معصوم چې د ګرد بشریت لپاره الله رحمت او فضل ګرځولی دی، د واک په دور کې یې خلک په ډلو ټپلو وویشل شول، او په خپلمنځني اخ او ډب سره اخته شول، تر دې حده چې د اسلام دښمنانو یې له جګړو شخړو نه خوند او لذت اخست، ستاسو د عقیدې په بنسټ د معصوم په خلافت کې امت ته کوم کوم رحمتونه او مهربانۍ په لاس ورغلې؟ که عقل لرئ باید پوښتنه ځواب کړئ.

۲۰ ❁ شیعګان کلکه عقیده لري چې معاویه رضي الله عنه کافر دی، لېږ وروسته څه ګورو چې حسن رضي الله عنه ورته له خلافت څخه راښکته او د هغه سره یې بیعت وکړ، سره له دې چې حسن رضي الله عنه د دوی په نېز معصوم امام دی له کرداره یې دا پوښتنه پیدا کیږي چې:

❁ حسن رضي الله عنه کافر ته تنازل وکړ، او د واک په ګدۍ یې کېنو او دا کړنه یې سراسري د عصمت ضد ده او یا دا چې معاویه رضي الله عنه مسلمان دی!!

۲۱ ❁ شیعګان چې په حسینې خاوره سجده لګوي، ایا په دغه خاوره نبي صلی الله علیه وسلم کله هم سجده کړې ده؟؟

❁ که شیعګان وايي: هو، نو مونږ وایو: د کعبې په رب مو دې قسم وي چې تاسو دروغ وایئ.

❁ او که وايي چې سجده یې پرې نه ده کړې، نو مونږ ورڅخه پوښتو چې:

❁ ایا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تاسو ډیر ښه پوهیږئ؟

سره له دې چې د شیعګانو مرویات او د حدیثونو کتابونه په دې غږېږي چې جبریل علیه السلام نبي ﷺ ته حسیني خاوره له کربلاء نه راوړې وه.

۲۲ شیعګان کلکه عقیدوي دعوه لري چې د نبي ﷺ له مړیني وروسته یې ملګري مرتد شوي دي.

- پوښتنه دا منځ ته راځي چې ایا د نبي کریم ﷺ ټول ملګري د هغه له مړینې مخکې«په دولسو امامانو باندې عقیده لرله» او له مړینې وروسته یې بیا «سنیان» جوړ شول؟

- او کنه له مړیني مخکې«سنیان» وو او له مړیني وروسته یې«اثنی عشریه» جوړ شول؟

ځکه چې دغه د ارتداد او انقلاب معنی او مفهوم دی.

۲۳ هر څوک پوهیږي چې حسن رضي الله عنه د علي رضي الله عنه ځوی او فاطمة رضي الله عنها یې مور ده، او د شیعګانو په نیز حسن رضي الله عنه په هغه خلکو کې دی چې نبي ﷺ په خپل ځادر یا چپن کې رانغښتی دی(۱) او له معصومینو امامانو له جملې څخه هم دی، حسن او حسین رضي الله عنهما دواړه سره په دغې فضیلت او غوره والي کې یو شان دي.

- بیا نو ولې د حسن رضي الله عنه د مړینې سره سم یې امامت له کورني غړو څخه وتلی بولئ، او د حسین رضي الله عنه په اولاده کې په مسلسله توګه پاتې یادوئ؟

د دواړو پلار یو او مور یې یوه ده، دواړه سیدان دي، حسن لا په حسین د مشرۍ او پلار ته په نزدیکت مرتبه هم لري!!

---

(۱) د کساء د حدیث نچوړ دا دی چې نبي کریم ﷺ یوه ورځ راووت او له تورو ویښتو څخه جوړه چپن یې اچولې وه، نو حسن رضي الله عنه راغی په چپن کې یې راتاو کړ، بیا حسین رضي الله عنه راغی په چپن کې یې راتاو کړ، بیا فاطمة رضي الله عنها راغله په چپن کې یې راتاو کړه، بیا علي رضي الله عنه راغی په چپن کې یې راتاو کړ، بیا یې دا ایت ولوست ﴿إِنَّمَا يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُذۡهِبَ عَنكُمُ ٱلرِّجۡسَ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِ وَيُطَهِّرَكُمۡ تَطۡهِيرٗا﴾ [الأحزاب:۳۳]. ژباړه: ای اهل بیتو! یقیناً الله پاک غواړي چې له تاسو څخه پلیتي لرې کړي او پاک او سپیڅلي مو کړي. [مسلم: کتاب فضائل الصحابة]

دې پوښتنې ته کوم قابل قناعت جواب لرئ؟!

٢٤ که د نبي ﷺ نه وروسته ستاسو د عقيدې په بنسټ علي رضي الله عنهما معصوم امام وای، بيا نو ولې يې د نبي ﷺ د مرض په مهال په خپل امامت خلکو ته يو لمونځ هم نه دی کړی؟

صغری امامت خو په کبری امامت لوی او ستر دليل وي...؟

٢٥ تاسو شيعګان وايئ: دولسم امام د ټولواکانو د ظلم او بربريت له کبله په سرداب کې پټ او پناه شوی دی، د تاريخ په تېرېدو سره خو د شيعګانو ګڼ شمير دولتونه لکه د «عبيدينو حکومت، فاطمينو حکومت، د بويهينو حکومت، د صفوينو حکومت، او اخرنی يې په ايران کې معاصر شيعي حکومت» دی په تېرو وختونو او د ايران حکومت په اوسني مهال دغه امام ولې منځ ته نه راځي؟ او ولې يې دغه پټېدنه دومره وغځيده؟

اوسمهال چې شيعګان ترې ډېره ښه دفاع هم کولی شي، او په مليونونو شيعګان ترې سهار ماښام خپل ارواح قربانوي ولې نه راوځي!!

٢٦ ابوبکر رضي الله عنه د نبي ﷺ د هجرت ملګری و او د ځان سره يې ژوندی بوت، برعکس علي رضي الله عنه نبي ﷺ په خپله هغه بستره کې واچو چې نزدې مرګ ژوبله ترې راولاړه شوی وی.

- پوښتنه دا منځ ته راځي چې که علي رضي الله عنه په رښتيا هم د نبي ﷺ وَصِيْ و، ولې يې د مرګ په کومې کې اچو؟

که ابوبکر رضي الله عنه يې پخپلې بستره اچولی و او مړ شوی و، هيڅ خبره ځکه نه وه چې د امامت سلسله به له منځه نه تللای، پوښتنه هم دا ده چې د ژوند په پاتې کېدو څوک ډېر لايق و؟

هغه څوک چې په خپه کې يې قدرې غنه هم لاړه نه شي او که هغه څوک چې د مرګ په بستره شپه سبا کړي...؟

که شیعګان وایي: علي رضي الله عنه په غیبو پوهېده نو په دغې بستره یې د شپې تیرولو مقصد او هدف څه و؟!.

۲۷ د خوف او ډار له کبله تقیه روا کیږي.

خوف او ډار دوه ډوله دی:

**لومړی**: په ځان ویره.

**دوهم**: له بدني تکلیف او مشقت، له کنځاو او سپکو سپوروڅخه ویره. د دوو سببونو له کبله امامان په ځان نه شي ویریدلای:

**لومړی**: ای شیعګانو! ستاسو په عقیده امام ته مرګ د هغه په اختیار راځي -یعنې مرګ یې طبیعي دی-.

**دوهم**: په تېرو او راروانو پېښو پنا باندې د شیعګانو امامان علم لري، هغوی د خپل مرګ له وخت او اجل او نېټې نه باخبره وي، له اجل وړاندې هغوی هېڅکله له مرګ نه نه ډاریږي، او نه د عوامو سره په دین کې نفاق او دوه مخې ته کومه اړتیا لري.

**د ډار دوهم ډول**: له بدني تکلیف او مشقت، له کنځاو او سپکو سپور څخه ویره، ا و په دې کې خو شک نشته چې په تکلیف او مشقت او په خورا سختو حالتونو صبر او زغم د علماوو، او د نبوي کورنۍ د غړو کار او پېشه ده، تر څو له دغې لارې د خپل نیکه محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د دین پیاوړې مرسته وکړي.

بیا نو تقیه کولو ته څه اړتیا ده؟؟!!

۲۸ د شیعګانو د عقیدې په اساس معصوم امام په دې خاطر وي چې له ټولو کلو ښارونو څخه ظلم او د استبداد ټول ډولونه له منځه یوسي او پرځای یې عدل راولي.

پوښتنه دا منځ ته راځي چې: ایا تاسو په دې باور لرئ چې تر دې مهاله په هر کلي او ښار کې معصوم امام شتون لري چې له خلکو څخه ظلم

پورته کوي او که نه يې لرئ؟

که ځواب مو دا وي چې په هر کلي ښار کې چې الله پاک پيدا کړی دی، معصوم امام شته، نو ستاسو څخه پوښتنه کوو چې:

- ډېر تېروتي ياست!! د کافرانو او مشرکانو په کلو ښارونو کې هم معصوم امام شته؟

د معاوية رضي الله عنه سره هم په شام کې معصوم امام و؟

او که وايئ چې امام يو وي خو په نورو کلو ښارونو کې نائبان او سفيران لري، له دې څخه دا پوښتنه منځ ته راځي چې:

- ايا دغه سفيران او نائبان هر ځای کې دي، او که د ځمکې په ځېنو برخو کې دي؟

که تاسو وايئ چې په هر کلي او ښار کې دي، مونږ وايو: د ځمکې په څېر ډېر تيروتئ!!

ټول خلک خو يو معصوم امام ته اړتيا لري نو ولې مو دخلکو ترمنځ وويشل؟

۲۹ په «کافي» کې کليني مستقل باب ايښی دی چې«ښځې په ځمکه کې د ميراث حق نه لري»، له ابو جعفر څخه روايت کوي [**لاَ يَرِثْنَ مِنَ الأَرْضِ وَلاَ مِنْ الْعِقَارِ**](١).

ښځه ځمکه او ثوابت – کور، دوکان، مارکېټ وغيره..– په ميراث کې نه شي اخستی.

او طوسي په تهذيب(٢) کې له ميسر څخه نقلوي چې [ما د ابو عبدالله عليه السلام نه پوښتنه وکړه چې ايا ښځو لپاره د ميراث برخه نشته؟ هغه وويل: هغوی ته به د خختې او ابادۍ او د لرګو قيمت ورکولی شي، ځمکه او ثوابت په ميراث کې نه شي اختسلای]

(١) فروع الكافي: (١٢٧/٧).

(٢) (٢٥٤/٩).

محمد بن مسلم د ابوجعفر ﵇ څخه روايت کوي چې [**النِّسَاءُ لاَ يَرِثْنَ مِنَ الأَرْضِ وَلاَ مِنَ العِقَارِ شَيْئا**].

له ځمکې او نورو ثوابتو څخه ښځې بيخي ميراث نه شي وړلی.

عبدالملک بن اعين په دواړو امامانو کې له يو څخه روايت کوي [**لَيسَ لِلنِّسَاءِ مِنَ الْدُّوْرِ وَالْعِقَارِ شَيْئاً**].

په کورونو او عقار کې ښځې بيخي ميراث نه شي اخستلی.

په دې روايتونو کې د فاطمې ﵂ او نه د نورو زنانه و لپاره هېڅ ځانګړتيا او تقييد نشته.

د شيعي مذهب له روايت په بنسټ فاطمه ﵂ حق نه لري چې د رسول الله ﷺ څخه پاتې شوی عقار يا کور په ميراث کې واخلي.

د شيعي مذهب د روايتونو له مخې چې نبي ﷺ څومره ميراث پرېښی دی د امام حق دی، محمد بن يحيي د احمد بن محمد نه، هغه يې د عمرو بن شمر نه، هغه يې د جابر نه، هغه د ابوجعفر ﵇ نه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي [**خَلَقَ اللهُ آدمَ وَأَقْطعَهُ الْدُنْيَا قَطيْعَةً، فَمَا بَانَ لآدَمَ فَلِرَسُوْلِ الله ﷺ وَمَا بَانَ لِرَسُوْلِ الله فَهُوَ لِلأَئِمَةِ مِنْ آلِ مُحَمَّدٍ**][(١)].

کله چې الله پاک ادم ﵇ پيدا کړ د ځمکې يوه ټوټه يې ورته ورکړه، د ادم ﵇ څخه پاتې برخه زما ده، او زما برخه د محمد د کورنۍ د امامانو برخه ده.

او د شيعګانو د عقيدې له مخې لومړی امام علي ﵁ دی چې د فدک په مطالبه لائق او حقدار دی، فاطمة ﵂ نه ده او نه يې د فدک اړوند غوښتنه کړېده، بلکې هغه مزيد وايي: که مې غوښتلی وی د شهدو پاک نچوړ، د غنمو پاک وړه، د وربښمو پوښاکو کې به مې ځان ته لاره هواره کړې وی، خو نفسي غوښتنې کله ما باندې غالبه کېدای شي، او کله مې حرص رنګارنګ خوراکونو ته راښکلی شي، شايد په حجاز او يمامه کې داسې څوک وي چې

(١) أصول الكافي د كليني، كتاب الحجة باب أن الأرض كلها للإمام ﵇ (٤٧٦/١).

د ډوډۍ ټکلي طمع نه لري او نه هم د مرخت سره اشنا وي[۱].

۳۰ د مرتدینو سره ابوبکر رضي الله عنه ولې جګړه کوله؟ او دا یې ویل چې [**لَوْ مَنَعُوْنِيْ عِقَالاً كَانُوْ يُؤَدُّنَهُ لِرَسُوْلِ اللهِ لَقَاتَلْتُهُمْ عَلَيْهِ**].

که پړي یې نبي صلی الله علیه وسلم ته په زکات کې ورکو او ما ته یې رانه کړي زه ورسره پرې جنګ کوم.

خو ولې برعکس شیعګان عقیده لري چې علي رضي الله عنه د ویرې له کبله چې خلک مرتدین نه شي هغه مصحف او قران کریم یې راڅرګند نه کړ چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې نوشته کړی و.

سره له دې چې خلیفه هم و! ستاسو د شیعګانو په عقیده د الهي صفتونو او تأییدونو څښتن هم و!!

او ددې باوجود یې بیا هم د خلکو د ارتداد له ویرې لیکلی قران نه شو څرګندولای، او په دې خوښ و چې خلک په ګمراهۍ او بې لارۍ کې پاتې شي او برعکس ابوبکر رضي الله عنه د زکات د یو پړي په خاطر د مرتدینو سره د مرګوني جنګ جګړې کولې!!!

۳۱ د ټولو اهل السنه والجماعت او د شیعګانو د ټولو ډلو ټپلو په اتفاق علي رضي الله عنه خورا ډېر شجاع او بهادر و، د الله د رضا لپاره د هېڅ چا نه نه ډارید، له لومړۍ ورځې راهیسې یې د ابن الملجم په لاس د مرګ تر اخرې لمحې پورې یې شجاعت او بهادرۍ کې هېڅ کمبود او کمښت نه دی راغلی، د شیعیت عقیدې په بنسټ علي رضي الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم وصي دی.

پوښتنه دا منځ ته راځي چې ایا د نبي صلی الله علیه وسلم له مړیني وروسته د علي رضي الله عنه شجاعت او بې مثاله بهادري دومره په ټپه ودریده چې د ابوبکر رضي الله عنه سره یې بیعت وکړ؟

---

(۱) نهج البلاغة: (۱/۲۱۱).

بیا یې د کمزورتیا له مخې مباشرة د عمر ﷺ سره بیعت وکړ؟

او بیا یې د کمزورتیا له کبله حتی چې عثمان ﷺ سره هم بیعت وکړ؟

ایا علي ﷺ له دې څخه هم عاجزه و چې د خلافت په اوږده موده کې یوه ورځ د نبي ﷺ په ممبر وریپورته شي او غږ پورته کړي چې له ما څخه خلافت په زوره اخستل شوی دی، او د خلافت حقدار دا دی، ځکه چې د رسول الله ﷺ وصي دی او بس؟

سره له دې چې ډېر بهادر او شجاع و، ولې یې مطالبه او د خپل حق غوښتنه نه کوله؟ سره له دې چې جاني مرستندویان یې هم ډېر درلودل!!

۳۲ د کساء حدیث چې لږ مخکې یې یادونه وشوه څلور نفر پکې نبي ﷺ د ځان سره رانغښتي دي، په تطهیر او عصمت کې د نورو خلکو نښویستلو باندې قابل قناعت څه دلیل دی؟

۳۳ د شیعګانو عقیدې له مخې د جعفري مذهب مؤسس جعفر الصادق نه روایت دی چې هغه د ویاړ په مقام کې وایي [**زه ابوبکر دوه ځله زېږولی یم**[1]] هغه دا خبره ځکه کوي چې ابوبکر ﷺ ته یې نسب له دوو لارو څخه رسیږي:

- د فاطمة بنت القاسم بن ابي بکر د مور له پلوه.
- د اسماء بنت عبدالرحمن بن ابي بکر د مور له پلوه نیا څخه چې د فاطمة بنت قاسم بن محمد بن ابي بکر مور وه.

ددې باوجود بیا هم شیعګان په دروغو باندې له جعفر ﷺ د خپل نیکه په هکله د ذم او بدیَ روایتونه نقلوي!

- پوښتنه دا رامنځ ته کیږي چې جعفر صادق ﷺ ولې له یو پلوه پخپل نیکه فخر کوي او له بل پلوه ورته سپورې ستغې وایي؟

(۱) کشف الغمة د اربلي لیکنه: (۲/۳۷۳).

دا دجاهل اوناپوهه خلکو خبرې دي، دا د هغه چا خبرې نه دي چې شیعګان یې د خپل عصر خورا متقي او پرهیزګاره امام بولي، داسې څوک چې د مدح او قدح اړوند یې هیڅ څوک نه دي غړیدلي دي.

٣٤ مسجد اقصی د لومړي ځل لپاره د عمر بن الخطاب ﵁ په دور او د بل ځل لپاره د سني قائد صلاح الدین أیوبي ﵀ د واک په دور کې فتح شوی دی.

د تاریخ په اوږدو کې شیعګانو کوم فتوحات کړي دي؟

ایا په تاریخ کې یې چرته یوه لویشت ځمکه فتحه کړې ده؟

ایا چرته یې د مسلمانانو او د اسلام دښمن له حدودو څخه شړلی دی؟!

٣٥ شیعګان عقیده لري چې عمر ﵁ د علي ﵁ سره بغض او حسد درلود.

بیا نو ولې یې هغه مهال د مدینې ګورنر ګمارو چې د بیت المقدس د کونجیانو د اخستو لپاره شام ته ولاړ؟

سره له دې که عمر ﵁ د کوم خطر سره مخامخ شوی وی علي ﵁ به د مسلمانانو خلیفه و!!

٣٦ شیعه علماء وایي چې سجده به په اتهه اندامونو کیږي، او ضرور ده چې اتهه واړه اندامونه د ځمکې سره پیوسه وي (تندی، پوزه، دواړه ورغوي، دواړه زنګونان، دواړه قدمونه)[1].

بیا وایي چې سجده پر هغه څه کول واجب دي چې نه خوړل کیږي او نه اغوستل کیږي، له همدې کبله د تندي لاندې خاوره ږدي[2].

شیعګان ولې د هر اندام لاندې خاوره نه ږدي؟!

٣٧ شیعګان عقیده لري چې کله یې مهدي راښکاره شي د«ال داود» په

(١) وسائل الشیعة: (٣/٥٩٨) د حر عاملي لیکنه.
(٢) الجامع للشرائع: (٧٠) د حلي لیکنه.

حكم به فيصله كوي!

۞ ولې د نبي ﷺ شريعت چرته ولاړ؟ سره له دې چې په دې سره ټول ګرد مخکنې اسماني شريعتونه هم منسوخ شوي دي؟؟!!

٣٨ د شيعګانو مهدي چې راشي ولې به د يهودانو او نصرانيانو سره صلحه او جوړ جاړی کوي؟ او قريش او عرب به دواړه وژني؟!!

ايا نبي ﷺ او ستاسو د عقيدې له مخې شيعګانو امامان عرب او قريش نه و؟

٣٩ شيعګان عقيده لري چې د امامانو حمل د مورګانو په اړخ کې وي او له ښی ورون[1] څخه پيدا کيږي.

ايا محمد ﷺ غوره نبي او سرعام نيک انسان نه و؟ او د مور په خيټه کې يې حمل اخستی نه و او د هغې له رحم نه يې ولادت و نه شو؟!!

٤٠ شيعګان د ابوعبدالله جعفر الصادق نه روايت کوي چې «مهدي ته خپل نوم اخستونکی کافر دی»[2].

د ابو محمد الحسن العسکري نه شيعګان روايت کوي چې د مهدي مور ته يې وويل «ته به نارينه په حمل اخلې او محمد به يې نوم وي زما څخه وروسته به هغه ديني امام وي»[3].

ايا دا خبرې سره ردو بدلې نه دي؟ يو ځل وايي چې: که چا ورته پخپل نوم اواز وکړ کافر به وي، او بيا بېرته خپله وايي چې حسن العسکري ورته د محمد نوم اخستی دی؟!

٤١ عبدالله بن جعفر د اسماعيل بن جعفر خپل شقيق ورور و، د دواړو

(١) اثبات الوصية: (١٩٦). د مسعودي ليکنه.
(٢) الأنوار النعمانية: (٢/٥٣).
(٣) الأنوار النعمانية: (٢/٥٥).

مور فاطمة بنت الحسين بن علي بن الحسين بن علي بن أبي طالب رضي الله عنهم وه.

ستاسو د مفهوم له مخې عبدالله او اسماعيل دواړه له دواړو اړخونو نه هم سيدان او هم حسيني دي.

اسمعيل چې د پلار د زندګۍ په دور کې وفات شو له مړينې وروسته یې ولې عبدالله له امامت څخه محروم شو؟!

٤٢ کليني په «کافي» کې د احمد بن محمد په روايت د ابوعبدالله عليه السلام نه مرفوعا روايت کوي چې «**يُكْرَهُ السَّوَادُ اِلاَّ فِيْ ثَلاَث: الخُفُّ وَالعَمَامَةُ وَالْكِسَاءُ**[1]».

**ژباړه: له پيزار، پټکي (پګړۍ) او چپن پرته تور پوښاک استعمال مکروه دي.**

په (کتاب الزي) کې د نبي صلی الله علیه وسلم څخه مرفوعا روايت کوي چې «**بِأَنَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَكْرَهُ السَّوَادَ اِلاَّ فِيْ ثَلاَثَةٍ: الخَفُ وَالْهِسَاءُ وَالعَمَامَةُ**»[2].

**ژباړه: نبي صلی الله علیه وسلم له درې شيانو: پيزار، چپن، پګړۍ پرته تور پوښاک ښه نه ګڼه.**

او حر عاملي په (وسائل الشيعة) کې د صدوق په روايت د محمد بن سليمان نه مرسلا روايت کړي دي چې ما ابو عبدالله عليه السلام ته وويل: په توره ټوپۍ (خولۍ) کې زه لمونځ کولی شم؟ هغه وويل: په توره خولۍ کې لمونځ مه کوه دا د اور والا پوښاک دی[3].

په (من لا يحضره الفقيه) کې صدوق د اميرالمؤمنين عليه السلام نه مرسلا او په (العلل والخصال) او په (الوسائل) کې مسندا ذکر کړي دي چې خپلو

---

(١) الوسائل: (٣/٢٨٧)، حديث شمير (١). فروع الكافي د کليني ليکنه: (٦/٤٤٩).

(٢) الكافي: (٢/٢٠٥). باب لبس السواد، چاپ: طهران کال: ١٣١٥ هـ. خو دومره ده چې په دې چاپ کې له کساء نه د عمامې د کلمې ذکر مخکې راغلی دی.

(٣) الوسائل: (٣/٢٨١)، شلم باب او دريم حديث: أبواب لباس المصلي. من لايحضره الفقيه: (٢/٢٣٢) کې صدوق وايي: د صادق عليه السلام پوښتنه وشوه چې په توره خولۍ کې لمونځ کيږي؟ هغه ورته وويل: توره خولۍ د اور والا لباس دی لمونځ پکې مه کوه. د مزيدو معلوماتو لپاره وسائل الشيعة: (٣/٢٨١) وګوره.

ملګرو ته يې ویل: تور پوښاک مه اچوئ، دا د فرعون لباس دی.

په (الوسائل) کې د حذیفة بن منصور په روایت ورځخه بل روایت نقلوي چې زه په حیره کې د ابو عبدالله علیه‌السلام سره وم، د ابو العباس خلیفه استازی پسې راغی چې غواړي دې، هغه خپل لباس چې په باراني موسمونو کې د باران نه ځان ژغورنې لپاره استعمالیږي راوغوښت[١].

حتی چې د شیعګانو په ځینو روایتونو کې دا هم راغلي دي چې تور لباس يې د دښمنانو بنو العباس لباس دی:

صدوق په (من لا یحضره الفقیه) کې مرسلا روایت کوي چې جبریل علیه‌السلام نبي صلی‌الله‌علیه‌وسلم ته په تور لباس کې راغی، او ملا يې تړلې وه، خنجر يې پکې ایښې و، نبي صلی‌الله‌علیه‌وسلم ورته وویل: دا لا کوم لباس دی؟ هغه ورته وویل: دا ستا د عباس د تره زامنو لباس دی، نبي صلی‌الله‌علیه‌وسلم عباس ته ورغی او ورته يې وویل: ستا له بچو نه دې زما د بچو لپاره هلاکت وي، هغه ورته وویل: ای د الله رسوله! ایا نسل مې بند نه کړم؟ هغه ورته وویل: هغه څه کیږي چې قلم لیکلي وي.

د تېر شوو اخبارو او نصوصو له ظاهره دا معلومیږي چې د قیامت په ورځ به د همیشه لپاره په اور کې فرعون او هغه خلک وي چې د دې پل روان وي، لکه د عباسي خلفاوو په څېر سرغړونکي ډلې او قومونه، او ددې بې وسه او مرحوم امت ګرد کافران او نور هغه مخکني امتونه چې تور لباسونه به يې اچول[٢].

د تېر په څېر صدوق په (من لا یحضره الفقیه) کې پخپل سند د اسمعیل بن مسلم په روایت د صادق علیه‌السلام نه روایت کوي چې الله خپل یو پیغمبر ته وحي وکړه: مومنانو ته ووایه چې نه زما د دښمنانو لباس نه واغوندي او نه د هغوی خوراکونه وکړي او نه دې د هغوی په لاروځي، ورنه تاسو به مې هم

(١) من لا یحضره الفقیه: (٢٥١/١). الوسائل: (٢٧٨/٣)، او دوهم روایت په (الوسائل: ٢٧٩/٣، اووم نمبر حدیث) أبواب لباس المصلي. من لا یحضره الفقیه: (٢٥٢/٢). الکافي: (٢٠٥/٢).

(٢) من لا یحضره الفقیه: (٢٥٢/٢).

هغسې دښمنان شې لکه هغوی چې مې دښمنان دي[١].

د (حدائق) د کتاب په څېر (عیون الاخبار) کې یې همدغه روایت په بل سند له علي عليه السلام نه روایت کړی دی چې نبي کریم ﷺ فرمایي: د دښمنانو لباس تور دی، خوراک یې سرکه او نشې توکې، له وربشو څخه ویستل شوې نشه ي ماده، خاورې ختې، مارماهي، زمیر (په نوم ماهی) او د ماهیانو نور هغه ډولونه چې خارجي پوستکی ونه لري، هوسۍ، تر دې یې وویل: تهمت، شراب خوري، د ګپ شپ ناستې، هغه مجلسونه چې د ائمة عليهم السلام او مومنانو ته پکې ردې بدې ویل کیږي، دګناهګارانو، ظالمانو، او د تخریبکارو مجلسونه زمونږ د دښمنانو لارې دي[٢].

دتور لباس اړوند مذمت او قدح له دغې ګڼ شمیر راوایتونو وروسته چې دا یې د دښمنانو لباس دی:

- ولې یې شیعګان استعمالوي ؟
- ددغې لباس دومره تعظیم ولې کوي؟ تردې چې تور لباس د مشرتابه خلکو لباس بولي!!

٤٣ که څوک وغواړي چې شیعه شي، نو د شیعګانو په ګڼ شمیر مذهبونو کې به د کوم مذهب پیروکار وي؟ امامې، اسماعیلي، نصیري، زیدي، دروزي.. او که نور؟ او هر ډله کلک باور لري چې مونږ د اهل بیتو مذهب تمثیلوو، دهغوی په امامت اقرار کوي، صحابه کرامو ته سپورې ستغې وایي، او په دې کلک باوري دي چې علي رضي الله عنه امام دی امامت د دین رکن بولي او دا چې هغه خلیفه او ددین اصل او حقیقت د همدو سره دی.....!!

٤٤ اثناعشریه شیعګان د امامت ثبوت کې د کساء حدیث دلیل وړاندې کوي.

---

(١) من لا يحضره الفقيه: (٢٥٢/١). وسائل الشيعة: (٣٨٤/٤). بحار الأنوار: (٢٩١/٢، ٤٨/٢٨).

(٢) عيون الأخبار: (٢٦/١).

له دې څخه دا پوښتنه منځ ته راځې چې:

- په کساء کې خو فاطمة رضي الله عنها هم وه، ولې یې په امامت اقرار نه کوئ، او ولې د شیعګانو د امامانو په لسټ کې د ذکر قابل نه بلل کیږي؟!

٤٥ شیعګان عقیده لري چې د امام شرط دا دی چې مکلف به وي، یعنې بالغ او عاقل به وي.

- او دا د شیعګانو په کتابونو کې ثابته ده چې محمد عسکري په نوم د دوی غائب امام د پنځه یا درې کالو په موده کې غائب شوی دی، ولې یې په کم عمرې کې په امامت قائل دي؟!

٤٦ ایا له قران کریم پرته نور داسې کتابونه په نبي ﷺ باندې نازل شوي دي چې علي رضي الله عنه ته پرې ځانګړتیا ورکړل شوې ده؟

که تاسو وایئ چې نه دي نازل شوې نو خپلو لاندېنیو روایتونو ته څه ځواب وایئ:

١-: **الجامعة**:

د ابو بصیر نه روایت دی چې ابو عبدالله وایي ما ته محمد وویل: مونږ سره جامعه ده؟ دوی ته څه پته ده چې جامعه څه ته ویل کیږي؟!

هغه وویل: جامعه د نبي ﷺ په ګزونو اویا ګزه اوږده صحیفه ده، نبي ﷺ به ویل او علي رضي الله عنه په خپل ښی لاس د هغه ویناوې لیکلې، ټول حلال او حرام وریکې دي، دخلکو اړتیا وړ هر څه پکې شتون لري، حتی چې د زخم دیت هم وریکې شته دی...[١].

په (**د خلکو اړتیا وړ هر څه وریکې دي**) کې لږ سوچ وکړه چې:

- بیا نو ولې پټه پاتې شویده؟ او د وریکې ګټو او فایدو نه یې ولې بې برخې پاتې یو.؟!

ایا دا د علم پټولو کې نه راځي؟

(١) الکافي: (١/٢٣٩).

**٢-: د ناموس صحیفه:**

د علي بن موسی (الرضا) رضي الله عنه د امام مهدي په علاماتو کې روایت کوي، هغه وایې: د هغه سره کتاب دی چې د خپلې ډلې ټولو شیعګانو نومونه او تر قیامته پورې د ټولو دښمنانو نومونه پکې دي(١).

❂ مونږ وایو: دا لا څنګه صحیفه ده چې تر قیامته پکې د شیعګانو د ټولو دښمنانو نومونه شتون لري؟!

که په ایران کې د وسنې شیعګانو نومونه پکې ولیکل شي کم ازکم سل ټوکونه خو به وغواړي!!

**٣-: د عبیطه صحیفه:**

د امیر المؤمنین رضي الله عنه نه روایت کوي چې لوړه په رب لا یزال چې ما سره د نبي ﷺ او د اهل بیتو ډېرې صحیفې دي، عبیطه پکې د یوې صحیفې نوم دی چې د عربانو شپیته ناپاکه او پلیته قبیلې پکې دي، دا صحیفه په عربانو ډېره سخته تمامه ده او هغوی په دین کې هېڅ برخه نه لري(٢).

❂ مونږ وایو: دا روایت هېڅ قابل قبول نه دی او نه یې عقل صحت ایجابوي، که په رښتیا هم دغه قبیلې د الله په دین کې هېڅ برخه نه لري دا معنی ورکوي چې اوسمهال هر مسلمان له دین څخه بې برخې دی!!

او دوی عربان څومره په سختو غوڅو الفاظو کې یاد کړي دي چې د قومیت بدبوي ترینه راپورته کیږي.

**٤-: د ذؤابة السیف صحیفه:**

د ذؤابه السیف صحیفې متعلق ابو بصیر د ابو عبدالله رضي الله عنه نه روایت کوي

---

(١) بحار الأنوار: (٢٥/١١٧).

(٢) بحار الأنوار: (٢٦/٣٧).

چې د نبي ﷺ د تورې په پورته برخه (موټې) کې وړه صحيفه وه، هغه حروف (تورې) پکې و چې له هر حرف نه يې زر نور حرفونه راوتل.

ابو بصير وايي: ابو عبدالله بيا وويل: تر اوسه له دغې حروفو څخه دوه حرفونه ايله بېله راوتي دي(١).

۞ مونږ وايو: نور حروف څه شول؟!

ايا ښه خبره نه ده چې دغه حروف په دې خاطر راوويستل شي چې شيعګان ترې استفاده وکړي؟

او که نه تر هغه به دغه حروف پټ او پناه وي تر څو مهدي راشي؟؟! پېړۍ پېړۍ خلک به دغه شان له دين پرته ولاړ شي او دين به سرداب کې بندي پاتي وي؟!

**٥-: د علي صحيفة:**

دا بله صحيفه ده چې د نبي ﷺ د تورې په موټې کې لاس ته راغلې ده:

ابو عبدالله رضي الله عنه وايي:

د رسول الله ﷺ د تورې په موټې کې صحيفه ومونډل شوه ورپکې ليکل شوي و: «بسم الله الرحمن الرحيم، د قيامت په ورځ د الله پاک پر وړاندې لوی سرغړونکی هغه دی چې له قاتل پرته يې نور وژلي وي، هغه څوک وهي چې چا نه وي وهلی، له دوستانو پرته که څوک له نورو سره دوستانه وپالي نو د الله پاک له پلوه په محمد ﷺ نازل شوي کتابونو يې کفر وکړ، که په دين کې چا بدعت جوړ کړ يا يې مبتدع ته ځای ورکړ د قيامت په ورځ به ترې الله پاک هېڅ نېک عملونه قبول نه کړي(٢).

**٦-: جفر:**

جفر دوه ډوله لري: سپين جفر، سور جفر:

(١) بحار الأنوار: (٣٧/٢٦).
(٢) بحار الأنوار: (٦٥/٢٧).

ابو العلا وايي: ما د ابو عبدالله رضي الله عنه نه واورېدل ويل يې: ما سره سپين جفر دی.

ما ورته وويل: په سپين جفر کې څه دي؟

هغه وويل: په دې کې د داود زبور، د موسی تورات، د عيسی انجيل، د ابراهيم عليه السلام صحيفې او ټول حلال او حرام...، پکې دي، او ما سره سور جفر هم شته.

ما ورته وويل: په سور جفر کې څه دي؟

هغه وويل: په دې کې د هغه سلاح ده، د وينې د تويولو لپاره به يې د تورې څښتن بېرته کوي.

عبدالله بن ابي اليعفور ورته وويل: الله دې حافظ شه ايا حسن زو (د حسن رضي الله عنه بچو ته) ته د دې معلومات شته؟

هغه وويل: هو داسې يې پېژني لکه چې شپه د شپې او ورځ د ورځ په نوم پېژني، خو د کينې، دنياوي غوښتنو او انکار په نه منلو باعث کړي دي، خو که په رښتيا يې د حق پيروي کړې وه ډېره به ورله ښه او پسنده وه[١].

❁ مونږ وايو: لږ غور وکړئ: ايا د داود زبور، د موسی تورات، د عيسی انجيل، د ابراهيم عليه السلام صحيفې او حلال او حرام ټول په دې جفر کې دي؟

نو بيا يې ولې پټوئ؟!

**٧-: د فاطمې مصحف:**

أ-: علي بن سعيد د ابو عبدالله رضي الله عنه نه روايت کوي:

لوړه په رب لايزال چې مونږ سره د فاطمې مصحف هم شته چې د موجوده قران کريم يو ايت پکې هم نشته، او دا مصحف نبي صلى الله عليه وسلم املا او علي رضي الله عنه پخپل خط او لاس ليکلی دی[٢].

ب-: محمد بن مسلم له يو امام څخه روايت کوي چې: له فاطمې رضي الله عنها نه يو

(١) أصول الكافي: (٢٤/١).
(٢) بحار الأنوار: (٤١/٢٦).

مصحف پاتې شوی دی خو موجوده قران نه دی، بلکې د الله پاک کلام دی او هغې ته یې نازل کړی و، نبي ﷺ علي رضي الله عنه ته لوستلی او هغه لیکلی دی[(١)].

ج-: د علي بن ابي حمزة په روايت ابو عبدالله رضي الله عنه وايي:

مونږ سره د فاطمې هغه مصحف دی چې د موجوده قران یو حرف پکې هم نشته، دومره ده چې نبي ﷺ علي رضي الله عنه ته املا کړی او هغه پخپل خط لیکلی دی[(٢)].

که په رښتیا هم دغه مصحف د نبي ﷺ املا وي او علي رضي الله عنه په خپل لاس او خط لیکلی وی، بیا نو ولې یې له ګرد امت څخه پټ کړی دی؟!

سره له دې چې الله پاک خپل رسول ﷺ ته امر کړی دی چې ټول نازل شوي احکام بشریت ته ورسوه، الله پاک فرمايي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥ﴾ [المائدة: ٦٧]

- ایا د دې ایت له نزول وروسته نبي ﷺ د ټولو مسلمانانو نه دغه قران پټ ساتلی دی؟

- ایا د علي رضي الله عنه او له هغه نه وروسته امامانو سره دا ښائي چې له خپلو شیعګانو نه دغه قران پټ وساتي؟!

- ایا دا په امانت کې خیانت نه بلل کیږي؟!

**٨-: تورات، انجیل، زبور:**

له ابو عبدالله رضي الله عنه څخه نقلوي چې هغه به انجیل، تورات او زبور په سریانې ژبه لوستل[(٣)].

- مونږ وایو: امیر المؤمنین علي رضي الله عنه او ورڅخه وروستني امامانو تورات، انجیل او زبور ولې سره لاس په لاس یو له بله اخستل؟

(١) بحار الأنوار: (٣٦ /٤١).
(٢) بحار الأنوار: (٣٦/٤٨).
(٣) أصول الكافي: (١/٢٢٧).

او د پټ لوستلو موخه یې څه وه؟

سره له دې چې شیعي روایتونه تاییدوی چې علي ﷺ د ټول قران په شمول ټول اسماني کتابونه او صحیفې په یادو ضبط کړې وې، بیا نو تورات او انجیل او زبور ته څه اړتیا لیدل کېده؟ او په ځانګړي توګه چې لا په دې هم عقیده ولرو چې په قران کریم ګرد مخکنې اسماني کتابونه نسخ شوي دي.

**له دې ټولو وروسته مونږ وایو:** مونږ ډېر ښه پوهېږو چې اسلام د قران کریم په نوم یو کتاب لري او بس، په دین کې د ګڼ شمېر کتابونو عقیده لرل د یهودانو ځانګړنه ده، او دا د هغوی په کتابونو کې هم خورا څرګند دي.

٤٧ هغه مهال نبي ﷺ ولې ځان په خپېړو ونه وهو چې ابراهیم زوي یې وفات شو؟

او کوم مهال چې فاطمة ﷺ وفات شوه ولې علي ﷺ ځان په سوکانو او څپېړو ونه وهو؟!

٤٨ د شیعګانو زیاتره علماء او په ځانګړي توګه د ایران علماء په عربۍ ژبه نه پوهیږي، هغوی د الله د کتاب او نبوي سنتو څخه څنګه کولای شي د احکامو استنباطات وکړي؟!

هېره دې نه وي چې په عربۍ ژبې علم لرل د عالم له اړتیاو څخه یوه اړتیا ده.

٤٩ شیعګان عقیده لري چې د لږ شمیر پرته نور ټول صحابه منافقین یا کافران وو.

- که ربښتیا هم داسې وي نو دغې ډېرو کافرانو په لږ شمیر چې د نبي ﷺ سره وو، ولې له منځه نه وړل؟!

او که دوی وایي چې نا د نبي ﷺ له مړیني وروسته له اوو نفرو پرته ټول کافر او مرتد شوي دي.

- بیا نو دغې ډېرو خلکو ولې په پاتو لږ شمېر د نیست او نابود لپاره اقدام نه

کو، ترڅو حالت بيرته هغه ځېر شي په کوم چې يې نيکونه او پلرونه وو؟

❁ ايا عقل ايجابوي چې نبي ﷺ د ملګرو په غورچاڼ کې پاتې راغلی دی؟ او برعکس خميني د ملګرو په غور چاڼ کې کامياب راغلی دی؟!

**٥٠** د شيعګانو د څلور ګونې کتابونو له جملې څخه د (تهذيب الأحکام)[١] نوم کتاب په مقدمه کې د شيعګانو خورا لوي عالم ابو جعفر محمد بن الحسن الطوسي وايي: حق پروردګار چې د حمد او ثنا مستحق دی ورلره حمد او ثنا ده، او د هغه په غوره مخلوق محمد ﷺ باندې دې درودونه وي، زمونږ د علماوو د روايت کړي حديثونو ترمنځ مخالفتونو او منځني ټکراو اړوند راسره يو ملګري خبرې شريکې کړې چې زمونږ مرحومينو سلفو چې څومره حديثونه روايت کړي دي ضرور يې په مقابل کې ضد او ټکراو شته، هيڅ متفق بينهما حديثونه شتون نه لري، له دې کبله راباندې مخالفينو کلکې نيوکې او په مذهب کې يې لوي طعن بللی دی.....

اثناعشري شيعي سيد دلدار علي لکهنوي په اساس الأصول[٢] کې وايي: له امامانو څخه ماثور حديثونه سره خپلمنځنی ډېر اختلاف لري، هيڅ حديث نشته مګر ضد او ټکراو لري، هيڅ خبر نشته مګر په مقابل کې هرومرو بل خبر لري، ددې اختلافاتو له کبله ځينې ناقصو افرادو له شيعيت څخه ستنېدل غوره کړل.

د شيعګانو لوي عالم او ستر محقق او حکيم، لوي خيړنپوهه حسين بن شهاب الدين کردوي په خپل کتاب (هداية الأبرار الى طريق الأئمة الأطهار[٣] کې وايي: په دې موخه چې د تهذيب په مقدمه کې يې ذکر کړي دي چې دغه کتاب يې د احاديثو او اخبارو ترمنځ تناقض او مخالفتونو له کبله نويشته کړ دغې تضادونو زيات وکړي د تشيع مذهب پرېښودو ته اړ کړل.

---

(١) تهذيب الأحکام: (٤٥/١).

(٢) أساس الأصول: (٥١). چاپ: لکهنو هند.

(٣) هداية الأطهار: (١٦٤) لومړی چاپ ١٣٩٦ هـ.

۞ مونږ وايو: د شیعیت د مذهب خپلمنځني تناقض باندې خو يې علماوو خپله غوڅ اقرار وکړ(١) او الله پاک هم د باطل په باره کې وايي

﴿وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا ﴾ [النساء:٨٢]

**ژباړه: که قران کریم د بل چا له اړخه وای نو دوی به پکې ډېر منځني اختلافات او تضادونه لیدلی وی.**

٥١ شیعګان وايي: په حسین ویر او ژړا کول مستحب دي!

۞ ایا دغه استحباب په دلیل بنا دی که په هواپرستۍ بنا دی؟

۞ که په دلیل بنا وي، دلیل کوم دی؟

د اهل بیت هغه امامان چې تاسو يې ځانونه پیروان بولئ چا پکې په حسین ویر او ژړا کړې ده؟!

٥٢ شیعګان عقیده لري چې علي ﷛ د خپل ځوي حسین ﷛ نه غوره او بهتره دی، که رښتیاهم دغه ستاسو عقیده وي بیا نو ولې د علي ﷛ په مړینه د ویر او ژړا ماتمونه نه کوئ، لکه د هغه په ځوي چې يې کوئ؟!

ایا نبي ﷺ له دغې دواړو نه بهتر او غوره نه و؟

په نبي ﷺ باندې ولې ژړاګانې نه کوئ؟!

٥٣ که د علي ﷛ او ورځخه وروسته يې د بچیانو ولایت په رښتیا هم دیني رکن وی، چې که څوک يې په ولایت عقیده ونه لري ایمان يې لغوه دی او د خپل کفر له کبله به په جهنم کې د همیشه او تل لپاره وي، اګر که د الله پاک په الوهیت او د محمد ﷺ په رسالت ګواهي هم ورکړي، لمونځ هم وکړي او زکات هم ورکړي، روژه هم ونیسي او حج هم کوي نو:

(١) أصول مذهب الشيعة الامامية الاثني عشرية: د قفاري ليکنه: (٤١٨/١).

۞ په قران کريم کې پرې تصريح ولې نشته؟!

بلکې قران کريم خو له دغې پرته په نورو ارکانو او واجباتو غږېدلی دی لکه: لمونځ، زکات، روژه، حج، حتی قرانکريم په مباحاتو هم غږېدلی دی لکه: ښکارکول د مثال په توګه.

ستاسو د عقيدې دومره لوی رکن چې ساری نه لري قران ترې ولې خاموش پاتې شوی دی؟!!!

٥٤ د شيعګانو په عقيده که رښتيا هم د صحابه کرامو ﷺ ټولنه د حسد او د يو بل سره په کرکه او نفرت بنا وه او هر څا غوښتل چې واک او خلافت څنګه ترلاسه کړي، کم شمېر خلک پکې په ايمان ولاړ وو او بس، بيا نو ولې مونږ وينو چې دغه مهال اسلام د شرافت او مجد په خورا لوړه رتبه کې و، ګڼ شمير فتوحات يې ترلاسه کړل او په زرهاو خلکو د صحابه کرامو ﷺ په دور کې په اسلام مشرف شول؟؟؟

٥٥ الله د جمعې د ورځې د لمونځ باره کې فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴾ [الجمعة: ٩]

**ژباړه: ای هغه خلکو چې ايمان مو راوړی دی چې د جمعې د ورځې لپاره کله اذان وکړی شي نو د الله پاک ياد او ذکر ته په تېزۍ سره ولاړ شئ، او هر ډول پلورل او پېرل پرېږدئ، دا ستاسو لپاره بهتره ده که چرته تاسو پوهېږئ.**

د سورت جمعې په دې ايت کې د جمعې د ورځې په لمونځ غوښه تصريح راغلی ده شيعګان ولې د جمعې د ورځې لمونځ نه کوي؟!

که هغوی وايي: مونږ د جمعې د ورځې لمونځ تر هغه دمه وروسته کوو تر څو مهدي راشي!

۞ مونږ وايو: ايا ستاسو دغه انتظار تاسو ته دا روا کوي چې دومره لوی ديني امر وروسته کوئ؟!

له سلګونو زرو نه زیات شیعګان مړه شوي دي او دغه لویه دیني شعیره د بې بنسټه شیطاني عذر له کبله پرېښه ده.

٥٦ شیعګان عقیده لري چې د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په لاس د قرانکریم په ایتونو کې تغییر او ځینې نوره برخه یې بیخي حذف شوې ده.

په دې هکله له ابوجعفر نه روایت کوي چې ورته ووېل شول: علي رضي الله عنه ته ولې امیرالمؤمنین ویل کیږي؟

هغه ووېل: الله ورته امیر المؤمنین ویلي دي، الله په قرانکریم وایي ﴿وإذْ أخذَ رَبُّكَ مِن بَنِي آدَمَ من ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُوْلِيْ وَ أَنَّ عَلِيّاً أَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾. (١)

کلیني د دې ایت په تفسیر کې فرمایي ﴿فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ﴾ هغه خلک چې ایمان ورباندې لري (یعني په امام باندې)

﴿وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ [الأعراف: ١٥٧]

(یعنې هغه خلک چې د جبت او طاغوت له عبادت څخه ځان ژغوري، له جبت او طاغوت نه فلانکی او فلانکی مراد دي)(٢)

مجلسي وایي: (له فلانکي او فلانکي نه ابوبکر او عمر مراد دي)(٣) له همدې کبله شیعګان دواړو ته شیطانان هم وایي -نعوذ بالله-

شیعګان د الله پاک د دې قول:

﴿لَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِ﴾ [نور: ٢١]

**په تفسیر کې وایي: قسم په الله چې له خطوات الشیطان نه مراد فلانکي او**

(١) أصول الكافي: (٤١٢/١). او صحیح ایت داسې دی: ﴿وَإِذۡ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمۡ ذُرِّيَّتَهُمۡ وَأَشۡهَدَهُمۡ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمۡ أَلَسۡتُ بِرَبِّكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدۡنَآۚ أَن تَقُولُواْ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ إِنَّا كُنَّا عَنۡ هَٰذَا غَٰفِلِينَ﴾ [أعراف: ١٧٢]. ژباړن.

(٢) أصول الكافي: (٤٢٩/١).

(٣) بحارالأنوار: (٣٠٦/٢٣).

**فلانکي سره مینه ده**[١].

شیعګان روایت کوي چې ابو عبدالله عليه السلام وايي: دا ایت داسې نازل شوی دی ﴿**وَمَنْ يُطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهُ فِيْ وِلاَيَةِ عَلِيٍّ وَ وِلاَيَةِ الأَئِمَّةِ مِنْ بَعْدِهِ فَقَدْ فَازَ فَوْزاً عَظِيْمًا**﴾.[٢]

شیعګان د ابو جعفر نه روایت کوي چې هغه وايي: جبرائیل عليه السلام نبي صلى الله عليه وسلم ته دا ایت داسې نازل کړی دی ﴿**بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهِ أَنفُسَهُمْ أَن يَكْفُرُوا بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فِيْ عَلِيٍّ بَغْيًا**﴾[٣]

له جابر څخه روایت دي وايي: جبریل عليه السلام رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دا ایت داسې راوړی و ﴿**وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَى عَبْدِنَا فِيْ عَلِيٍّ فَأْتُوْا بِسُوْرَةٍ مِنْ مِثْلِه**﴾[٤].

شیعګان د ابو عبدالله عليه السلام نه نقلوي چې نبي صلى الله عليه وسلم ته جبرائیل عليه السلام دا ایت داسې نازل کړی و: ﴿**يَا أَيُّهَاالَّذِيْنَ أُوْتُوْا الْكِتَابَ آمِنُوْا بِمَا نَزَّلْنَا فِيْ عَلِيٍّ نُوْراً مُبِيْناً**﴾[٥].

محمد بن سنان د علي بن موسی (الرضا) عليه السلام نه نقلوي چې په مخطوط کتاب کې دا ایت داسې دی: ﴿**كَبُرَ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ بِوِلاَيَةِ عَلِيٍّ مَا تَدْعُوْهُمْ إِلَيْهِ يَا مُحَمَّدُ وِلاَيَةَ عَلِيٍّ**﴾[٦].

د ابو عبدالله عليه السلام نه شیعګان روایت کوي چې هغه وايي: لوړه په رب لایزال چې جبریل عليه السلام دا ایت نبي کریم صلى الله عليه وسلم ته داسې راوړی و: ﴿**سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَاقِعٍ ۝ لِلْكَافِرِيْنَ بِوِلاَيَةِ عَلِيٍّ لَيْسَ لَهُ دَافِعٌ**﴾[٧]

(١) تفسیر العیاشي: (١/٢١٤). تفسیر الصافي: (١/٢٤٢ ٩).
(٢) أصول الكافي: (١/٤١٤).
(٣) أصول الكافي: (١/٤١٧).
(٤) شرح أصول الكافي: (٧/٦٦).
(٥) شرح أصول الكافي: (٧/٦٦).
(٦) شرح أصول الكافي: (٥/٣٠١).
(٧) أصول الكافي: (١/٤٢٢).

د ابو جعفر څخه روایت کوي چې په نبي کریم ﷺ جبریل علیه السلام دا ایت داسې نازل کړی و: ﴿فَبَدَّلَ الَّذينَ ظَلَمُوْا آلَ مُحَمَّد حَقَّهُمْ قَوْلاً غَيرَ الَّذيْ قِيْلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوْا آلَ مُحَمَّدٍ حَقَّهُمْ رِجْزاً مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوْا يُفْسُقُوْنَ﴾[1]

شیعګان وایي: له أبو جعفر څخه روایت دی چې: جبریل -علیه الصلاة والسلام- په نبي کریم -صلی الله علیه وسلم- باندې دا ایت داسې نازل کړی و: ﴿إِنَّ الَّذيْنَ ظَلَمُوْا آلَ مُحَمَّدٍ حَقَّهُمْ لَمْ يَكُنِ اللهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلاَ لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقاً ❖ إِلاَّ طَرِيْقَ جَهَنَّمَ﴾.

بیا یې وویل: ﴿يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمْ الرَّسُوْلُ بِالْحَقِّ مِنْ رَّبِكُمْ فِيْ وِلاَيَةِ عَلِيٍّ فَآمِنُوْا خَيْراً لَّكُمْ وَإِنْ تَكْفُرُوْا بِوِلاَيَةِ عَلِيٍّ فَإِنَّ لِلهِ مَا فِيْ السَّمٰوَاتِ وَمَا فِيْ الأَرْضِ﴾[2].

شیعګان عقیده لري چې د علي رضي الله عنه په امامت کې دغه ایتونه صراحة دلالت کوي خو ابوبکر او عمر رضي الله عنهما تحریف او ردو بدل کړي دي.

❁ دلته شیعګانو ته دوه سختریني پوښتنې متوجه کیږي:

**لومړی پوښتنه:** که په رښتیا ابوبکر او عمر رضي الله عنهما دغه ایتونه تحریف او تبدیل کړي وی علي رضي الله عنه د خپل واک او خلافت په دور کې ولې دغه خبره نه څرګندوله؟! یا کم ازکم دغه ایتونه چې څنګه نازل شوي وو، باید بیان کړي یې وای!

نابلکې د علي رضي الله عنه د خلافت په دور کې قرانکریم په هغه څېر پاتې شو ی و چې څنګه د مخکني خلفاوو په دور خلافت کې او څنګه چې د نبي ﷺ په دور حیات کې و، وجه دا ده چې د قرانکریم د حفاظت ذمه واري خپله الله پاک اخستې ده، خو شیعګان عقل نه لري، الله پاک فرمايي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾ [الحجر: ٩]

(١) أصول الكافي: (١/٤٢٣).

(٢) أصول الكافي: (١/٤٢٤).

**ژباړه: مونږ ذکر (قران کريم) نازل کړی دی او مونږ يې حفاظت او ساتنه کو.**

**دوهمه پوښتنه:** شيعګانو ته دا متوجه کيږي چې کوم ايتونه چې شيعګانو د علي ﷛ د امامت د ثبوت لپاره تحريف کړي دي، په ډاګه له ايتونو څخه خپله بريښي چې هيڅکله نه شي شته کيدای!!

که تاسو لږ غور وکړئ نو لومړی ايت د يهودانو اړوند دی او دوی په مسلمانانو چسپاند کړی دی!

﴿فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوْا آلَ مُحَمَّد حَقَّهُمْ قَوْلاً غَيْرَ الَّذِيْ قِيْلَ لَهُمْ فَأَنْزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوْا آلَ مُحَمَّدٍ حَقَّهُمْ رِجْزاً مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوْا يُفْسُقُوْنَ﴾

- علي او اهل بيت ﷺ څنګه د داسې حق مطالبه کله کوي چې قرانکريم خبر کړي دي چې حق به يې غصب کيږي او دغه هرومرو واقع کيږي؟

او مسلمانان به هم د علي ولايت او وصايت دواړه نه مني او نه به د رسول الله ﷺ نه وروسته خليفه وي؟!

- د ال محمد ﷺ سره د ظلم او استبداد چې خلافت غصبول دي، په ايت کې مذکوره عذاب په ظالمانو کله راغلی دی؟

ټولو ته پته ده چې هيڅکله دغسې نه دي شوي، حو حقيقتا دا د شيعګانو له پلوه د ايتونو تحريف دی چې الله پرې رسوا کړل.

٥٧ له ابو الحسن څخه شيعګان د الله پاک په دې قول کې روايت کوي چې

﴿يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ﴾ [الصف: ٨]

دوی غواړي چې د الله نور (رڼا) د خولو په پوکو باندې ختمه او له منځه يوسي.

شيعګان وايي: ابو الحسن ويلي دي: په ايت کې له [**نُوْر**] نه مراد د امير المؤمنين ولايت دی.

او ﴿وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ﴾ [الصف: ٨]
نه مراد امامت دی چې الله پاک به يې پوره کوي، ځکه چې الله پاک بل ځای کې فرمايي:

﴿فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَٱلنُّورِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلۡنَا﴾ [التغابن: ٨]

په الله پاک او د هغه په رسول او هغه رڼا باندې ايمان راوړئ چې مونږ نازله کړې ده.

دوي وايي چې ابوالحسن ويلي دي: قسم په الله چې له [نُوْر] نه مراد د نبوت د کورنۍ امامان دي[1].

۞ پوښتنه دا منځ ته راځي چې ايا الله پاک خپله رڼا د اسلام په نشر و اشاعت بشپړه کړه او که اهل بيتو ته په ولايت او وصايت او خلافت په ورکولو باندې؟!

٥٨ ستاسو د شيعګانو د عقيدې په بنسټ مونږ يواځې دوه امامان علي او حسن رضي الله عنهما ګورو چې خلافت يې کړی دی، په نورو لسو امامانو باندې د نور او رڼا اتمام له کومه راغی؟!

٥٩ د شيعګانو کتابونه روايت کوي چې:

۞ يوې ښځې له ابو جعفر څخه د ابوبکر او عمر اړوند وپوښتل چې ايا زه ورسره مينه او محبت کولای شم؟!

هغه ورته وويل: هو مينه او محبت ورسره وکړه.

ښځې ورته وويل: چې کله مې د رب لايزال سره ملاقات وشي تا به ورته يادوم چې دې راته ويلي و چې مينه ورسره وکړه؟!

هغه ورته وويل: هو ما ورته ياد کړه[2].

(١) الكافي: (١/١٤٩).
(٢) روضة الكافي: (٨/١٠١).

ستاسو کتابونه دا هم روايت کوي چې امام باقر ابوبکر ﷺ په صديق ياد کړ، ملګري يې ترې تعجب وکړ چې ته هم ورته صديق وايې؟!!

هغه ورته وويل: هو صديق، څوک چې ابوبکر ﷺ ته صديق نه وايي په اخرت کې دې الله درغجن کړي[1].

اوس نو شيعګان د ابوبکر ﷺ اړوند څه وايي؟

٦٠ په «مقاتل الطالبين»[2] کې ابوالفرج اصفهاني او اربلي په «کشف الغمه»[3] کې، مجلسي په «جلاء العيون»[4] کې ذکر کړي دي چې په کربلاء کې د حسين ﷺ سره خپل ورور ابوبکر بن علي بن ابي طالب او ځوي يې ابوبکر بن الحسين او ابوبکر محمد الاصغر هم وژل شوي وو.

شيعګان له مذکوره شهداوو پرته ولې په ځانګړي توګه په حسين ﷺ ماتم کوي او د نورو بيخي نوم نه يادوي؟!

لامل دا دی چې د حسين ﷺ د ورور او ځوي نومونه (ابوبکر) وو.

شيعګان نه غواړي چې مسلمانان او د هغوی شيعه پيروکار له دې څخه خبر شي، ځکه ددغې شهيدانو نومونه يادول شيعګان په ټپه شرموي او دروغ يې خلکو ته څرګندوي چې د ال البيت او د صحابه کرامو ترمنځ چې په سر کې يې ابوبکر ﷺ واقع دی هيڅ ډول عداوت نه و، که د شيعګانو په عقيده رښتيا هم هغه کافر يا مرتد وای، يا يې د علي ﷺ حق غصب کړی وای، نو اهل بيت به يې نومونه پخپلو بچو نه کېښودل!

که شيعګان په رښتيا د علي او حسين ﷺ پيروکار وي ولې په خپلو بچو د (ابوبکر) نوم نه ږدي؟!

(١) کشف الغمة: (٢/٣٦٠).

(٢) مقاتل الطالبين: (٨٨، ١٤٢، ١٨٨) چاپ بيروت.

(٣) کشف الغمة: (٢/٦٦).

(٤) جلاء العيون: (٥٨٢).

٦١ د رسول الله ﷺ په ختم نبوت عقيدې لرلو باندې د هغه په ژوند او مړينه دواړو حالتونو کې هدف ترلاسه کېداى شي، که د چا په زړه کې دا عقيده وي چې محمد ﷺ د الله رښتنی پیغمبر دی، پېروکاري يې واجب ده، او د امکان په صورت کې يې د هغه تابعداري وکړه، که په دې عقيدې هغه جنت ته ځي نو د امامت له مسئلې څخه غني او ورته هېڅ اړتيا نه لري، او نه هم د رسول الله ﷺ له پیروۍ څخه د بل چا پيروي ته غاړه ږدي، او که څوک ورته ووايي چې جنت ته تر هغه نه شې تللی تر څو په امامت عقيده ونه لرې، نو دا د قراني ايتونو ضد او تکراو خبره ده، د قرانکريم په ګڼ شمېر ايتونو کې الله پاک په غوڅو الفاظو ويلي دي چې جنت ته هغه څوک تلاى شي چې د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ سم دم پيروکار وي، جنت ته ننوتل الله پاک د امام د پيروکارۍ پورې نه دي معلق کړي، د بېلګې په توګه الله پاک فرمايي

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَ فَأُوْلَـٰٓئِكَ مَعَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِم مِّنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ وَٱلصِّدِّيقِينَ وَٱلشُّهَدَآءِ وَٱلصَّـٰلِحِينَۚ وَحَسُنَ أُوْلَـٰٓئِكَ رَفِيقٗا﴾ [النساء: ٦٩]

**ژباړه: د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ پيروي چې هر څوک وکړي هغوی به د هغو خلکو په ملتيا کې وي چې الله پاک ورباندې انعام او ځانګړی فضل کړی دی، د پيغمبرانو، د رښتينيو خلکو، د شهيدانو، د نيک او صالحه خلکو سره به وي او د ملګرتيا په لحاظ دوی ډېر زيات ښه دي.**

او الله پاک فرمايي:

﴿وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ يُدۡخِلۡهُ جَنَّـٰتٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَـٰرُ خَـٰلِدِينَ فِيهَاۚ وَذَٰلِكَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴾ [النساء: ١٣]

**ژباړه: د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ پيروي چې څوک وکړي هغې جنتونو ته به يې بوځي چې لاندې ورڅخه نهرونه بهيږي د تل او همېشه لپاره به پکې وي او دغه جنتونو ته تلل ډېره لويه کاميابي ده.**

که امامت د ايمان يا کفر اصل وای، يا د شيعګانو په عقيده د دين هغه رکن

وای چې پرته یې الله پاک هیڅ عمل نه قبلوي، نو په دغو ایتونو کې به یې د نورو په څېر په تاکیداتو ذکر کړی وی، سره له دې چې الله پاک په دې پوهېده چې د خلکو ترمنځ به وروسته منځنې اختلافات هرومرو راځي، ګومان نه کوم که داسې څوک به هم وي چې ووايي د امامت ذکر د مذکوره ایتونو د الله پاک او د هغه د رسول ﷺ د پېروکارۍ په ترڅ کې شته، ځکه دغسې خبرې د ایت په تفسیر کې ظلم او تعدا ده، د ناروا او بطلان لپاره یې هم دومره بسنه کوي چې د نبي ﷺ پېروکاري پخپله د الله پاک اطاعت دی، او بیا هم الله پاک د رسول اطاعت په خپل اطاعت او پیروکارۍ کې ونه نویست، بلکې مستقل ذکر یې ورله په دې خاطر وکړ چې دواړه (د الله اطاعت، د رسول الله اطاعت) د اسلامي عقیدې دوه مهم رکنونه دي، خو د نبي ﷺ پیروکاري یې د الله پاک د پیروکارۍ نه وروسته جنت ته دد خول شرط په څېر ګرځولی ده، ځکه چې نبي ﷺ د الله پاک له پلوه مبلِّغ دی، نو د رسول خبره داسې شوه لکه د الله پاک خبره منل، او نه هم د رسول الله ﷺ نه وروسته د بل چا لپاره د دې ثبوت شته چې د الله پاک له پلوه خلکو ته مبلِّغ او راستول شوی وي، د هر چا د خبرې منلو پرته الله پاک جنت ته تلل او په جنت فائز کېدل د رسول الله ﷺ د اطاعت او د هغه د پیروۍ کولو سره معلق کړي دي.

٦٢ د نبي کریم ﷺ په دور حیات کې داسې صحابه کرام شتون لري چې یوځل یې ایله بیله لیدلی او بېرته خپلو کورونو ته ستانه شوي دي او په دې کې شک نشته چې دوی د نبي ﷺ نه د علي رضي‌الله‌عنه او دهغه د بچو د ولایت اړوند هیڅ هم نه دي اورېدلي، پوښتنه دا ده چې ایا د دوی دین ناقص دی؟

که تاسو وایئ چې ایمان یې ناقص دی مونږ وایو: د نبي ﷺ سره ډېر لائق او مناسب دا و چې لومړی یې ددغې خلکو اسلام تصحیح کړی وی او ورته یې د دوی د امامت په بشپړه توګه توضیحات او تشریحات کړی وی، خو مونږ چې وینو رسول الله ﷺ دغه کارونه نه دي کړي.

٦٣ په «نهج البلاغة» کتاب چې ټول شیعګان یې په احترام قایل دي په کې راغلي دي: د امیرالمؤمنین علیه‌السلام معاویه ته یوه لیکنه دا وه:

«ما سره هغو خلكو په خلافت بیعت كړى دى چا چې د ابوبكر، عمر، عثمان رضي الله عنهم سره يې بيعت كړى وو، حاضر سره نه ښايي چې بل څه اختيار كړي او غائب سره نه ښايي چې انكار وكړي، خبره د مهاجرينو او انصارو ترمنځ سلا او مشوره ده، دوي چې په چا راغونډ شي او امام يې وګماري دا به د الله رضا وي، كه له بيعت څخه څوک د طعن تور يا د بدعت له لارې ووځي دوى به يې په نيكه توګه او ښه رويه حق ته بيرته راستنوي، او كه يې غوږ انكار كاو د حق په پيروۍ به ورسره جنګ كوي.

اى معاوية! كه لږ په غور او سوچ وګورې او له هوا پرستۍ څخه ځان وژغورې درته به جوته شي چې د عثمان رضي الله عنه په وينه كې هيڅ لاس نه لرم او زه دغه مهال له عثمان څخه لرې او پناه وم، خو كه هسې ليونتوب كوې نو ستا خوښه ده، و السلام»(١).

دا نص په دې دلالت كوي چې:

- د امام ټاكل به مهاجرين او انصار كوي، د ديني اركانو سره امامت هيڅ ډول اړيكې نه لري لكه كومه دعوه چې شيعګان كوي.
- په كوم ډول چې د ابوبكر، عمر، او عثمان رضي الله عنهم سره بيعت شوى و، په هغه ډول د علي رضي الله عنه سره هم بيعت شوى دى.
- مهاجرين او انصار به سره خپلمنځنۍ مشورې او سلاګانې كوي، دا د هغوى په بهترۍ او غوره والي ستر دلالت كوي برعكس دا قول يې د شيعګانو د مذهب سره له بل پلوه كلك تعارض او ټينګ مخالفت هم لري.
- مهاجرين او انصار چې د چا په بيعت راضي او خوښ شول دا معنى وركوي چې الله پاک هم په دغې خوشحاله او خوښ دى، جوته شوه چې

(١) صفوة شروح نهج البلاغة: (٥٩٣).

هیڅکله هم د امامت حقوق نه دي غصب شوې لکه شیعګان چې کومې دعوې کوي، ورنه بیا څنګه الله پاک په دغې راضي او خوښ ګڼلی شي؟!

✿ شیعګان معاویه ﷺ ته سپکې سپورې وايي خو ولې علي ﷺ ورته په هیڅ لیک کې هم کنځاوې او سپورې ستغې نه دي ویلې.

٦٤ شیعګان هیڅکله هم انکار نه شي کولای چې ابوبکر، عمر او عثمان ﷺ د ونې لاندې رسول الله ﷺ سره بیعت نه دی کړی.

او الله پاک له دغې ټولو بیعت کونکو څخه راضي او په زړونو یې خبر دی[1] بیانو د شیعګانو سره څنګه ښايي چې د الله پاک په ورکړې خبر باندې کفر کوي او د ایت ضد عقیده لري؟

داسې بریښي چې دوي ګڼي الله پاک ته وايي: ای الله! مونږ چې پرې څومره خبر یو دومره پرې ته نه پوهیږې، العیاذ بالله.

٦٥ شیعګان ځانونه الله پاک ته د صحابه کرامو چې په سر کې یې خلفاء راشدین واقع دي په کنځاو او طعن تشنیع نزدې کوي، برعکس هیڅ سني هم اهل بیت ونه کنځل بلکې دوی سره په مینه محبت الله پاک ته ځانونه نزدې کوي، او له دې څخه شیعګان حتی په دروغو هم انکار نه شي کولی.

٦٦ د حسین ﷺ اړوند شیعګان بار بار تکراروي چې د جنګ په میدان کې تږی او سپور ستونی مړ شوی دی، له دې کبله د اوبو په ټېنکیو لیکي چې [**اوبه وڅښته خو د حسین تنده رایاده کړه**].

✿ پوښتنه دا پیدا کیږي چې امامان خو -د شیعګانو د عقیدې په بنسټ- په غیبو او پټو پناه کارونو پوهیږي، نو د جنګ په روانه لړۍ کې حسین ﷺ ته د خپلې تندې معلومات نه و؟! چې له تندې څخه به مړ کیږي؟! ولې یې د جنګ میدان ته د ځان سره د اړتیا وړ اوبه نه وړلې؟!

(١) الله پاک فرمايي: ﴿لَّقَدۡ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذۡ يُبَايِعُونَكَ تَحۡتَ ٱلشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمۡ فَأَنزَلَ ٱلسَّكِينَةَ عَلَيۡهِمۡ وَأَثَٰبَهُمۡ فَتۡحٗا قَرِيبٗا﴾ [الفتح: ١٨].

هغوی ته د جنګ په دروان کې اوبه ورکول د اسبابو استعمال نه و؟!

او الله پاک خو فرمايي:

﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ﴾ [الأنفال: ٦٠]

**ژباړه: ستاسو د توان په اندازه د مسلمانانو لپاره جنګي وسایل او اسباب او د اسونو ځغلول چمتو کړئ چې خپل او د الله پاک دښمنان پرې ویروئ.**

٦٧ د الله پاک د دې قول په اساس:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ﴾ [المائدة: ٣]

**ستاسو لپاره مې ستاسو دین نن پوره او مکمل کړی دی.**

او د شیعګانو مذهب د نبي ﷺ له مړيني او وفات څخه وروسته راپیدا شوی دی.

٦٨ د افک په خورا مشهوره واقعه کې الله پاک د عایشې رضي الله عنها براءت نازل کړی دی او ورباندې د لګیدلي تور څخه یې پاکه بولې ده، خو برعکس شیعګان یې -نعوذ بالله- تر نن ورځ پورې په خیانت تورنوي[1] او له بل پلوه په نبي ﷺ کې هم طعن دی، او په پیغمبر کې طعن د الله پاک په ذات کې چې په ګردو غیبو یې علم دی د طعن اقرار دی، چې هغه خپل رسول ته د دې وحې نه ده کړې چې ښځې یې ورسره خیانت کړی دی.

څومره بد او ناوړه مذهب دی چې د خيرالبشر د بې بیانو او امهات المؤمنینو باندې پکې تورونه لګول کیږي.

٦٩ که علي او دواړو بچو یې رضي الله عنهم تولو داسې خوارق عادت کارونه لرل چې د مرګ نه وروسته هم ورته خیر او فایده رسوي لکه د شیعګانو کتابونه چې یې روایت کوي، ولې یې په ژوندینه خپلو ځانونو ته خیر او فایده نه رسوله؟

(١) تفسیر القمي: (٢/٣٧٧). البرهان د بحراني لیکنه: (٤/٣٥٨).

که علي رضی الله عنه ته ځېر شو خلافت یې له فتنو څخه په اضطراباتو کې و او خپله هم د بل له لاسه ومړ.

او که حسن رضی الله عنه ته وګورو هغه هم د ډېرې مجبورۍ له امله معاویه رضی الله عنه ته له خلافت څخه تنازل وکړ.

او حسین رضی الله عنه هم د تنګۍ دومره حد ته ورسېد چې بالاخره ورته مرګ راغی او خپلې موخې ته ونه رسېد، داسې وروستني نور هغه خلک چې شیعګان یې په امامت عقیده لري!

هغوی ته خارق عاداتو ولې فایده ونه رسوله؟!!

٧٠ شیعګان انګیري چې د شیعګانو د روایتونو له مخې د علي رضی الله عنه بهترې او په امامت نصوص متواتر دي.

مونږ وایو: هغه شیعګان چې د صحابه کرامو له زُمرې څخه نه دي چې نه خو یې نبي صلی الله علیه وسلم لیدلی دی او نه یې ورله خبرې اورېدلې دي، که صحابه کرامو ته خپل روایتونه مسند ذکر نه کړي، ګرد روایتونه یې مرسل منقطع دي، برعکس هغه صحابه کرام چې شیعګان یې په صحیح عقیدې اقرار کوي څه د پاسه لس یا زیات او کم صحابه دي، او له هغوی څخه هېڅ چرته هم متواتر نقل ثبوت نه لري!

بیا نو هغه صحابه کرام چې د علي رضی الله عنه فضائل او خیریت یې په تواتر سره روایت کړی، ولې پرې شیعګان عقیدوي تورونه او تهمتونه لګوي؟!!

که شیعګان عقیده لري چې هغه صحابه چې قرانکریم یې صفتونه او مدح بیان کړې ده، درواغجن او علم یې پټ کړی دی بیا نو دغه لږ صحابه چې تاسو یې په عقیدوي سلامت قایل یاست ډېره اولی ده چې هم دروغجن او هم یې علم پټ کړی وي!!

٧١ شیعګان عقیده لري چې د ابوبکر، عمر، او عثمان رضی الله عنهم ځانګړې موخه تېرلواکي وه چې په نورو یې د ظلم زیاتي کولو له لارې ترلاسه کړه.

- مونږ له شیعګانو څخه پوښتنه لرو چې هغوی خو واک او اختیار د ترلاسه کولو لپاره هیڅکله هم مسلمان وهلی ډبولی نه دی، او نه یې ورسره شخړې کړي دي، بلکې هغوی خو مرتدین اوکفارو سره مشت ګریوان وو، هغوی خو کسرا او قیصر مات کړل، ټول فارس یې فتحه او اسلام یې پکې دستور قائم کړ، د ایمان او مومنانو ستر مرستندویه وو، کفر او کافران یې تیت و پرک کړل، عثمان ﷺ چې له ابوبکر او عمر ﷺ څخه په رتبه او بهترۍ کې هم کم دی، د چور چپاول خلک پرې راغلل او د هغه وژنه یې موخه وه، نه خو عثمان ﷺ د مسلمانانو سره جنګ وکړ، او نه یې کوم مسلمان د خپل واک او اختیار د برقرار ساتلو له امله مړ کړی دی.

که شیعګان عقیده لري چې دوی واک په ظالمانه توګه تر لاسه کړی دی او د نبي ﷺ ستر دښمنان وو، باید نفس عقیده په علي ﷺ کې هم ولري!!.

٧٢ قادیانیان له دې کبله کافر وبلل شول چې د خپل مذهبي سرېراه په نبوت یې عقیده ولرله، شیعګان چې خپلو امامانو لپاره د پیغمبرانو په ځانګړتیاو قایل دي، د دواړو خواو ترمنځ عقیدوي توپیر څه دی؟!

- ایا دشیعګانو دخپلو امامانو لپاره د نبوت خصوصیتونو ثبوت د کفر عقیده نه ده؟!
- ایا شیعګان کولای شي چې د امام او رسول ترمنځ بنسټیز توپیرونه څرګند کړي؟!
- ایا نبي کریم ﷺ مونږ ته د دې لپاره راستول شوی و چې د دولسو داسې امامانو زیری راته راوړي چې ګرد اقوال او افعال به یې په بشپړه توګه په عصمت کې د هغه د اقوالو او افعالو مساوي او یو څېر وي...؟!

٧٣ العیاذ بالله تاسو شیعګان چې ګرانه مور عائشة ﷺ په کفر او نفاق تورنوئ:

- ولې یې رسول کریم ﷺ په خونه کې خاورو ته سپارل کیږي؟!
- ایا دا د نبي ﷺ د هغې سره په مینې محبت ستر دلیل نه دی؟!

٧٤ د تېر په څېر: او ابوبکر او عمر ﭭ چې ستاسو د عقیدې په بنسټ دواړه کافر دي ولې يې ترڅنګ نبي کریم ﷺ خاورو ته سپارل شوي دی؟!

سره له دې چې د کافرانو ترمنځ به مسلمان نه شي خښېدای، نبي ﷺ ولې دفن شوی دی؟!

ستاسو د عقیدې په بنیاد د مړینې په حالت کې هم الله پاک د کافرانو څخه ونه ژغورو...

۞ دا مهال علي ﭬ چرته و؟ هغه ولې د دې خوراستونزمن کار مقاومت ونه شو کړای؟!

په تاسو دا لازمېږي چې ووایئ: ابوبکر اوعمر ﭭ دواړه مسلمانان وو، الله پاک او د هغه رسول ﷺ ته ډېر ګران او محبوب وو –دا حق او سمه خبره هم ده– او یا به دا وایئ چې په دغه دیني کار کې علي ﭬ مداهنت کړی دی –او علي ﭬ له دې صفت څخه پاک او مبرا دی–.

ورنه څنګه کېدای شي چې د پیغمبر تر څنګ دې فاجر او کافر ډوله خلک دفن شي؟!!

٧٥ شیعګان عقیده لري چې د علي ﭬ په خلافت باندې قراني ایتونو شتون درلود خو صحابه و پټ او پناه کړیدي.

دا دعوه ځکه باطله ده چې بیا يې هغه حدیثونه ولې نه پټول چې خپله يې د علي ﭬ په فضیلت کې روایت کړي دي؟!

لکه دا حدیث شو چې «**اَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزِلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسَى**» له دې پرته نور هغه حدیثونو چې دېته ورتوالی لري ولې يې نه پټول؟!

٧٦ له رسول الله ﷺ وروسته بر حق خلیفه ابوبکر ﭬ و او په حقانیت يې ستر دلیل دا دی چې:

ټول صحابه کرام پرې راغونډ او متفق وو، ټولو يې پیروکاري په ځان منلې

او د نواهیو څخه یې کلک پابند وو، هیڅ چا پرې بد نه ویل، که په رښتیا هم رښتنې خلیفه نه و، بیا نو ولې یې پر خلافت پرېښوده او ولې یې ورله خبرې منلې، سره له دې چې په زهد او تقوا، په دیانت او عقیده کې د سترې مرتبې څښتنان وو، د حق او حقیقت په ویلو له الله پرته نور له هیڅ چا نه ډارېدل.

علي ﷺ بڅپله یې ورڅخه نه سرغړونه کړې او نه یې ورسره د جنګ اعلان کړی دی، دا خبره له دې څخه خالي نه ده چې یا خو هغه د:

- جګړو شخړو او د خپلمنځنۍ فتنې له شر څخه ډارېده.
- یا یې له مقاومت څخه بې وسه او بې کسه و.
- او یا په دې پوهېده چې ابوبکر په حقه توګه خلیفه دی.

دا خو ناشوني دي چې له فتنې او د خپلمنځنې شخړو له کبله یې پرېښی وي، ځکه چې وروسته یې د معاویه ﷺ سره داسې خونړیزې معرکې وکړې چې ګڼ شمېر خلک پرې له منځه ولاړل، چونکه هغه په دې پوهه و چې حق زما سره دی نو د فتنې او د نورو نظرونو څخه په صرف نظرئ یې د طلحه او زبیر او د عایشي ﷺ سره په دغه باب جنګ وکړ.

او دا هم ناشوني دي چې مقاومت یې نه شو کولای، ځکه چا چې د معاویه ﷺ په ضد ورسره ملتیا کوله د سقیفې په ورځ، دعمر د خلیفه کېدو په ورځ، د شورى د تعیین په ورځ هم هغوی مسلمانان وو، ولې یې د ابوبکر ﷺ په ضد ورسره مقاومت ونه شو کولای؟

سره له دې چې له معاویة ﷺ څخه ابوبکر ﷺ په جنګ او قتال ډېر اولی و؟!

له دې شننې جوته شوه چې علي ﷺ سم صحیح پوهېده چې ابوبکر ﷺ په حقه توګه خلیفه دی.

٧٧ شیعګان عقیده لري چې معاویه ﷺ کافر او مرتد و، که رښتیا هم داسې وي باید شیعګان د علي او د هغه ځوي حسن ﷺ په کفر هم عقیده ولري، او هغه داسې چې:

✿ د مرتدينو په ضد جګړه کې علي رضي الله عنه پاتې راغی، او حسن رضي الله عنه ټول واک د مرتدينو سرمشر ته لاس په لاس ورکړ، خو برعکس وينو چې د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت په دور کې خالد بن الوليد رضي الله عنه د مرتدينو د بيخ کنی لپاره د ستر ځواک له مخې نېست او نابود کړل، معنا دا شوه چې له علي رضي الله عنه څخه الله پاک خالد بن الوليد رضي الله عنه ته د کافرانو ضد جګړو کې سترې برياوې ورکړې دي، او الله پاک د عدل والا ذات دی د دواړو ترمنځ هېڅ ظلم او زياتې نه کوي، نو طبعاخالد بن الوليد رضي الله عنه ترې د الله پاک په وړاندې بهتر راځي، بلکې په ټوله کې پرې د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم جهادي لښکرې چې په کفارو يې په ګڼ شمېر معرکو کې برياوې ترلاسه کړي دي د علي رضي الله عنه په پرتله چې د مرتدينو سره له جنګ عاجزه راغلی دی هم غوره راځي!!

د تېر په څېر الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ﴾ [آل عمران: ۱۳۹]

**مه سستېږئ او مه خفه کېږئ، تاسو سرلوړي يئ که چرته مومنان یاست.**

او بل ځای کې فرمايي:

﴿فَلَا تَهِنُواْ وَتَدۡعُوٓاْ إِلَى ٱلسَّلۡمِ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ وَٱللَّهُ مَعَكُمۡ وَلَن يَتِرَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ﴾ [محمد: ۳۵]

**مه سستېږئ او مه روغې جوړې ته بلنه ورکوئ، تاسو سرلوړي یاست، الله پاک درسره دی هېڅ عملونه درله نه بربادوي.**

په ورستيو کې چې کله علي رضي الله عنه د خپل خلافت له سمبالولو څخه پاتې راغی له معاوية رضي الله عنه څخه يې جوړ جاړی وغوښت او په دې سره رضا شول چې هر يو به د خپلې منطقې باچا وي.

✿ که د شيعګانو په عقيده رښتيا هم معاويه رضي الله عنه او ورسره ملګري يې مرتدين وای او علي رضي الله عنه سره د ملګرو يواځې مومنان وای او يواځې سرلوړي وای ولې د واقعيت ضد جوړېدل؟!

۷۸ که شيعګان د اهل السنت و الجماعت سره ملګرې نه شي ناشونې ده چې د علي ﷺ لپاره ايمان او عدالت ثابت کړي، ځکه که شيعګانو ته خوارج يا نور هغه خلک چې علي ﷺ کافر يا فاسق بولي ووايي: لکه څنګه چې شيعګان د ابوبکر او عمر ﷺ په کفر او ظلم عقيده لري همدغسې مونږ هم د علي ﷺ په کفر او ظلم عقيده لرو، که شيعګان دلته د ابوبکر او عمر او عثمان ﷺ په ايمان او عدالت عقيده ونه لري هېڅکله يې د علي ﷺ لپاره نه شي ثابتولای.

- که شيعګان د علي ﷺ د ايمان او عدالت لپاره د هغه په اسلام، هجرت او جهاد په تواتر دليل ونيسي نو په تواتر سره دغه صفتونه له ابوبکر، عمر او عثمان ﷺ نه هم ثبوت لري بلکې په تواتر سره د معاوية ﷺ په شمول د ګردو امويانو اسلام، لمونځ، روژې، د کفارو سره جهادونه هم کلک او غوځ ثبوت لري!!
- که شيعګان په مذکور هر صحابي کې د نفاق دعوه لري، خارجي کولای شي چې د هغوی په نفس دليل نفاق په علي ﷺ کې هم ثابت کړي او که شيعګان يې په نفاق په شبهاتو دليلونه نيسې خارجي به يې له هغوی نه په لوی نه پسې لوي شبهې دليل ونيسي.!!
- که شيعګان وايي چې ابوبکر او عمر ﷺ په باطن کې منافقان او د نبي کريم ﷺ لوي دښمنان وو او په دې سره يې خپل دينونه فاسد کړيدي، نفس دغه خبره به خارجي هم د علي ﷺ متعلق کوي او ورسره مزيد به ورته وايي چې خپل د تره زوي (نبي ﷺ) سره يې کينه پېل او کورنی دښمني يې ورسره شروع کړه، غوښتل يې چې خلکو ته يې ديني فساد په ګوته کړي، د هغه او د درېواړه خلفاوو په ژوند او د واک په دور کې ونه توانېد اخر يې هم د دريم خليفه د مرګ او اغتيال لپاره دسيسه جوړه کړه او د فتنې اور يې په لمبو کړ، بالاخره وتوانېد چې د محمد ﷺ د ملګرو او امت څخه يې ګڼ شمېر خلک د حسد او دښمنۍ له مخې قتل کړل، هغه په باطن کې د منافقانو دوست و چې د الوهيت او نبوت عقيده يې ورله ساتله، چونکه دين يې (تقيه) وه په زړه يې يو او په خوله يې نور و، له همدې کبله

يې ګرد باطنيان ډله او پیروکار دي، دوي دعوه لري چې د علي رضي الله عنه راز ورسره دی او د عقيدوي بنسټ له مخې ترې باطني علم نقلوي!!!

۞ او كه شيعګان د قرانكريم په نصوصو د علي رضي الله عنه ايمان او عدالت ثابتوي، دا پوښتنه ورته متوجه کيږي چې:

۞ قرانكريم خو عام دی د قران كريم ايتونه يې په حق کې له نورو پرته دليل کې وراندې کول ښه خبره نه ده، كه شيعګان د علي رضي الله عنه متعلق هر ايت په خصوص کې وړاندې کوي، خارجي همدغه او په څېر يې نور ډېر ايتونه د ابوبكر او عمر رضي الله عنهما حق کې په خصوصي توګه تثبيت کړي بيا به څه كوئ؟

که له دليل پرته د دعواګانو دروازه شونې وي نو د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما متعلق خو بيخي ډېره ممکنه ده.

۞ او که شيعګان وايي چې دغه خو په روايتونو ثابت دي، نو په نورو کې هم روايتونه د علي رضي الله عنه په پرتله ډېر زيات متواتر او مشهور دي.

که د علي رضي الله عنه په حق کې ثبوت هرخومره په تواتر ثابتوي، نو مقابله خواوې نور لا هم پسې په تواتر پیاوړي کیږي.

او که د علي رضي الله عنه په بهترۍ کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم په روايتونو اعتماد لري، نو د ابوبكر او عمر رضي الله عنهما متعلق روايتونو له صحابه کرامو څخه تر هر چا ډېر دي.

**٧٩** شیعګان عقیده لري چې د علي رضي الله عنه په ګردو صحابه کرامو د غوروالي او بهترۍ د ثبوت له کبله په امامت او خلافت ډېر حقدار و.

۞ مونږ ورته وايو: سمه ده چې تاسو د علي رضي الله عنه لپاره معلوم او مشهور فضيلتونه ثابتوئ لکه: مخکې اسلام راوړل، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ملتيا جهادونه، او دا چې د بې سارې علم او پرهېزګارې ښتن و.

۞ ايا د سعد بن ابي وقاص، عبدالرحمن بن عوف، عبدالله بن عمر او د نورو مهاجرينو او انصارو صحابه کرامو رضي الله عنهم په مقابل کې دغه صفتونه په حسن او حسين رضي الله عنهما کې و؟!

هېڅکله هم شیعګان په دواړو کې د دغې صفتونو ثبوت نه شي وړاندې کولای، یواځې ورسره د نص دعوه پاتې شوه، او د نص دعوه هر څوک کولای شي، د مثال په توګه که امویان د معاویة رضي الله عنه لپاره په دجل او درواغو د خلافت او ولایت د نص دعوه کړې وه نو له شیعګانو یې دعوه پیاوړې وه، ځکه الله پاک فرمایي:

﴿وَمَن قُتِلَ مَظۡلُومٗا فَقَدۡ جَعَلۡنَا لِوَلِيِّهِۦ سُلۡطَٰنٗا فَلَا يُسۡرِف فِّي ٱلۡقَتۡلِۖ إِنَّهُۥ كَانَ مَنصُورٗا ﴾

[الإسراء:۳۳]

**ژباړه: د ظلم او زیاتي له مخې چې څوک ووژل شي مونږ یې د میراث خور لپاره قوت او زور ګرځولی دی او د قتل په بدل کې دې اسراف نه کوي، یقینا چې ددغې میراث خور سره مدد کړی شوی دی.**

که هغوی ویلی وای: په ایت کې د **(مظلوم)** کلمې نه عثمان رضي الله عنه مراد دی او الله پاک د معاویة رضي الله عنه په دې کې مرستندویه دی تر څو د عثمان رضي الله عنه د وینې بدل واخلي!!

شیعګان دې پوښتې ته څه ځواب وایي؟؟

۸۰ شیعګان عقیده لري چې ابوبکر او عمر رضي الله عنهما له علي رضي الله عنه څخه خلافت په زور او د چل پراڼ له مخې اخستی دی.

مونږ پوښتو: که تاسو حقیقت وایاست نو عمر رضي الله عنه ولې د شورا غړی جوړ و؟

که د سعید بن زید رضي الله عنه په څېر یې له شورا څخه ویستلی وای او یا یې هم ورله غړیتوب بل چاته ورکړی وای نو بیا به هم چا پرې نیوکه نه کوله؟!

په ډاګه شوه چې صحابه و ته یې قدر او مکانت معلوم و او دغه مکانت یې ورکړی دی، نه یې پکې مغالات او زیاتی کړی دی او نه یې هم ورله په حق کې کمی کړی دی، په پرله پسې توګه یې غوره د غوره پسې او حقدار د حقدار پسې ځنځیر کړي وو او په همدغه تګلاره مخ په وړاندې تللي دي.

د دې خبرې په حقانیت دلیل دا دی چې د عثمان بن عفان رضي الله عنه له شهادت وروسته د علي رضي الله عنه سره مهاجرینو او انصارو په چټکه توګه بیعت وکړ.

❁ ایا کوم صحابي ورته د ابوبکر یا عمر او یا عثمان رضي الله عنهم سره د بیعت نه اعتذار کړی دی؟!

❁ یا یې د امامت له نصوصو څخه په انکاره کوم صحابي توبه ویستې ده؟

❁ یا کوم صحابي چرته ویلي دي چې دعلي رضي الله عنه اړوند د امامت نص له ما څخه هېر شوی و او تا رایاد کړ؟

۸۱ ❖ په خلافت باندې ټولو انصارو رضي الله عنهم د ابوبکر رضي الله عنه سره د خولې تاو تریخوالی وکړ او برخلاف یې د سعد بن عبادة رضي الله عنه خلافت ته خلک راوبلل، دغه مهال علي رضي الله عنه کور کې کښېناست او په دواړو خواو کې یې د یو پلوي هم ونه کړه، په ابوبکر رضي الله عنه د انصارو راټولېدل له لاندیني لاملونو څخه خالي نه دي:

یا خو یې په زور ځواک د ځان تابع کړل.

یا انصار په دې وپوهېدل چې خلافت د ابوبکر رضي الله عنه حق دی بالاخره یې هم ورله پېروې ته تن کېښود.

او یا یې ورله پېروکاري بې معنا پېل کړه.

څلورم لامل ته پکې هېڅ صورت نه پاتې کیږي.

❁ که شیعګان وایي چې په ځواکمنه قوه یې دځان تابع کړي وو، نو دا بیخي دروغ دي، ځکه چې دغه مهال هېڅ راز جنګ جګړه، وهل ډبول، سپکې ستغې او سلاح اسلحه نه دي کارول شوې.

او د انصارو ګواښول هم ناشوني وو، ځکه چې هغوی ټول دوه زره داسې شاهسواران وو چې له یو ټاټوبي او ټبر څخه وو، بهادري او دلیري یې له هر چا څخه خوراخرګنده وه، اته کاله په پرله پسې توګه یې په خپل ټاټوبي کې د ګردو عربانو سره په خرپ ترپ تېر کړي وو، د جنګ په ډګر کې دومره اموخته وو چې د روم قیصر ته یې په مؤته او نور غزاګانو کې درسونه ورکړي وو، له هر چا څخه یې د مرګ سره ډېره اشنايي لرله، ناشوني ده چې ابوبکر

ﷺ يې د دوه کسانو په ملتيا چې قبيلوي ملاتړ، غلامان او هيڅ مال او جائيداد نه لري وډاروي، او يا هم انصار دې د ډار له مخې يې سرغړونې څخه راستانه شوي وي، نا بلکې د چون چرا پرته يې ورسره په خوښه او مينه بيعت کړی دی.

- او دا هم ناسمه او باطله ده چې خلافت د انصارو حق و خو د خپل حق او د تره د ځوي سره له بيعت څخه تېر شول، ځکه د دومره کڼ شمېر تعداد د خوف او خطر پرته، د طمع توقع نه بغېر، د مال او جاه په نه امېد په ابوبکر ﷺ راټولېدل ناشونې دي چې خپل واک او اختيار داسې چا ته سپاري چې د جنګ جګړې کورنی ملاتړ او قبيلوي افراد نه لري، د کور په دروازه هيڅ څوکې او پېره نه لري، مالښې او غلامان نه لري.

د دې ټولو شکونو او شبهاتو په ازاله سره په پوره يقين او عقيده ويلای شو چې ټول انصار ﷺ د ابوبکر ﷺ خلافت ته د کوم اجتهاد او اټکل له مخې نه، بلکې د صحيح دليل له مخې چې د نبي ﷺ څخه يې غوږ ثبوت درلود تن ايښی و.

- کله چې خلافت له انصارو څخه ووت او رياست ورڅخه لاړ، له لوي څخه تر کوچنې پورې ټه اړ کړل چې د نبي ﷺ څخه د علي ﷺ په حق کې د خلافت ثابت نص نه انکار وکړي؟

او دا هم ناممکن دي چې د ټولو انصارو نظر د ظالمانو په مرسته او د علي ﷺ د حقوقو په غصبولو کې يو څېر وي.

٨٢ د شيعګانو د عقيدې له مخې ابوبکر او عمر ﷺ چې د علي ﷺ د واک او اختيار څخه په ګوښه کولو کې کامياب شول، د دواړو د خلافت په موده کې د هغوی شخصي کومې لاس ته راوړنې دي چې پرې برياڵي شوي دي؟

- د علي ﷺ په څېر ابوبکر ﷺ خپل بچي ولې په واک نه ګمارل؟!

- او عمر ﷺ ولې د علي ﷺ په څېر خپلو بچو ته په واک وصيت نه کو؟!

٨٣ وينو چې د محمد بن عبدالله بن عمرو بن عثمان بن عفان رضي الله عنهم مور فاطمة بنت الحسين بن علي بن ابي طالب رضي الله عنهم وه، او نيا يې فاطمه رضي الله عنها وه، او نيکه يې عثمان رضي الله عنه دی.

شيعګانو ته دا پوښتنه متوجه کيږي چې ايا دا سمه کېدای شي چې د فاطمة رضي الله عنها لمسو کې دې ملعون وي؟!

ځکه د شيعګانو په عقيده د محمد بن عبدالله بن عمرو بن عثمان په شمول ټول امويان د قران کريم په نص (شجره ملعونه) ده[1].

٨٤ شيعګان د خپلو امامانو په حق کې په عصمت او تقيه دواړو عقيده لري او دا دواړه سره ضد دي هېڅکله نه يوځای کيږي.

ځکه ستاسو د امامانو د عصمت ګټه څه ده چې د هغوی په قول او عمل تاسو خپله ښېرته نه پوهېږئ، سره له دې چې ستاسو دين په لسو کې نهه برخې تقيه ده؟!

تاسو شيعګان چونکه تقيه د لمونځ برابر بولئ چې [تَارِكُ التَّقيَةِ كَتَارِكِ الْصَّلاَةِ][2] د تقيې پرېښودونکی د لمونځ پرېښودونکي برابر دی.

او يا دا چې [تِسْعَةُ أَعْشَارِ الدِّيْنِ التَّقِيَّةُ][3] دين په لسو کې نهه برخې تقيه ده.

مونږ په يقين سره ويلای شو چې ستاسو امامانو لسو کې په نهو برخو عمل کړی دی او دا يې د عصمت ضد ده!

٨٥ د ثقلين[4] په حديث باندې شيعګان د خپلو امامانو په امامت دليل

---

(١) الكافي: (٧/٥). كتاب سليم بن قيس: (٣٦٢).
(٢) بحار الأنوار: (٧٥/٤٢١). مستدرک الوسائل: (١٢/٢٥٤).
(٣) أصول الكافي: (٢/٢١٧). بحار الأنوار: (٧٥/٤٣٢).
(٤) نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: ﴿إِني تَارِكٌ فِيْكُمْ الثِّقلين: كِتَابَ اللهِ وَعترتي أَهلَ بَيْتِيْ﴾ (ترمذي: ٥/٣٢٨ – ٣٢٩). زه په تاسو کې دوه شيان پرېږدم: د الله کتاب او خپله کورنۍ.

نیسي، وینو چې شیعګان هغه څوک کافر بولي چې په ثقل اصغر (نبوي کورنۍ) کې طعن لګوي خو ولې هغه کافر نه بولي چې په ثقل اکبر (قران کریم) باندې تور لګوي بس دومره وایي چې په اجتهاد کې خطا شوی دی خو ولې کافر ورته نه وایي.

**٨٦** شیعګان عقیده لري چې د نهایت زیات اوو کسانو پرته نور ټول صحابه مرتد شویدي.

له شیعګانو څخه پوښتو چې ایا د جعفر او علي رضي الله عنهما پاتې اهل بیت هم مرتد شوي دي؟!

**٨٧** د مهدي په حدیث کې راځي «**لَوْ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدّنْيَا اِلّا يَوْمٌ لَطَوَّلَ اللهُ ذَلك الْيَوْمَ حَتّى يَبْعَثَ فِيْهِ رَجُلاً مِنْ أَهْلِ بَيْتِيْ يُوَاطِئُ اسمُهُ اسمِيْ وَاسْمُ اَبِيْهِ اسمُ اَبِيْ**».[١]

که د دنیا یوه ورځ هم پاتې شي الله پاک به دغه ورځ دومره اوږده کړي چې زما له کورنۍ نه به یو سړی راواستوي چې نوم او د پلار نوم به یې زما د نوم او زما د پلار د نوم سره توافق خوري.

معلومه خبره ده چې د نبي صلی الله علیه وسلم نوم محمد او د پلار نوم یې عبدالله و، او د شیعګانو د مهدي نوم محمد او د پلار نوم یې حسن دی؟

ایا دا ډېره سخته ستونزه نه ده؟!!

له دې کبله د شیعګانو یو ملا دې پوښتنې ته غریب او عجیب ځواب ویلی دی، هغه وایي:

د نبي صلی الله علیه وسلم دوه لمسي وو: ابو محمد الحسن او ابو عبدالله الحسین.

(١) سنن ابي داود: (١٠٦/٤). او الباني هم ورته په [صحیح الجامع: ٥١٨٠] کې صحیح ویلي دي.

چونکه امام مهدي د ابو عبدالله الحسین له نسب څخه دی نو نبي ﷺ یې د نوم اطلاق په اسم کنیه وکړ، تر څو د پلار نوم سره یې سمون وخوري، او په عربۍ کې په نیکه باندې د پلار اطلاق هم کیږي[1].

٨٨ د شیعګانو د مهدي په ژوند کې ستر تناقضات:

**د مهدي مور څوک ده؟**

ایا د مهدي مور د نرجس (نرګس) په نوم وینځه وه؟ او که نه مور یې هغه وینځه ده چې د (صقیل) نوم یې درلود؟ او که نه مور یې د (ملیکة) په نوم وینځه وه؟ او یا به یې مور (خمط) یا (حکیمة) یا (ریحانة) یا (سوسن) وي او دا ټولې وینځې وې او یا به یې مور (مریم) وي او دا ازاده ښځه وه.

**مهدي کله پیدا شوی دی؟**

ایا مهدي د پلار له وفات څخه اته میاشتې وروسته پیدا شوی دی او که نه د پلار له وفات څخه مخکې په (٢٥٢) کال کې پیدا شوی دی؟

ایا مهدي په (٢٥٦) کې او که په (٢٥٧) کې او که د ذي القعدې په (٨) که د شعبان په (٨) پیدا شوی دی؟؟

ایا مهدي په (١٥) د شعبان او که په (١٥) د رمضان پیدا شوی دی؟!!

**مور یې په مهدي حمل څنګه واخست؟**

ایا په مهدي باندې یې مور د عامو زنانه و په څېر حمل واخست؟ او که له نورو ښځو څخه ردو بدل یې په ترخ (تخرګ) کې حمل کړ؟!

**مور یې مهدي څنګه وزیږو؟**

ایا د مهدي مور مهدي د عامو زنانه و په څېر له فرج څخه وزیږو؟ او که نه د عامو ښځو څخه ردوبدل یې له ورون څخه وزیږول شو؟

**مهدي څنګه لوی او راوټوکېد؟**

(١) کشف الغمة في معرفة الأئمة: (٣/٢٢٨) د اربلي لیکنه.

شيعګان له ابوالحسن څخه روايت کوي: مونږ (اوصياء) په يوه ورځ کې دومره لوييږو لکه نور چې په يوه اوونۍ کې لوييږي!

بيا ورڅخه نقلوي: زمونږ په ماشوم چې يوه مياشت تېره شي دومره لوييږي لکه نور چې په کال کې لوييږي!

بل روايت ورڅخه نقلوي: مونږ امامان په يوه ورځ کې دومره لوييږو لکه نور خلک چې په کال کې لوييږي[١].

## مهدي به چرته اوسيږي؟

کله وايي: په طيبه کې به وي، بيا وايي: په روحا (جبل رضوي) کې به وي، بيا وايي: په ذي طوی (مکه) کې به وي، بيا وايي: په سامرا کې به وي.

ترديد چې څښتني يې وايي:

نه پوهېږم چې چرته به يې... کومه خاوره او ځمکه به درته ځای درکوي، په رضوي او که په ذي طوی او که په نورو علاقو کې به يې... د يمن په وادي شمروخ او که په تکه شنه جزيره کې به يې[٢].

## مهدي به ځوان او که د بوډاتوب په حالت کې راځي؟

مفضل وايي ما د صادق نه وپوښتل: مهدي به ځوان او که د سپين ګيرتوب په حالت کې راځي؟

هغه وويل: سبحان الله، هغه دا حالتونه څه پېژني، چې څنګه او کوم کيفيت ورته پسند و په هغه کې به راښکاره شي[٣].

په بل روايت کې راغلي دي: د دوه ديرشت کالو په عمر کې به ځوان جان راښکاره شي[٤].

---

(١) الغيبة: (١٥٩ – ١٦٠) د طوسي ليکنه.

(٢) بحار الأنوار: (١٠٨/١٠٢).

(٣) بحار الأنوار: (٧/٥٣).

(٤) تاريخ ما بعد الظهور: (٣٦٠).

په بل روایت کې دي: مهدي به د یوپنځوس کالو په عمر کې راشي[۱].

او په بل روایت کې راځي: مهدي به د دیرشو کالو په عمر کې د ځوان په کیفیت ظهور وکړي[۲].

## د مهدي دواک دور به څومره وي؟

محمد الصدر وايي: په دې کې ګڼ شمېر روایتونه راغلي دي خو په مضمون کې سره تر ډېر حده ردوبدل اختلافات لري، له دې کبله ډېر لیکوالان یې په تردد، سوچ او فکر کې اچولي دي[۳].

ځوک وايي چې: د مهدي د واک دور به (۱۹) کاله وي، په بل روایت کې راځي: واک به یې اووه کاله وي، ورځې او شپې به پکې الله پاک دومره اوږدې کړي چې د هغه وخت یو کال ستاسو د لسو کالو سره سمون خوري، د واک ټوله موده به یې ستاسو د کلونو په شمېر (۷۰) کاله وي[٤].

په بل روایت کې راځي: لکه اهل کهف چې په خپل غار کې (۳۰۹) کاله پاتې شول، د هغوی په څېر به مهدي هم (۳۰۹) کاله پاتې وي.

## څومره وخت به مهدي له سترګو څخه پناه وي؟

شیعګان له علي ﷺ څخه روایت کوي: دومره موده به مهدي غائب وي چې ځینې قومونه به پکې د هدایت او ځینې نور به پکې په ضلالت رهي شي، پوښتنه ترې وشوه چې څومره وخت به نه وي؟ هغه وویل: شپږ ورځې، یا شپږ میاشتې، یا شپږ کاله[٥].

له ابو عبدالله څخه نقلوي: د نفس الزکیة (محمد بن الحنفیة) د قتل او د مهدي د راتګ ترمنځ به پنځلس شپې دي. [یعني دا خبره یې په (۱٤۰) ه کې کړېوه].

---

(۱) تاریخ ما بعد الظهور: (۳٦۱).

(۲) تاریخ ما بعد الظهور: (۳٦۱).

(۳) تاریخ ما بعد الظهور: (٤۳۳).

(٤) تاریخ ما بعد الظهور: (٤۳٦).

(٥) الکافي: (۱/۳۳۸).

د دې روایت اړوند محمد الصدر وایي: -کتاب د تګلارې په بنسټ- د تاریخي ثبوت لپاره دا د باور وړ خبر دی، مفید په «الارشاد» کې د ثعلبة بن میمون په روایت د شعیب الحداد نه، هغه یې د صالح بن میتم الجمال نه روایت کوي، او دغه ټول راویان رښتني او لویې هستۍ دي[(١)].

چونکه لومړي روایت ښودلي وخت کې یې ظهور ونه کړ، نو دوهم روایت راغی چې: (ای ثابته! الله پاک به مهدي په اویایم کال کې راښکاره کړي، د حسین رضي الله عنه د مرګ سره الله پاک په غصه شو او د مهدي ظهور یې یوسل او څلوښتم کال ته وځنډو او درته ومو ویل چې په (١٤٠) کې به مهدي راځي، چونکه تاسو خبره امانت ونه ساتله او خپره مو کړه نو الله پاک یې نور مونږ ته وخت راونه ښود[(٢)].

بیا له ابوجعفر الصادق نه راغلی روایت ټول مخکني روایتونه تکذیبوي، هغه وایي: [**كَذَبَ الوَقَّاتُوْنَ اِنَّا أَهْلَ الْبَيْتِ لاَ نُوَقِّتُ**][(٣)].

ټولو وخت تعینونکو دروغ ویلي دي، وختونه ښودل زمونږ د اهل بیتو کار نه دی.

په بل روایت کې راځي [**مَا وَقَّتْنَا فِيمَا مَضَى، وَلاَ نُوَقِّتُ فِيمَا يُسْتَقْبَلُ**][(٤)].

مونږ نه مخکې د مهدي لپاره وخت ښودلی و او نه مو ورله وروسته ښوولی دی.

**٨٩** شیعګان روایت کوي چې علي رضي الله عنه خپلو ملګرو ته د خفګان په حالت کې راووت او اوږد تنفس یې وکړ، ویې ویل: څه به کوئ که په تاسو هغه وخت راشي چې د الله حدود پکې نه تنفیذیږي، خلک به پکې مالي پانګوني کوي، خلک به پکې د الله دوستانو سره دشمني او د الله دشمنانو سره دوستي کوي؟

هغوی وویل: امیرالمؤمنین! که دغه وخت راباندې راشي باید څه وکړو؟

---

(١) تاریخ ما بعد الظهور: (١٨٥).
(٢) أصول الكافي: (١/٣٦٨). الغيبة: (١٩٧) د نعماني لیکنه. الغيبة: (٢٦٣) د طوسي لیکنه. بحار الأنوار: (٥٢/١١٧).
(٣) أصول الكافي: (١/٣٦٨). الغيبة: (١٩٨) د نعماني لیکنه.
(٤) الغيبة: (٢٦٢) د طوسي لیکنه. بحار الأنوار: (٥٢/١٠٣).

هغه وویل: د عیسی عليه السلام د ملګرو په څېر شئ، هغوی په تن اره کړی شول، په دار وځړول شول، د الله په پیروکاری مرګ د الله په معصیت کې له ژوند ښخه بهتر دی(١).

د دې باوجود شیعګان ولې په تقیه عمل کوي؟!

٩٠ ابوبکر رضي الله عنه دنبي صلی الله علیه وسلم سره یوځای هجرت کولو ته څه اړ کړی و؟

که د شیعګانو په عقیده ابوبکر رضي الله عنه په رښتیا منافق و، ولې د خپل قوم له کفارو ښخه تښتېده؟ سره له دې چې په مکه کې زور ځواک هم د دوی و؟

او که له منافقت ښخه یې دنیوي موخې وې نو دغه مهال د نبي صلی الله علیه وسلم سره په ملګرتیا کې هغه څه لیدلي و؟

حالانکه نبي صلی الله علیه وسلم سره له دې چې ټخپله د کفار له پلوه له مکې ښخه شړلی شو او یک و یواځې و؟

او نزدې وه چې د هغو کفارو په منګولو کې لوېدلی وی چې پیغمبري یې نه تصدیقوله!!

٩١ د قران کریم په ګڼ شمیر ایتونو کې الله پاک پر صحابه کرامو ثنا ویلې ده، الله پاک فرمایي:

﴿وَرَحۡمَتِي وَسِعَتۡ كُلَّ شَيۡءٖۚ فَسَأَكۡتُبُهَا لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱلَّذِينَ هُم بِـَٔايَٰتِنَا يُؤۡمِنُونَ ١٥٦ ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ يَأۡمُرُهُم بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَىٰهُمۡ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ وَيَضَعُ عَنۡهُمۡ إِصۡرَهُمۡ وَٱلۡأَغۡلَٰلَ ٱلَّتِي كَانَتۡ عَلَيۡهِمۡۚ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِهِۦ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَٱتَّبَعُواْ ٱلنُّورَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ مَعَهُۥٓ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ﴾ [الأعراف: ١٥٦- ١٥٧]

**ژباړه:زما رحمت او پیرزو هر څه ته پراښه ده، زه به خپله پیرزو په هغه چا زر وکړم**

(١) نهج السعادة: (٢/٦٣٩).

**چې له الله څخه ډارېږي، زکاتونه ورکوي او هغه خلک چې زمونږ په ایتونو ایمان لري ❁ دوې هغه خلک دي چې د امي پیغمبر پیروکاري کوي چې په تورات او انجیل کې یې ورله نوم لیدلی دی، په نیکو کارونو ورته امر او له بدو څخه یې رابندوي، مزېدار خواړه ورته حلال بولي او ناوړه خوراکونه پرې حرام بولي، د تېرو دینونو سختوالی ترې ړدي، هغه خلک چې په دغې پیغمبر یې ایمان راوړ او نصرت او مرسته یې ورله وکړه، او د ورته نازل شوي نور (رڼا) پیروکاري یې هم وکړه نو دوي په تحقیق سره کامیاب دي.**

او الله پاک فرمایي:

﴿ٱلَّذِينَ ٱسۡتَجَابُواْ لِلَّهِ وَٱلرَّسُولِ مِنۢ بَعۡدِ مَآ أَصَابَهُمُ ٱلۡقَرۡحُۚ لِلَّذِينَ أَحۡسَنُواْ مِنۡهُمۡ وَٱتَّقَوۡاْ أَجۡرٌ عَظِيمٌ ١٧٢ ٱلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ ٱلنَّاسُ إِنَّ ٱلنَّاسَ قَدۡ جَمَعُواْ لَكُمۡ فَٱخۡشَوۡهُمۡ فَزَادَهُمۡ إِيمَٰنٗا وَقَالُواْ حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ﴾ [آل عمران: ۱۷۲-۱۷۳]

**هغه خلک چې له تکلیف او مشقت ورسېد یې بیا هم الله پاک او رسول ته استجابت وکړ د هغوی محسن او متقي دواړو لره ډېر لوی اجر دی ❁ هغه خلک چې خلکو ورته وویل: ستاسو پرضد درته خلک یو شوي دي ورڅخه وډار شئ، په دې خبرې سره د هغوی ایمان لاپسې زیات شو او ویویل: زمونږ لپاره الله بس دی او هغه ډېر ښه ذمه وار دی.**

او الله پاک فرمایي:

﴿وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٦٢ وَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡۚ لَوۡ أَنفَقۡتَ مَا فِي ٱلۡأَرۡضِ جَمِيعٗا مَّآ أَلَّفۡتَ بَيۡنَ قُلُوبِهِمۡ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ أَلَّفَ بَيۡنَهُمۡۚ إِنَّهُۥ عَزِيزٌ حَكِيمٞ﴾ [الأنفال: ٦٢-٦٣]

**الله پاک هغه ذات دی چې په خپلې مرستې او مومنانو یې ستا تایید وکړ د هغوی زړونه یې سره یو کړل، خو که تا د هغوی د یووالي لپاره په ځمکه کې ټول هر څه نفقه کړی وی دوی به دې نه وو یو کړي خو الله پاک سره خپل منځ کې یو کړل، په یقین سره چې الله پاک غالب او حکیم ذات دی.**

او الله پاک فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ حَسۡبُكَ ٱللَّهُ وَمَنِ ٱتَّبَعَكَ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ﴾ [الأنفال: ٦٤]

**ای پیغمبره! ستا لپاره الله پاک او ستا پیروکار مومنان بسنه کوي.**

او الله فرمایي:

﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ﴾

[آل عمران:۱۱۰]

**تاسو غوره امت یاست د خلکو لپاره په دې خاطر راویستل شوي یاست چې په نیکو کارونو ورته امر وکړئ او له بدو څخه یې رابند کړئ او په الله پاک به کلک ایمان لرئ.**

له دې پرته نور ډېر ایتونه...

شیعګان که څه هم د نبي ﷺ په دور حیات کې د صحابه کرامو په ایمان عقیده لري خو ولې شک کوي چې له مرګ څخه یې وروسته بېرته له دین نه مرتد شوي دي، د حیرانتیا وړ ده چې له مرګ څخه یې څنګه په یو ډول بېرته کفر وکړ؟

او ولې کافران شول؟ لامل یې څه و؟!!

بیا ولې یې په سختو خورا ستونزمنو وختونو کې د نبي ﷺ مرسته او کومک کو، ځانونه یې ترې قربانول، او له هیڅ لامل پرته یې له مرګ وروسته بېرته کفر غوره کړ؟!!

شیعګانو! یا خو به دا وایئ چې د ابوبکر رضي الله عنه د مشرۍ او خلافت لاندې راټولېدل یې ارتداد دی.

- په دې مورد کې له تاسو څخه پوښتنه لرو چې ټول صحابه کرام ولې د ابوبکر رضي الله عنه په بیعت راټولېدل؟

په کوم لحاظ ایا له ابوبکر رضي الله عنه څخه ډارېدل؟!

ایا ابوبکر رضي الله عنه په صحابه کرامو باندې په زورځواک کې بهتري لرله چې بیعت ته یې ټول اړایستل؟!

ابوبکر ﷺ د بنو تیم د قبیلې غړی دی او په قریشو کې د افرادو له پلوه بنو تیم تر هر چا لږترین ملاتړ درلود، په قریشو کې د افرادي قوت او د غړیز ملاتړ لوي خاندانونه د بنو هاشم، بنو عبدالدار، او بنو مخزوم وو.

چې کله ابوبکر ﷺ ټول صحابه کرام په جبري توګه بیعت کولو ته نه دي اړ ایستلې، بیا نو ولې صحابه کرامو ﷺ خپل جهادونه، ایمانونه، مرستې او کومکونه له بل څخه زار او قربان کړل چې هغه ابوبکر ﷺ دی؟!!

۹۲ شیعګانو! ستاسو په عقیده که رښتیا هم د نبي ﷺ له مرګ وروسته صحابه کرام له دین څخه مرتد شوي وي، بیا یې ولې د مسیلمة، طلیحة بن خویلد، اسود عنسي او د سجاح په شمول د مرتدینو سره جنګ کوو؟

او تر هغه ورسره وجنګېدل چې بېرته یې اسلام ته راستانه کړل، د جنګ پر ځای یې ولې ورسره مرسته نه کوله؟! یا یې د ارتداد په صورت کې ولې نه پرېښودل؟! که رښتیا هم ستاسو په عقیده صحابه کافران وای؟!!!

۹۳ د کوني او شرعي سنتو له مخې بهترین طبقه خلک د پیغمبرانو انډیوالان دي، که د هر ملت له پیروکار څخه پوښتنه وکړئ چې ستاسو په دیانت کې غوره ترین څوک دي؟ هغوی به ځواب وایي: د پیغمبرانو ملګري.

که له یهودانو څخه پوښتنه وشي چې ستاسو په دیانت کې غوره ترین خلک څوک دي؟ هغوی به ووایي: د موسی ﷺ ملګري.

که له نصرانیانو څخه وپوښتل شي: ستاسو په دین کې غوره خلک څوک دي؟ هغوی به ارومرو وایي: د عیسی ﷺ ملګري.

د تیر په خیر داسې د نورو انبیاوو...

دا ځکه چې د پیغمبرانو انډیوالان د اسماني وحي زمانې ته له هر چاڅخه نږدې او ډیر پوهه دي، له هر چا څخه په پیغمبرانو او نبوت پیاوړی علمي عبور او دانش لري.

پوښتنه دا پېدا کيږي چې زمونږ پېغمبر چې الله پاک ورته د ګرد بشريت د رسالت ځانګړنه ورکړې ده، اسان دين او نرما نرم شريعت يې ورکړی دی، د دې دين او رسول لپاره الله پاک ډېر پېغمبران او رسولان مخکې راستولي دي، مخکنو ډېرو اسماني کتابونو پرې زيري ورکړيدي، ستاسو د شيعګانو په عقيده پرې د نبي ﷺ هغه ملګري چې د هغه مرستندويان وو، عزت او احترام يې ورله وکړ، ايا هغوی پرې کافران دي؟!

د نبي ﷺ د خصوصي ملګرو صحابه کرامو د ارتداد او تکفيرولو وروسته تاسو په دين کې کومه خوبي پرېښوده؟ او دغه اسماني رسالت مو په کومه ترازو وتلو؟!

له دوی څخه -چا چې د پېغمبر د مرستې لپاره خپل کورونه، بچي او ښځې پرېښې وې، چا چې يې په ملاتړ کې په خپلو پلارانو او ورونو باندې توره پورته کړېوه، چا چې يې له وفات څخه وروسته په علم، قران، او په ښه ديني اسلوب او بيا په توره باندې د کفر او شرک قلاونه فتحه کړي وو- چې وروسته ترې ځوک راځي هغوی خو به سوچه او خالص کافران او مرتدين وي؟!

**۹۴** مونږ وينو چې نبي ﷺ په سختو ځايونو کې هم تقيه نه ده کړې، او لږ څه وړاندې تېر شول چې شيعګان عقيده لري چې دين نهه برخې ټوله تقيه ده، او ډېرو امامانو يې هم تقيه کړېده، د دوی امامان ولې د خپل نيکه ﷺ په دريځ نه دي تللي.

**۹۵** که علي رضي الله عنه ته وګورو خپل ضد هېڅ جنګجو ته يې کافر نه دي ويلي، حتی خوارج هم چې علي رضي الله عنه ورسره جنګ هم وکړ، هغوی ورته کافر هم وويل خو علي رضي الله عنه نه دي تکفير کړي.

شيعګان ولې د علي رضي الله عنه پسې اقتدا نه کوي؟! ولې د نبي ﷺ پاک او سپېڅلي ملګري کافر بولي؟! بلکې د بې بيانو په کفر يې هم قايل دي.

**۹۶** شيعګان عقيده لری چې اجماع بذاته حجت نه شي بلل کيدای

بلکې د معصوم امام په وجود منځ ته راځي[۱]، دا د شیعګانو چټیات دي، چې معصوم راغی نو اجماع ته څه اړتیا پاتې شوه؟

۹۷ شیعګان خپل زیدیه شیعګان هم کافر بولي، سره له دې چې زیدیه د اهل بیتو سره موالات او مینه هم لري، له دې څخه جوته کیږي چې د شیعګانو په نېز جوهري خبره د صحابه کرامو او سلفو صالحینو سره بغض او حسد کول دي، ورنه د اهل بیتو سره محبت د شیعګانو په نیز معیار نه دی[۲].

۹۸ مونږ شیعګان وینو چې په زیاتره قضیو کې یې په دې بهانه چې د معصوم قول پکې نشته د امت اجماع رد کړې ده، بیا وروسته ګورو چې د (حکیمة) په نوم ښځې - الله یې په حال ښه خبر دی - د خپل منتظر مهدي په قضیه کې قول قبول کړی دی!!

۹۹ شیعګان عقیده لری چې د «**أَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزَلَة هَارُوْنَ منْ مُوْسَى**»[۳] حدیث له مخې علي رضي الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم له مړیني وروسته د خلافت حقدار و، خو که وګورو له موسی علیه السلام وروسته هارون علیه السلام نه بلکې یوشع بن نون علیه السلام پاتې دی.

۱۰۰ شیعګانو خپل پیروکار د رنګارنګ جرائمو او کبیرو په ارتکاب زړه ور کړي دي، په دې دعوه چې **(د علي سره محبت داسې نیکي ده چې معصیت ورته زیان نه شي رسولی)** د داسې دعواګانو نه قرآن کریم همېشه لپاره خلکو ته ډار ورکړی دی چې تش د دعوا په بنسټ به هېڅوک سرغړونې او د الله پاک نواهي نه د خپو لاندې کوي، الله پاک فرمايي:

﴿ لَّيۡسَ بِأَمَانِيِّكُمۡ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِۗ مَن يَعۡمَلۡ سُوٓءٗا يُجۡزَ بِهِۦ وَلَا يَجِدۡ لَهُۥ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ﴾ [النساء: ۱۲۳]

---

(۱) تهذیب الوصول: (۷۰) د ابن مطهّر حلي ليکنه. المرجعيّة الدينية العليا: (۱۶) د حسين معتوق ليکنه.

(۲) د مزيد معلوماتو لپاره کولای شئ چې د (تکفير الشيعة لعموم المسلمين) په نوم د علي العماري کتاب ولولئ، د زیدیه شیعګانو په شمول یې ټول هغه څوک ذکر کړیدي چې شیعګان یې کافر بولي.

(۳) بخاري: (۱٤۱۶) حديث شمېر. مسلم: (۲٤۰٤) حديث شمېر.

**ژباړه: ستاسو او د اهل کتابو امېدونه معيار نه دي، هر څوک چې ناوړه کارونه وکړي سزا به ورته ورکړل شي او د الله پرته به هېڅ څوک ذمه وار او مرستندويه به ونه مومي.**

۱۰۱ شيعګان د الله پاک په حق کې په (بداء) عقيده لري، بيا دعوه کوي چې زمونږ امامان پر غيبو پوهيږي، ايا امامان له الله پاک څخه لوي او د عظمت صفتونه لري؟

۱۰۲ تاريخ ګواه دی چې شيعګان د تل لپاره د اسلام د دښمنانو لکه يهودان، نصرانيان او مشرکينو سره په ګډ شمېر غزاګانو کې د مسلمانانو پر ضد مرستندوي ثابت شوي دي، له ټولو څرګند يې بغداد د مغولو په منګولو کې اچول و، د دوی په مرسته قدس د نصرانيانو په لاس کې ولويد.

- ايا رښتنی مسلمان ددوی په څير کارونه کوي؟!
- ايا مسلمان له هغو ايتونو څخه سرغړونه کوي چې د يهودانو او نصرانيانو سره دوستانه يې په کلکو الفاظو غندلې ده؟!
- ايا علي يا کوم زوي يا کوم لمسي يي رضي الله عنهم چا داسې کړي دي؟!

۱۰۳ ډېر شيعګان داسې دي چې حسن بن علي رضي الله عنهما او بچي يې په سپورو ستغو يادوي، سره له دې چې امام يې هم بولي(۱) او له اهل بيتو څخه هم دی.

۱۰٤ په شيعګانو کې له لږ غور کولو ورسته جوته کيږي چې ترهر چا زيات مذهبي تقسيم لري، خپلمنځنی زيات تاوتريخوالی او په لږ او نزدې وختونو کې سره يو بل کافر بولي، له خورا څرګندو بېلګو څخه يې ځينې نمونې په دې ډول د يادولو وړ بولو:

- د شيعګانو لوي ديني عالم احمد احسائي د (**شيخية**) په نوم د فرقې بنسټ کېښود، لږ وروسته يې شاګرد (کاظم رشتي) راغی او د (**کشفيه**) په نوم يې د بلې ډلې تاداو کېښود، له دې وروسته د کاظم شاګرد محمد کريم خان راولاړ شو او د (**کريمخانيه**) په نوم يې بله ډله منځ ته راوستوه، د کريم ښځينه شاګردې (قرة العين) د (**قرتية**) په نوم بله فرقه جوړه کړه، د

(۱) أعيان الشيعة: (۲٦/۱). سُليم بن قيس: (۲۸۸). بحار الأنوار: (۲۷/۲۱۲).

(البابیه) په نوم میرزا علي شیرازي هم نوی بنیاد کېښود، او میرزا حسین علي یې د (البهائیه) په نوم ډلې ته لمن ووهله.

وګورئ چې په یو وخت کې په نزدې ورځو کې د شیعګانو څومره ډلې راولاړې شوې، الله پاک رښتیا ویلي دي:

﴿وَلَا تَتَّبِعُوا۟ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦ﴾ [الأنعام: ۱۵۳]

**ژباړه: د نورو لارو پیروي مه کوئ ورنه د حق له لارې څخه به مو بېلابېل کړي.**

۱۰۵ له کله راهیسي چې سرغړونکو باغینو د عثمان ﷺ کور محاصره کړه، علي ﷺ ورڅخه دفاع کوله او خلک یې ورڅخه وشړل، خپل دواړه بچي هر یو حسن او حسین او وراره عبدالله بن جعفر[۱] یې د عثمان ﷺ دفاع لپاره واستول، خو ولې عثمان ﷺ له خلکو څخه وغوښتل چې خپلو کورونو ته ولاړ شئ او اسلحې کېږدئ.

دا په دې ښکاره دلیل دی چې د عثمان او اهل بیتو ﷺ ترمنځ هیڅ عداوت او تربګني نه وه.

۱۰۶ سني او شیعه دواړه په دې متفق دي چې عمر ﷺ له علي ﷺ څخه په ډېرو کارونو کې سلا مشورې اخستې[۲]، که ستاسو په عقیده په رښتیا هم عمر ﷺ ظالم وی د اهل حق څخه به یې مشورې نه اخستې، ځکه چې ظالم نه حق غواړي او نه حق پلو وي.

۱۰۷ د دواړو خواو په اتفاق د عمر ﷺ په دور کې[۳] سلمان فارسي ﷺ په مدائن او عمار بن یاسر ﷺ په کوفه[٤] کورنران ګمارل شوي وو او شیعګان عقیده لري چې سلمان او عمار ﷺ د علي ﷺ کلک پلویان وو، که په رښتیا

(۱) شرح نهج البلاغة: (۱۰/۵۸۱) د ابن أبي الحدید لیکنه، چاپ ایران. تاریخ المسعودي: (۲/۳٤٤). چاپ بیروت.

(۲) نهج البلاغة: (۳۲۵، ۳٤۰)، تحقیق: صبحي صالح.

(۳) سیر أعلام النبلاء: (۱/٥٤۷)، د امام ذهبي لیکنه.

(٤) سیر أعلام النبلاء: (۱/٤۲۲).

عمر رضي الله عنه ظالم، باغي او مرتد وی، ولې ترې دواړو ګورنري قبلوله؟! ولې دواړو د ظالمانو او مرتدینو مرستو ته اوږه ورکوله؟!

حالانکه الله پاک فرمايي:

﴿وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ﴾ [هود:۱۱۳]

**ژباړه: ظالمانو ته مه ورکږېږئ ورنه اور به درته ورسیږي.**

۱۰۸ شیعګان عقیده لري چې امامان يې معصوم او مهدي اوسمهال موجود دی، د شیعه مذهب دیرشت نفرو ورسره لیدل کتل شوي دي، له دې ګومان وروسته بیا ولې په شیعیت کې ډلې ټپلې منځ ته راغلې؟

دومره ډلې چې په نورو فرقو او ډلو کې نه تر سترګو کیږي، نږدې ده چې اوسمهال په شیعیت کې هر مجتهد او ديني مرجع ځانګړې ډله ولري!!

سره له دې چې شیعګان عقیده لري چې د یو امام شتون واجب دی تر څو په خلکو دلیل قائم شي او له مهدي پرته نور څوک دغه امام نه شي جوړېدای، که څه هم امام يې حاضر او شته دی ورسره مباشرې اړیکې لري، بیا د نورو خلکو په پرتله ولې شیعګان ګڼ شمېر ډلې تشکیلوي؟!

لا دا هم وايي چې مجلسي په دې حدیث راوړی دی چې که څوک وايي ما امام لیدلی دی هغه دروغجن دی بلکې امام څوک نه شي لیدلای، همدا ستاسو د شیعګانو په کتابونو کې بېرته وینو چې ستاسو علماوو څو څو وار مهدي لیدلی دی؟!

۱۰۹ له شیعګانو څخه پوښتنه لرو: تاسو باوري یاست چې دنیا به له داسې چا نه وي خالي چې په خلکو د الله حکمونه تطبیقوي او هغه یوازې امام دی او بس، چونکه (تقیه) د دین نهه برخې تشکیلوي او د امام لپاره هم (تقیه) روا ده، بلکې مندوبه ده، بلکې د هغه لپاره بهتري او فضیلت دی، بیا خو هغه له هر چا څخه متقي دی، په خلکو به يې حجت څنګه بشپړ شي؟!

۱۱۰ شیعګان عقیده لري چې د ایماني صحت لپاره د امامانو پېژندنه شرط ده.

۞ پوښته دا منځ ته راځي چې د دولسو امامانو له بشپړېدو مخکې چې څوک فوت شوي دي هغوی څه حکم لري؟

حتی که ميت خپله امام هم وي د پوښتنې ځواب څه کېدای شي؟!

او نه ستاسو امامانو ته پته وه چې وروسته به ترې د امامت واګې څوک اخلي! اوس څه ارزيابي کوئ چې د ايمان لپاره د امامت معرفت شرط دی؟

۱۱۱ د «نهج البلاغة» ليکوال روايت کوي چې علي رضي الله عنه ته راپور ورسېد چې انصار فکر لري چې امامت به په دوي کې وي وېويل: تاسو ورته ولې دا دليل نه واياست چې نبي کريم ﷺ خو وايي: «**أَنْ يُحْسَنَ اِلَى مـحْسِنِهِمْ وَيَتَجَاوَزَ عَنْ مُسِيْئِهِمْ**».

**ژباړه: نيکو کار سره يې پسنده رويه او له بد کار څخه يې معافي اعلان کړئ.**

خلکو ورته وويل: دا څنګه په انصارو دليل کېدای شي؟

هغه وويل: که امامت په انصارو کې وی نو وصيت به يې پرې نه کو[1]؟

۞ له شيعګانو څخه پوښتنه لرو چې نبي کريم ﷺ پخپل دې حديث «**أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِيْ أَهْلِ بَيْتِيْ**»، کې پخپل اهل وصيت کړی دی، که امامت د دوی ځانګړی حق وي ولې پرې نبي ﷺ وصيت کو؟!

۱۱۲ که درڅخه وپوښتل شي چې که چرته يو مومن، نيکو کار قائد د داسې خلکو مشري په غاړه ولري چې ځينې يې مومنان او ځينې نور يې کافران وي، د الله پاک په ځانګړې مهربانۍ د خبرو اترو له مخې منافقان پېژني، او د دې باوجود مشرتابه د ښو خلکو پلوي وکړي، لږ ګړی وروسته منافقانو ته د واک او اختيار واګې ورکړي او په خلکو يې مشران وګماري، بلکې تر دې حده ځان منافقانو ته نزدې کړي چې د خپل ځان سخرانه يې جوړه کړي توبه ونه باسي او خوشحاله ترې مړ شي، ته څه وايې چې دغه مشر او قائد به څه حکم وي؟!

(۱) نهج البلاغة: (۹۷).

په رسول الله ﷺ کې دا د شيعګانو عقيده ده!!

۱۱۳ د ﴿وَلَا تُمۡسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلۡكَوَافِرِ﴾ [الممتحنة: ۱۰]

ايت لاندې شيعي عالم «الحر العاملي» ليکي: له اسلام پرته د بل دين ښځه (کافره) که د چا په نکاح کې وي او خاوند يې مسلمان وي بايد ښځې ته د اسلام پلو دعوت ورکړي، که يې اسلام ومنو ښځه يې ښځه ده او که يې و نه منو ښځه ورڅخه بېزاره ده، الله پاک منعه فرمايلې ده چې په نکاح به يې د ځان سره نه ساتي[۱].

العياذ بالله د شيعګانو په عقيده که عائشة ﵂ کافره او مرتده وي، نو د قراني ايتونو له مخې يې طلاق واجب و، د حيرانتياوړ ده چې رسول الله ﷺ له نفاق او ردت څخه نا خبره و، او شيعګانو ته معلومات شوي دي!!

۱۱۴ د شيعګانو په ډلو کې «خطابية» عقيده لري چې د جعفر الصادق له مړيني وروسته امام د هغه ځوی «اسمعيل» دی، د شيعګانو علماء پرې رد کوي چې اسمعيل د پلار په ژوند کې وفات شوی دی او مړی هېڅکله د ژوندو امام نه شي جوړېدای....[۲]

۞ له شيعګانو څخه پوښتنه لرو چې تاسو ټخپله د علي ﵁ په ولايت په دې حديث «أَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزَلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسَى»، دليل نيسئ او ټول پوهيږي چې هارون ﵇ د موسى ﵇ څخه وړاندې وفات شوی دی، او ستاسو په اعتراف مړی د ژوندو لپاره هېڅکله هم خليفه نه شي جوړېدای!!

۱۱۵ په «لاَ يَزَالُ الأَمْرُ عَزِيْزاً إِلَى اثْنَيْ عَشَرَ خَلِيْفَةً كُلُّهُمْ مِنْ قُرَيْشٍ»، او بل روايت «يَكُوْنُ اثْنَا عَشَرَ أَمِيْراً» دي او په دريم روايت کې «لاَ يَزَالُ أَمْرُ النَّاسِ مَاضِياً مَا وَلِيَهُمْ اثْنَا عَشَرَ رَجُلاً»[۳]، الفاظ راغلي دي، په دې حديثونو شيعګان د خپلو امامانو په امامت دليل نيسي.

---

(۱) وسائل الشيعة: (۲۰/۵٤۲).

(۲) کمال الدين و تمام النعمة: (۱۰۵).

(۳) بخاري: (۷۲۲۲) شمېر په دېته ورته الفاظو راوړی دی. مسلم: (۱۸۲۱). ژباړن.

له شیعګانو څخه پوښتنه لرو چې دغه روایتونه د «**خلفاء**» او «**امراء**» په نوم د خلکو په دولسو امامانو باندې تصریح کوي، او هر څوک پوهیږي چې له علي او حسن ﵄ پرته نور هېڅ چا خلافت او امارت نه دی کړی، حدیث چرته او شیعګان چرته؟!

حتی چې د تاریخ کتابونو هم له دوو پرته هېڅ چا ته خلیفه نه دي ویلې...!!

۱۱۶ معلومه خبره ده چې د نبي ﷺ له مړینې وروسته شیعګان د لږ شمېر خلکو پرته د صحابه کرامو په ارتداد عقیده لري.

له شیعګانو څخه پوښتو چې ارتداد له شبهې او یا هم له شهوت څخه راولاړیږي.

او په دې هر څوک پوهیږي چې شبهات د اسلام په لومړیو کې ډېر وو وروسته نه، چې د اسلام د کمزورتیا په وخت کې د چا ایمان د غر په څېر مضبوط وي، کله یې ایمان په هغه وخت کې کمزوری کیږي چې اسلام په عزت او قوت کې وي، بېرغونه یې رپاند او څپاند وي؟!!

او که شهوت یادوئ نو چې خپل کور کلی، د کفر په حالت کې قبیلوي عزت او شرف څوک د الله پاک د رضا او د هغه د رسول د خوشحالۍ له امله له اکراه او جبر پرته پریږدي، ایا وروسته یې بېرته د شهوتونو له امله ارتداد په ګمان کې راتلای شي؟!!

۱۱۷ شیعګان د صحابه کرامو په عدالت عقیده نه ساتي مونږ وینو چې د شیعګانو خپل کتابونه او روایتونه له شک او شبهې پرته د صحابه کرامو عدالت تثبیتوي، شیعګان د نبي ﷺ د حجت الوداع خطبه روایت کوي چې هغه وایي [**الله پاک دې هغه څوک تروتازه لري چې زما خبره واوري او محفوظه یې وساتي او بیا یې هغه چا ته ورسوي چې اوریدلې یې نه وي**] (۱).

که صحابه کرام عدول او قابل باور خلک نه وای، ولې رسول الله ﷺ د

---

(۱) الخصال: (۱٤۹ – ۱۵۹۰) حدیث شمېر: (۱۸۲).

خپلو خبرو هغو چا ته په رسولو امانتګر بلل چې خبرې يې ورله نه وې اورېدلې؟!!

۱۱۸ له يو شيعه ځخه وپوښتل شول: ايا نبي ﷺ د نېکې ښځې غوره کولو ته مونږ نه يو هڅولي؟ د ښو خلکو سخرګنۍ ته يې نه يو رادعوت کړي؟

هغه وويل: ولې نه.

بيا ورځخه وپوښتل شول: ايا تا ته پسنده ده چې ابن زنا ته خپله لور په نکاح ورکړې؟

هغه وويل: د الله پورې ترې زما پناه ده.

بيا ورځخه وپوښتل شول: ايا تاسو دعوه نه لرئ چې عمر رضي الله عنه د «**صهاک**» په نوم زنا کارې ښځې ځخه پېدا و[۱]؟ او ستاسو شيعي عالم نعمة الله جزائري په بې حيا انداز او لوځ لغړ اسلوب ويلي دي چې عمر به د خلکو په اوبو سرېده -العياذ بالله-[۲] او تاسو دا عقيده نه لرئ چې لور يې هم د پلار په څېر پليته او منافقه وه، بلکې کافره يې بولئ؟!!

- ته څه وايې چې د نبي ﷺ سخرانه زناکاران وو؟!!
- ايا نبي ﷺ د ځان لپاره فاسده او منافقه ښځه خوښوله؟!

لوړه په رب لايزال چې تاسو رسول الله ﷺ او د هغه ملګري تورنوئ، د هغوی لپاره ټول هغه څه غواړئ چې د ځانونو لپاره يې پسند نه بولئ.

۱۱۹ د شيعګانو د دعوې پربنسټ چې که صحابه کرام په دومره لاتحاشا شمېر سره د نفاق او ردت خلک وای، بيا نو اسلام په دغه اندازه ترقي څنګه وکولی شوه؟ ولې د فارس او روم امپراطورۍ رانسکورې شوې؟ ولې بيت المقدس فتح شو؟

---

(۱) الکشکول: (۳/۲۱۲) د بحراني ليکنه. لقد شيّعني الحسين: (۱۷۷).

(۲) الأنوار النعمانية: (۱/۶۳).

١٢٠ د علي رضي الله عنه اړوند د شیعګانو لوي عالم «**کاشف ال الغطاء**» وايي: کله چې هغه له ځانه وړاندې دوه خلیفګان -ابوبکر او عمر- ولید چې د توحید د کلمې په نشر او اشاعت کې یې خومره زیار وویست، څومره لښکرې یې چمتو کړې وې، فتوحات یې تر کومه حده ورسول، پوهه شو چې هغوی ظلم او غصب نه دی کړی، په خپله رضا یې ورسره بیعت وکړ[١].

د شیعګانو دعلماوو له اقوالو څخه جوته شوه چې هغو دواړو د توحید د کلمې د نشرو اشاعت په خاطر د الله په لاره کې ګڼ شمېر لښکرې چمتو کړې وې، د کفر او کافرانو ډېرې ځمکې یې فتحه کړې وې.

- بیا نو ولې شیعګان یې د کفر او نفاق، زندقت او ردت په تور تورنوي؟
- ولې یې خپل منځ کې سره خبرې دومره ردو بدلې دي؟

١٢١ شیعګان په «**يَرِدُ عَلَيَّ رِجَالٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُوْنِيْ، فَيُذَادُوْنَ عَنِ الْحَوْضِ فَأَقُوْلُ أَصْحَابِيْ أَصْحَابِيْ!! فَيُقَالُ: إِنَّكَ لاتَدْرِيْ مَا أَحْدَثُوْا بَعْدَكَ**»[٢]. حدیث باندې دلیل نیسي چې د نبي صلی الله علیه وسلم له وفات وروسته صحابه کرام مرتد شوي دي.

- له شیعګانو څخه پوښتنه لرو چې حدیث خو عام دی ورپکې د هیڅ چا نوم نشته، عمار بن یاسر، مقداد بن الأسود، سلمان الفارسي رضي الله عنهم چې د شیعګانو په عقیده مرتد شوي نه دي، حتی چې علي رضي الله عنه ترې هم نه شي مستثنی کېدای!!
- ولې حدیث په ځینو پورې ځانګړی بولئ؟! د هر چا په زړه کې چې کوم صحابي ته بدي او ورسره یې کینه وي، کولای شي چې عام تام حدیث او د هغه د کفر اړوند پرې دلیل ونیسي!

١٢٢ د علي رضي الله عنه ستر او لوي ملګری مالک بن اشتر -چې شیعه یې په قدر او احترام هم قایل دي- وايي: ای خلکو! الله پاک تاسو ته محمد صلی الله علیه وسلم په زیري

---

(١) أصل الشیعة و أصولها: (٤٩).

(٢) بخاري: حدیث شمېر: (٦٥٨٢)

او ویرې ورکولو رالېږدولی دی، داسې کتاب یې پرې نازل کړی دی چې ټول حلال او حرام، فرائض او سنن پکې شتون لري، الله پاک خپل استازی ځان ته په داسې حالت کې واخست چې خپله دنده یې په سمه توګه انجام کړېوه، له هغه وروسته د خلکو واک ابوبکر واخست، نبوي سیرت او سنت یې تګلاره وه، له ابوبکر څخه وروسته د واک واګې عمر واخستې او په نفس لاره ولاړ(١).

مالک بن اشتر په ابوبکر او عمر رضي الله عنهما باندې ثنا او په ښو صفتونو یې یادوي خو ولې بر عکس شیعګان یې په خپلو غونډو او حسینیاتو کې له طعن تشنیع، د سپکو سپورو پرته په نور څه نه یادوي!

الله دې ورته هدایت وکړي، اخر ولې دومره ظلم او استبداد؟!

۱۲۳ ابن حزم رحمه الله د علي رضي الله عنه اړوند د شیعګانو په دې عقیده چې شپږ میاشتې وروسته یې بیعت وکړ، نیوکې کړې دي چې د علي رضي الله عنه دغه کار له دوو څخه خالي نه دی:

د بیعت په وروستوالي کې که هغه په حقه و، بیا نو د بیعت په کولو کې خطا شوی دی، ولې یې بیعت کو؟

او که د بیعت په کولو کې نه وي خطا شوی، نو په دې کې تېروتی دی چې ولې یې بیعت تاخیرو؟(٢)

۱۲۴ ولې شیعګان د فاطمې رضي الله عنها په عصمت عقیده لري او د رقیة او ام کلثوم چې د فاطمې رضي الله عنهن په څېر د نبي صلی الله علیه وسلم د وجود توکړې دي د دواړو لپاره نه تثبیتوي؟!

۱۲۵ که شیعګانو ته وویل شي: ستاسو په عقیده خو د علي رضي الله عنه خلافت منصوصي دی، بیا نو ولې د نبي صلی الله علیه وسلم له مړیني وروسته دخلافت اړوند خاموش پاتی شو؟!

---

(١) مالک بن الأشتر خطبه وآراؤه: (٨٩). الفتوح: (١/٣٩٦) د ابن الأعثم لیکنه.

(٢) الفصل فی الملل والأهواء والنحل: (٤/٢٣٥).

شيعګان وايي چې نبي کريم ﷺ ورته وصيت کړی و چې له مړينې وروسته يې نه په کومه فتنه کې ګډونوال شي او نه په چا توره پورته کړي.

۞ مونږ ورڅخه پوښتنه لرو چې بيا نو ولې علي رضي الله عنه په جمل او صفين کې توره پورته کړه؟ سره له دې چې په دغې جنګونو کې په زرهاو مسلمانانو زندګي له لاسه ورکړه!!

۞ او په توره حقدار څوک و؟ لومړی ظالم که څلورم او که لسم ظالم؟!

١٢٦ ۞ شيعګان د پيغمبرانو او امامانو ترمنځ هيڅ توپير نه ذکر کوي، ددوی مذهبي شيخ مجلسي د امامانو متعلق وايي: که د خاتم النبيين خيال نه وای نو د دوی او امامانو ترمنځ څه توپير نشته، او نه هم زمونږ عقلونه د نبوت او امامت ترمنځ توپير ايجابوي[١].

۞ پوښتنه دا منځ ته راځي چې د الله پاک له پلوه تبليغ او معجزاتو په شمول نور هغه وظائف او ځانګړتياوې چې له عامو خلکو څخه پرې انبياء کرام عليهم السلام مخصوص شوي دي، د نبي کريم ﷺ په وفات او نبوت سر ته نه وي رسېدلي او له هغه وروسته دغه دعوتي مهم په نورو دولسو خلکو کې شتون ولري، نو د ختم نبوت د عقيدې څه ارزښت پاتې شو؟!

١٢٧ ۞ د نبي ﷺ له وفات وروسته د علي رضي الله عنه د خلافت په وجوب باندې د شيعګانو يو دليل دا دی چې هغه ورته د تبوک په غزا کې ويلي و [**أَنْتَ مِنِّيْ بِمَنْزَلَةِ هَارُوْنَ مِنْ مُوْسَى**][٢]

که رښتيا داسې وای ولې ورته نبي ﷺ په خپلو نورو غزواتو کې د واک واګې نه ورکولې؟ ولې يې نورو ته واک ورکو؟ له هغه څخه خو دا هم ثابت دي چې عثمان بن عفان رضي الله عنه يې په خپل غياب کې واکوال ګرځولی و!! ولې يې شيعګان له علي رضي الله عنه پرته نورو ته حکم عام نه بولي؟!

(١) بحار الأنوار: (٢٦/٢٨).
(٢) بخاري: (٤٤١٦). مسلم: (٢٤٠٤).

۱۲۸ د «**لطف**» د قاعدې له مخې شيعګان د امام په وجوب عقيده لري، د حيرانتيا وړ خو دا ده چې دولسم امام يې د صباوت او کشرولۍ په موده کې له سترګو پټ او تر نن ورځ راونه ووت! له امامت څخه يې مسلمانانو ته څه «**لطف**» ورسېد؟!!

۱۲۹ د «**لطف**» د قاعدې له مخې شيعګان عقيده لري چې د پېغمبرانو راستول او د امامانو قائمول د الله پاک واجب دي، مونږ وينو چې الله پاک پيغمبران استوي او په معجزو يې تاييد او مرسته کوي، او هغه څوک هلاکوي چې پيغمبرانو ته د دروغو نسبت کوي.

- مونږ له شيعګانو نه دا پوښتنه لرو چې ستاسو د امامانو په تکذيبولو او ورسره په جنګ کولو کې الله پاک د هغوی څه مرسته کړې ده؟! او کوم تاييد ورله کړی دی؟! او پر مخالفينو يې الله د غضب دلايل څه دي چې ورسره شخړې هم کړي دي؟!

۱۳۰ شيعګان عقيده لري چې امامان يې معصوم دي، خو ولې د سنت او تشيع دواړو په اتفاق تاريخي پېښې شيعګان دورغجن بولي د بېلګې په توګه:

- د عثمان بن عفان رضي الله عنه د قصاص غوښتونکو سره جنګ ته علي رضي الله عنه ووت، خو ولې زوی (حسن) يې ورڅخه منعه کړ چې مه وځه، او په دې کې شک نشته چې دواړو کې به يو په حق او بل به خطا وي، سره له دې چې دواړه امامان او له خطا ګناه څخه ستاسو په نېز معصوم دي!!
- د معاوية رضي الله عنه سره په صلح کې حسين د حسن رضي الله عنهما کلک مخالفت وکړ، او په دې کې شک نشته چې يو په حق او بل به خطا وي، سره له دې چې دواړه امامان او له خطا ګناه څخه ستاسو په نېز معصوم دي!!
- بلکې د شيعګانو کتابونه روايت کوي چې علي رضي الله عنه فرمايي: ما ته د حق ويلو، د نېکې مشورې راکولو څخه ځانونه مه بندوئ، دومره ډاډه نه يم چې نه به تېروزم[1].

---

(۱) الكافي: (۸/۲۵٦). بحار الأنوار: (۲۷/۲۵۳).

۱۳۱ د حرمینو علماوو فتوه ورکړېده چې د ضرورت له مخې د کفارو نه د مرتدینو په ضد مرسته غوښتلی شي، په دې فتوه شیعګانو اور بل کړی دی چې دا د دوی ناوړه عقاید دي.

خو ولې مونږ ګورو چې د شیعګانو د باور وړ دین پوهه ابن المطهر الحلي په خپل کتاب «**منتهی الطلب فی تحقیق المذهب**»[۱] کې د مذهب شیخ الطوسي پرته د شیعګانو اجماع نقل کوي چې د اهل البغي او مفسدینو په ضد له ذمیانو څخه مرسته غوښتل جائز دي، ستاسو خپل مذهب ولې دومره په تناقض کې دی؟!

۱۳۲ د شیعګانو د قواعدو له مخې په اهل بیتو کې امامت د هغه چا حق دی چې داسې خوارق العادت راښکاره کړي چې په صدق یې دلالت کوي، بیا ګورو چې علي بن زید د امامت دعوه کوله خو شیعګان یې امام نه بولي، او پټ پناه مهدي یې دعوه نه ده کړې او دوی یې امام بولي!! او نه یې کوم خارق العادت څه کړي دي!! د دوی په عقیده..

۱۳۳ کله چې د الله پاک دا قول نازل شو:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأۡمُرُكُمۡ أَن تُؤَدُّواْ ٱلۡأَمَٰنَٰتِ إِلَىٰٓ أَهۡلِهَا﴾ [النساء: ۵۸]

**الله پاک تاسو ته امر کوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ.**

نبي کریم ﷺ بنو شیبة راوغوښتل او د کعبې کونجي یې ورته ورکړه، او ورته یې وویل: **ای بنوطلحه! دا کونجي واخلئ تر قیامته به ستاسو سره وي، که هر چا درڅخه واخسته هغه به ظالم وی**[۲].

چې د کعبې د خدمت په خاطر نبي کریم ﷺ دومره په صراحت سره خبره کوي نو د علي رضي الله عنه د خلافت اړوند یې ولې دومره کلکه او غوڅه خبره نه کوله؟!

(۱) (۲/ ۹۸۵).

(۲) المعجم الکبیر: حدیث شمیر (۱۱۲۳٤) المعجم الأوسط: حدیث شمیر: (٤۸۸). مجمع الزوائد: (۳/ ۲۸۵).

د کعبې د خدمت په پرتله د خلافت مسله ډېره اړینه او مهمه ده چې د ټولو مسلمانانو زیاتره مصلحتونه پرې ولاړ دي!!!

۱۳٤ شیعګانود دروغو حدیث جوړ کړی دی چې [**لَعَنَ اللهُ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْ جَيْشِ أُسَامَه**][1] تر څو د عمر رضي الله عنه لعن طعن ته لاره هواره کړي او دا ورڅخه هیر دي چې له حدیث نه په تاسو دوه شیان لازمیږي:

د اسامة رضي الله عنه په لښکر کې به علي رضي الله عنه هم تللی وي او په لښکر کې تلل يې د ابوبکر رضي الله عنه په امامت اعتراف دی، ځکه علي رضي الله عنه د داسې چا مامور جوړ شو چې ابوبکر رضي الله عنه امیر کړی دی!!

او که وايي چې په لښکر کې نه و تللی نو هغه هم په سپورو ستغو کې راځي!!

۱۳۵ شیعګان عقیده لري چې د علي رضي الله عنه سره د قران د نزولي ترتیب سره موافق قراني نسخه ده!

❁ له شیعګانو څخه پوښتنه کېدای شي چې د عثمان بن عفان رضي الله عنه د خلافت نه وروسته چې کله علي رضي الله عنه واک واخست او خلیفه شو ولې يې دغه له نقص څخه سلیم او پوره کامل مصحف نه راویستو؟

له دې څخه په تاسو دوه شیان لازمیږي:

یا خو دغه قران نشته تاسو په علي رضي الله عنه باندې دروغ وایئ.

او یا علي رضي الله عنه د خپل خلافت په اوږدو کې د مسلمانانو سره دوکه کړېده او حق يې ورڅخه پټ کړی دی او مونږ په یقین سره وایو چې علي رضي الله عنه حق نه دی پټ کړی او نه يې دوکه کړېده.

۱۳٦ شیعګان د اهل البیت او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کورنۍ سره د میني محبت دعوه لري، لکن مونږ وینو چې هغوی په دې دعوه کې دروغژن دي، دوی

---

(۱) المهذب: (۱/۱۳). د ابن البراج لیکنه. الایضاح: (٤٥٤). دابن شاذان لیکنه. وصول الأخبار: (٦٨) د عاملي لیکنه.

د نبوت د کورنۍ ځينو غړو له نسب څخه انکار کوي لکه رقية او ام کلثوم د نبي ﷺ لورګانې، د نبي ﷺ تره عباس او بچي يې رضي الله عنهم او د هغه تروروزی زبير بن صفية رضي الله عنها دوی ټول يې د نبي ﷺ له کورنۍ نه ويستلي دي.

د فاطمې رضي الله عنها زياتره بچو سره کينه لري بلکې کنځاوی ورته کوي لکه: زيد بن علي، يحيى بن زيد، د موسى الکاظم دواړه بچي ابراهيم او جعفر، د حسن عسکري ورور جعفر بن علي او....

او شيعګان عقيده لري چې حسن بن الحسن «المثنى» او د هغه زوي عبدالله «المحض» او محمد «النفس الزکية» مرتد شوي دي.

د ارتداد نفس همدغه عقيده په ابراهيم بن عبدالله، زکريا بن محمد الباقر، محمد بن عبدالله بن الحسين بن الحسن، محمد بن القاسم بن الحسين، يحيى بن عمر.... کې هم لري.

✿ ايا دا د اهل البيت سره مينه او محبت دی؟!!

په دې يې خپلې خبرې هم ګواه دي چې: د حسن بن علي ټول بچې دومره بد اعمال لري چې په تقيه يې حمل ناسم دی[1]

بلکې له دې څخه هم ډېر د حيرانتيا وړ او د لوې ګناه خبره دا ده چې:

۱۳۷ ❖ شيعګان په لومړۍ پېړۍ کې د اهل بيتو په کفر عقيده لري، د شيعګانو په باور وړ کتابونو او معتمدو اخستنليکونو کې راځي:

✿ د نبي ﷺ له وفات څخه وروسته د (سلمان، ابوذر، مقداد) دريو پرته نور ټول صحابه مرتد شوي دي!! ځينې شيعګان يې شمېر اوو ته رسوي او په دغه شمېر کې له اهل بيتو څخه يو هم شامل نه دی[2] العياذ بالله په ټولو يې د کفر او ردت حکم کړی دی.

(۱) تنقيح المقال: (۱٤۲/۳).

(۲) وګوره: کتاب سليم بن قيس العامري: (۹۲). الروضة من الکافي: (۲٤۵/۸ ۹). حياة القلوب: (٦٤۰/۲) په فارسي ژبه د مجلسي ليکنه.

١٣٨ حسن رضي الله عنه د ګڼ شمېر مرستندويه باوجود معاوية رضي الله عنه ته له خلافت څخه تنازل وکړ، خو ولې ورور يې حسين رضي الله عنه د خپلو لږو مرستندويه په شمول د يزيد بن معاوية په ضد جنګې پاڅون وکړ، او حسن او حسين رضي الله عنهما دواړه د شيعګانوپه نيز معصوم امامان دي، که د حسن رضي الله عنه کار پسند اوسم وي، نو د حسين رضي الله عنه کار به خطا وي، او که برعکس يې وايئ نو حسن رضي الله عنه به په خطا وي، بلکې د اهل بيتو د مخورو او لوړو هستيو په کفر يې ښيخي تصريح کړې ده، لکه د عباس رضي الله عنه په هکله وايي چې

﴿وَمَن كَانَ فِي هَٰذِهِۦٓ أَعۡمَىٰ فَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ أَعۡمَىٰ وَأَضَلُّ سَبِيلٗا﴾ [الإسراء: ٧٢]

ايت د عباس د نبي صلى الله عليه وسلم تره په باره کې نازل شوی دی[١].

د دې امت لوی متبحر عالم او د قران ترجمان عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په باره کې په «الکافي» کې وايي چې هغه کافر ناپوهه او کم عقل و[٢]!

او په «رجال الکشي» کې وايي: (**اللهم العَنْ ابنَيْ فُلانٍ وَاعمِ أَبْصَارَهُمَا، كَمَا عَمَيْتَ قُلُوْبَهُمَا**)[٣]

ای الله! د فلان پر دواړو بچو لعنت راوليږه او په سترګو يې داسې ړانده کړه لکه په زړونو چې دې ړانده کړي دي.

ددې دعا په تعليق کې د شيعګانو شيخ حسن المصطفوي وايي: له دې څخه عبدالله بن عباس او عبيدالله بن عباس مقصد دي[٤].

له فاطمې رضي الله عنها پرته د نبي صلى الله عليه وسلم نورو لورګانو ته هم د شيعګانو سيني له حسده خوټکيږي، څېنو خو يې ښيخي له دې نه انکار کړی دی چې دوی د نبي صلى الله عليه وسلم لورګانې وې[٥].

---

(١) رجال الكشي: (٥٣).
(٢) أصول الكافي: (١/٢٤٧).
(٣) رجال الكشي: (٥٣). معجم رجال الحديث: (١٢/٨١) د خوئي ليکنه.
(٤) رجال الكشي: (٥٣).
(٥) كشف الغطا (٥) د جعفر النجفي ليکنه. دائرة المعارف الشيعية: (١/٢٧) د محسن الأمين ليکنه.

ايا دا د نبي كريم ﷺ سره محبت او مينه ده؟!!!

۱۳۹ د ابوبكر رضي الله عنه د خلافت په دور كې د مرتدينو ضد جنګ كې علي رضي الله عنه هم برخوال و او يوه وينځه يې هم په غنيمت كې اخستې وه چې (محمد بن الحنفية) يې زږولی و، دا په دې دلالت كوي چې علي رضي الله عنه يې په خلافت قائل و، ورنه په جنګونو كې به يې ورسره ونډه نه اخسته.

۱٤۰ په بېلابېلو مسلو له جعفر الصادق څخه ردو بدلې فتواګانې نقل دي، په هره فقهي مسئله كې د هغه دوه يا زيات قولونه دي، د نمونې په توګه: په كوم كوهي كې چې نجاست او پليتې وغورځېږي:

يو ځل وايي: كوهی د بحر په څېر دی هېڅ ګنده شی يې نه شي پليتولی.

بيا وايي: له كوهي به ټولې اوبه راويستل كيږي.

بيا وايي: له كوهي څخه به شپږ يا اووه بوكې اوبه راويستل كيږي.

له يو شيعي عالم څخه وپوښتل شول چې د داسې متضارب اقوالو څخه به مخرج څه ډول وي؟

هغه ځواب وركړ: مجتهد به د اجتهاد له مخې راجح قول په ګوته كړي او پاتې قولونه به يې په (تقيه) حمل كړي!

چا ورته وويل: كه د اجتهاد له مخې بل مجتهد د لومړي مجتهد په ضد قول راجح وبولي، پاتې نور اقوالو ته به څه وايي؟

هغه ځواب وركړ: نفس خبره به كوي چې (تقيه) ده.

چا ورته وويل: كه داسې شي نو د جعفر مذهب بيخي له منځه ولاړ شي، ځكه چې هره منسوبه مسئله د تقيې احتمال لري، نو د تقي او غير تقي مسئلې ترمنځ يې هېڅ توپير پاتې نه شو!!

۱٤۱ د شيعګانو په نيز حديثونو كې:

**الوسائل**: د حرم العاملي ليکنه چې په (١١٠٤) کې مړ دی.

**بحار الأنوار** د مجلسي ليکنه چې په (١١١١) کې مړ دی.

**مستدرک الوسائل** د طبرسي ليکنه چې په (١٣٢٠) کې مړ دی.

د باور وړ کتابونه دي، او دغه ټول کتابونه ډېر وروسته ليکل شوي دي.

- پوښتنه دامنځ ته راځي چې که دغې ليکوالانو حديثونه د سند او روايت له مخې راغونډ کړي وي، نو ايا د سالم عقل څښتن باوره وي چې يوولس يا دیارلس پېړۍ وروسته څنګه ورته لاس رسي کېدای شي؟؟!!
- او که له مخکې نه په کتابونو کې تدوين وای بيا نو څنګه پرې په اخرنو وختونوکې وپوهېدل؟!
- مخکنو علماوو يې ولې دغه روايتونه نه دې راغونډ کړي؟!!
- ولې يې په مذکوره کتابونو کې د اصلي اخستنليکونو نومونه نه دي ذکر کړي؟!!

١٤٢ د شيعګانو په کتابونو کې له ال البيت څخه ډېر داسې روايتونه او حديثونه شته چې د اهل سنت د کتابونو سره يو ځير دي، که په عقيده کې وي او که د بدعاتو څخه په انکار يا نورو بابونو کې وي، لکن شيعګان يې له ظاهر څخه د تقيه په نوم اړوي په دې بنسټ چې د هغوی نفسي غوښتنو سره سمون نه خوري!!

١٤٣ د شيعګانو په نيز معتبر کتاب (**نهج البلاغة**) له علي رضي الله عنه څخه د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما مدح او ثناء نقلوي، هغه وايي: ابوبکر له دنيا څخه پاک او سپېڅلی چې ډېر کم عيب يې درلود ولاړ، د دنيا خير يې له ځان سره يوړ او شر يې پرېښود، الله ته په ډېره پيروکارۍ او په حقه ويره او تقوا ورغی[1].

شيعګان په دې ځير مدحې ته هک پک او حيران دريان دي چې د هغوی په صحابه کرامو کې د طعن عقيدې سره ضد ده، نو په (تقيه) يې حمل کړې ده!!

(١) نهج البلاغة: (٣٥٠). تحقيق: صبحي الصالح.

وايي: علي رضي الله عنهما ځکه دغه وويل تر څو د هغه خلکو زړونه خپل کړي چې د ابوبکر او عمر په خلافت يې خپله عقيده سمه پېژنده، تر څو يې د زوړونو واکدار شي، يعنې هغه غوښتل صحابه تېر باسي!!

مونږ له شيعګانو څخه پوښتو چې ايا علي رضي الله عنهما منافق او بوزديله و چې په زړه يې يو او په خوله يې نور و؟!!

دا خو د هغه د شجاعت او دلېرۍ او د بياحق سره ټکراو خبرې دي...

١٤٤ معلومه خبره ده چې شيعګان د خپلو امامانو په عصمت عقيده لري، دې عقيدې شيعګان په ستونزه کې اچولي دي چې په مقابل کې يې نور روايتونه خپله راوړي دي چې امامان د نورو خلکو په څېر دي، د هغوی په څېر سهوه او نسيان پرې راتلای شي، تر دې چې شيعي عالم مجلسي خپله اقرار کړی دی چې [**مسئله نوره نه ستونزمنه کيږي، ډېر اخبار او ايتونه يې په سهو او خطا ښکاره دلالت کوي**][1].

١٤٥ د شيعګانو يوولسم امام «**حسن عسکري**» په داسې حالت کې ومړ چې زوی ترې نه دی پاتې، د «**عثمان بن سعيد**» په نوم سړي دعوه واچوله چې د حسن عسکري نه څلور کلن زوی پاتې دی او له ويرې څخه پټ شوی دی او زه يې وکيل يم دا په دې خاطر چې د امامي مذهب ابادي ونه نړېږي.

شيعګانو ته حيرانتيا په کار ده چې لومړی وايي: د معصوم قول پرته نور د هېڅ چا قول نه مني، او دلته يې د عقيدې په مهمترينه مسئله کې د عام سړي خبره چې بيخي معصوم نه دی ومنله!!

١٤٦ شيعګان د مروان بن الحکم سره ډغرې وهي او ډېرې ردې بدې پسې وايي، بېرته د خپلو روايتونو له مخې عقيدوي تناقض په دې پيدا کوي چې وايي: حسن او حسين دواړو به ورپسې لمونځونه کول[2].

---

(١) بحار الأنوار: (٢٥/٣٥١).

(٢) بحارا الأنوار: (١٠/١٣٩). النوادر: (١٦٣). د راوندي ليکنه.

د حیرانتیا وړ خو لا دا ده چې معاویة بن مروان بیرته د علي رضي الله عنه لور «رمله» هم په نکاح اخستې وه او د دې خبرې تایید نسب پوهانو ذکر کړی دی[۱].

د حسن «مثنی» لور زینب هم د مروان لمسي ولید بن عبدالملک[۲] په نکاح اخستې وه، او ولید ته نفیسة بنت زید بن الحسن بن علي په نکاح ناسته وه[۳].

۱۴۷ شیعګان عقیده لري چې امام به بالغ وي[٤] خپله دغه قاعده یې بیرته د محمد بن علي الرضا په امامت ماته کړه، ځکه چې د علي الرضا د مړیني په مهال یې لا بیخې ځوي محمد «الجواد» بلوغ ته نه و رسېدلی.

۱۴۸ د غائب مهدي اړوند شیعګان پخپلو ډېرو قصو کې دعوه لري چې هغه کله پیدا شو نو له **[اسمان نه پرې مارغان راښکته شول بدن او مخ یې ورله پخپلو وزرو مسح کړ! پلار ته ورله چا دغه خبره ورياده کړه، هغه وخندل او ویویل: دغه مارغان نه بلکې له اسمان څخه ملائکې راښکته شوي دي او د برکت حاصلولو لپاره یې له دغې مولود څخه ګېره پورته کړې، دا چې کله راشي دغه ملائک به یې مرستندویه وي!]**[٥].

❁ پوښتنه دا منځ ته راځي چې ملائکې یې مرستندویه وي ولې دومره ویره!! او ولې تر اوسه په سرداب کې پټ دی؟!

۱۴۹ شیعګانو د امام لپاره څه شمېر شرطونه ایښې دي، یو شرط یې دا دی چې د پلار مشر زوي به وي، غسل به ورته امام ورکوي ، د نبي صلى الله عليه وسلم زغره به یې په بدن پوره وي، له خلکو څخه به ډېره پوهه لري، احتلام او جنابت به پرې نه راځي او په غیبو به پوهیږي...!!

---

(۱) نسب قریش: (٤٥) د مصعب الزبیري لیکنه. جمهرة أنساب العرب: (۸۷).
(۲) نسب قریش: (٥٢). جمهرة أنساب العرب: (۱۰۸).
(۳) عمدة الطالب في أنساب آل أبي طالب: (۱۱۱) د ابن عنبة شیعي لیکنه. طبقات ابن سعد: (٣٤/٥).
(٤) الفصول المختارة: (۱۱۲ - ۱۱۳).د مفید لیکنه.
(٥) روضة الواعظین: (۲٦۰).

د همدې شروطو له مخې بېرته په مشقت کې واقع شول!!

مونږ وینو چې د شیعګانو ځینې امامان د پلار مشر زامن نه دی لکه موسی الکاظم او حسن عسکري او ځینې نور داسې دي چې امام ته یې غسل نه دي ورکړي لکه موسی الکاظم ته خپل ځوي علي الرضا غسل نه دي ورکړي ځکه چې د پلار د مړینې په حالت کې هغه په کور نه و، حتی چې حسین بن علي ته هم خپل ځوي علي زین العابدین غسل نه دي ورکړي، ځکه چې تر منځ یې د ابن زیاد عسکرې مانع پرتې وې.

او په ځینو نورو امامانو یې د نبي ﷺ زغر نه ده برابره لکه محمد الجواد، ځکه چې د پلار د مړینې په مهال اته کلن هم نه و، همدارنګه له محمد څخه ځوي (علي) هم ماشوم پاتې شوی دی او هغه ومړ.

او ځینې نور امامان یې له خلکو څخه ډېر نه پوهېدل لکه هغه امامان چې لا ماشومان وو، او ځینې نور امامان یې داسې دي چې د شیعي روایتونو له مخې به ورته جنابت او احتلام رسیده لکه علي او دواړه بچي حسن او حسین رضي الله عنهم.

شیعګان روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایي [**زه، علي، فاطمة، حسن، حسین پرته هېڅ چا ته د دې جواز نشته چې په دې مسجد کې جنب شي**][1].

او د علم غیب شرط خو له دروغو پرته نور هېڅ نه دی، رد هم نه ارزي که په علم غیب پوهېدل نو په زهرو مړه کېدل؟!دغه مهال یې علم غیب چرته و؟!

۱۵۰ شیعګان دعوه لري چې امامت باید منصوصي وي.

که خبره هم دغسې رښتیا وي په امامت کې به د شیعګانو ډلو ټپلو دومره اختلافات نه کول، هره ډله د امامت نص په خپل امام تطبیقوي.

په کوم خیریت یوه ډله له بلې په نسبت بهتري لري؟!

د نمونې په توګه کیسانیه دعوه لري چې د علي رضي الله عنه نه روسته امام محمد بن الحنفیة دی او داسې نور...

(۱) عیون أخبار الرضا: (۲/۶۰).

۱۵۱ د اهل الافک په خبر شیعګان هم په عایشې رضي الله عنها باندې تورونه لګوي -العیاذ بالله-

۞ له شیعګانو څخه پوښتنه لرو چې که ستاسو تور دروست وي ولې ورباندې نبي ﷺ حد نه قائمه و؟

سره له دې چې هغه وایي: **لوړه په رب لایزال چې که فاطمة هم غلا وکړي لاس به ترې غوڅ کړم؟!**[1]

ولې ورباندې علي رضي الله عنه حد نه قائمه و؟!

او هغه د الله په باره کې له هیڅ چا هم نه یریده!!

ولې پرې حسن رضي الله عنه د خپل واک په دور کې حد نه قائمه و؟!

۱۵۲ شیعګان عقیده لري چې ټول علم د هغوی امامانو سره خزانه دی، هغوی ته په میراث کې دومره علم او کتابونه پاتې شوي دي چې بل چا به دغومره په میراث کې نه وي اخستی، د امامانو سره «صحیفة الجامعة، کتاب علي، عبیطة، دیوان الشیعة، جفر» دي، په دغې کتابونو کې ټول هغه څه دي چې خلک ورته اړتیا لري.

۞ د حیرانتیا وړه دا ده چې که له دغې کتابونو څخه یو هم شتون درلود نو د تاریخ مخ به یې بدله کړی و!!

۞ چرته به هم د شیعګانو امامان له خلافت څخه پاتې نه وو راغلي.

۞ چرته به پرې هم دغومره ستونزمن حالات نه راتلل.

۞ چرته به هم د چا په لاس او یا په زهرو نه مړه کېدل.

۞ د قتل او اغتیال له ویرې او ډار څخه به هیڅکله هم په سرداب کې امام پناه نه اخسته!!

۱۵۳ له شیعګانو څخه پوښتنه لرو چې دغه مصادر اوسمهال چرته دي؟

---

(۱) بخاري: (۳٤۷۵).

- ستاسو مهدي نور د څه په انتظار دی چې خلکو ته یې نه ورکوي؟
- ایا خلک له دیني نګاه نه دغې کتابونو ته اړتیا نه لري؟
- که اړتیا ورته لري ولې اسلامي امت د مهدي د پټېدو څخه راپدېخوا د یوولسو پېړیو څخه هم زیاته موده د هدایت له دغې مصادرو څخه لرې او نا خبره دی؟!!
- د دې خلکو څه ګناه ده چې له دغې مخزون علم څخه بې برخي دي؟
- که امت ورته اړتیا نه لري ولې دومره دعواګانې کوئ؟
- ولې شیعګان د قران او حدیث د هدایت د حقیقي مصادرو څخه اړول کیږي او بندیږي؟

۱۵٤ شیعګان په خپلو کتابونو کې ذکر کوي چې کله حسین ﵁ کوفې ته ولاړ او هغوی یې هېڅ مرسته ونه کړه او مړ یې کړ، دغه کارونه د دریوخلکو پرته د ردت سبب جوړ شو.

- که هغوی په علم غیب پوهېدل ولې د کوفې په لور تېېدل؟!!!

۱۵۵ شیعګان عقیده لری چې دولسم امام د وېرې له کبله په سرداب کې پټ شوی دی.

- مونږ له شیعګانو څخه پوښتنه کوو: له دې څخه مخکې چې د خلافت په ځمکه کوم امامان میشت وو هغوی ولې چا نه مړه کول؟!
- سره له دې چې هغوی ورڅخه لوي وو، دا به د ماشومتوب په حالت کې چا څه مړ کړی و؟!!

شیعګان دعوه لري چې دوی هغه حدیثونه باور وړ بولي چې د **اهل بیتو** څخه په صحیح سند سره ثبوت ولري[1] خو دا خالص او سوچه دروغ دي، دوکه او پراډ دی، دوی خپل امام د نبي ﷺ مساوي بولي چې د وحي پرته له ځانه خبرې نه کوي، د امام قول د الله د قول په څېر حیثیت لري، له همدې کبله د نبي ﷺ

(۱) أصل الشیعة و أصولها: (۸۳). دمحمد حسین ال کاشف الغطا لیکنه.

حدیثونه یې په مصادرو کې ډېر لږ تر سترګو کیږي، کوم اقوال چې ورته د امامانو څخه راغلی وي په هغه بسنه کوي.

د تېر په څېر هغوی د ټولو اهل بیتو څخه راغلي قولونو باندې باور لرل هم دورغ دي، بلکې هغه اقوال د اعتماد وړ بولي چې یواځې د امامانو څخه نقل وي، له دې کبله د حسن ﵁ له بچو څخه روایت نه قبلوي.

د تېر په څېر مونږ شیعګانو ته وایو: ستاسو د عقیدې له مخې بیا هم تاسو د اهل البیت څخه راغلي نصوصو سره سره تجاوزات کوئ، له علي ﵁ پرته بل هیڅ چا د تمیز په حالت کې رسول الله ﷺ نه دی لیدلی.

- ایا علي ﵁ کولی شي ورستنیو پېړیو ته د نبي کریم ﷺ ګرد سنت نقل کړي؟!
- هغه به دا څنګه وکولای شي چې په ځینو وقتونو کې به نبي ﷺ له ځان نه وروسته امیر ګمارو، حتی ستاسو په اعتراف به یې کله د څه شي لپاره بل ځای ته لیږدو، هغه ټول عمر د نبي ﷺ په څنګ کې نه دی تېر کړی.
- د تېر په څېر هغه به څنګه وکولای شي چې د نبي ﷺ کورني احوال نقل کړي چې له بي بیانو پرته یې نور هیڅ چا ته معلومات نشته؟!

جوته شوه چې علي ﵁ کله هم نه شي کولای چې تاسو ته د نبي ﷺ ټول سنت روایت کړي.

**۱۵۶** له تاسو څخه پوښتنه لرو چې: د اسلام زیات قلمرو ته علم او عرفان د علي ﵁ له روایت پرته د نورو صحابه کرامو په روایتونو نقل شوی دی او په عامه توګه دغه علم د اهل بیتو پرته نورو رسولی دی، نبي ﷺ مدینې ته زرارة بن اسعد ﵁ واستو چې خلکو ته اسلام ښوونه وکړي، انصارو ته قران کریم ورزده کړي او په دیني مسائلو یې و پوهوي.

علاء بن الحضرمي ﵁ یې د دعوت لپاره بحرین ته استولی و، معاذ او ابوموسی اشعري ﵄ یې یمن ته استولي وو، عتاب بن اسید ﵁ یې مکې ته استولی و.

د شیعګانو د دې دعوې حقیقت په کومه ولاړ چې له نبي ﷺ نه به له اهل بیتو پرته نور څوک روایت نه شي کولای؟!!

۱۵۷ د تېر په څېر شیعګان پخپلو کتابونو کې دعوه لري چې هغوی ته د حلالو او حرامو علم او د حج مناسک یواځې د ابوجعفر الباقر د روایت له مخې رسیدلي دي، دا په دې دلالت کوي چې علي رضي الله عنه نه ورته هېڅ هم نه دي رسیدلي!!

سره له دې چې د دوی اسلافو به د نبي ﷺ څخه صحابه کرامو روایت کړي حدیثونو باندې عمل درامد درلود!!

۞ د شیعګانو کتابونه وايي: د ابو جعفر له راتګ وړاندې شیعګانو د حج مناسک او د حلالو او حرامو متعلق هېڅ هم نه پېژندل، چې کله هغه راغی خلکو ته یې حلال او حرام او د حج مناسک وروښودل که څه به هم خلکو له دې نه مخکې له نورو نه پوښتنې کولې خو بیا به دې ته راتلل(۱).

۱۵۸ شیعګان سره پخپل منځ کې ردو بدلې خبرې کوي، د هغه چا په صداقت او عدالت پرېکړه کوي چې ګومان کوي ګنې دوی مهدي لیدلی دی.

د شیعګانو شیخ مامقاني وايي: له پټېدو وروسته که د حجت (مهدي) په لیدو څوک مشرف شوی وي، مونږ ګواهي ورکوو چې دغه لیدونکی د عدالت په لوړه درجه کې دی(۲).

۞ مونږ له شیعګانو څخه پوښتو چې ولې د دې حکم وړ هغه خلک نه بولئ چې رسول الله ﷺ یې لیدلی وي؟ سره له دې چې ستاسو د امام نه په عظمت او درجه کې هم بالا دی؟!!

۱۵۹ په دې کې هم شیعګان تناقض کې دي چې د هغه چا روایت نه

---

(۱) أصول الكافي: (۲/۲۰). تفسير العياشي: (۱/۲۵۲ – ۲۵۳). البرهان: (۱/۳۸۶). رجال الكشي: (۴۲۵).
(۲) تنقيح المقال: (۱/۲۱۱).

قبلوي چې د دوی په امامانو عقيده نه لري، ل دې کبله يې د صحابه کرامو روايتونه ترديد کړي دي، خو ولې نفس قاعده په هغه چا نه مجرا کوی چې خپلو امامانو يې شيعي اسلافو څخه انکار کړی دی!! د شيعګانو عالم حر العاملي ډېر تاکيد کړی دی چې اماميه ډلې د فطحيه[١]، واقفيه[٢] او د ناووسيه[٣] ډلو په روايتونو عمل درامد درلود.

دا درېواړه ډلې د اثني عشريه شيعګانو ځينې امامان هم نه مني، خو بيا هم ځيني راويان يې ثقه بولي[٤]، خو ولې شيعګان دغه رويه د نبي ﷺ د ملګرو سره نه کوي!!

١٦٠ د شيعګانو زيات علماء عقيده لري چې د کليني کتاب (الکافي) کې صحيح، ضعيف او موضوعي حديثونه هم شتون لري خو شيعګان په ډېر باور وايي چې دغه کتاب امام غائب (مهدي) ته وړاندې کړی شو، هغه وويل: زمونږ شيعه لپاره دا کتاب بسنه کوي[٥].

۞ مونږ پوښتنه لرو چې مهدي ولې په موضوعي حديثونو نيوکې نه کولې؟!

١٦١ په «مصباح الفقيه» کې د شيعګانو عالم «همداني» وايي: اجماع د ټولو شيعګانو په نيز حجت نه بلکې د متأخرينو رايه ده، حتی چې متاخرين هم ورباندې په يوه زمانه کې نه دي راټول شوي بلکې د اټکل له مخې د معصوم رايه يې معلومه کړې ده[٦].

۞ ايا هغوی کولای شي چې د امام غائب رايه په اجماع سره اټکل کړي؟!

---

(١) دوی د عبدالله «أفطح» بن جعفر الصادق پلويان دي.
(٢) دوی هغه خلک دي چې د موسی بن جعفر په امامت کې يې توقف وکړ، نه يې ترې انکار وکړ او نه يې امام وبولو.
(٣) دوی د ناووس يا د ابن الناووس پيروکار دي او عقيده لري چې جعفر بن محمد نه دی مړ شوی او مهدي هم جعفر بن محمد دی نور څوک نه دي.
(٤) د بېلګې په توګه کولای شئ چې (رجال الکشي: ٥٦٣، ٥٦٥، ٥٧٠، ٦١٢، ٦١٦، ٥٩٧، ٦١٥) مخونه وګورئ.
(٥) مقدمة الکافي: (٢٥) د حسين علي ليکنه. روضات الجنات: (١٠٩/٦) د خوانساري ليکنه. الشيعة: (١٢٢) د محمد صادق صدر ليکنه.
(٦) مصباح الفقيه: (٤٣٦). الاجتهاد والتقليد: (١٧).

۞ د شیعګانو دې تناقض ته ځير شئ چې خپل تخمينات او اټکلونه عمده بولي خو ولې د سلفو اجماع ته په جوهريت قايل نه دي!!

١٦٢ ۞ ټپله شيعګان د خپل لوي عالم او د مذهب د باور وړ كتاب «من لا يحضره الفقيه» ليكوال ابن بابويه القمي په تناقض كلام اقرار كوي چې كله هم په مسئله كې د اجماع دعوه وكړي، بيا يې برخلاف مسئله كې هم اجماع نقلوي[١] تر دې چې يو شيعه عالم يې اړوند وايي: د اجماع په دعوه كې چې د ده دا حال وي په روايتونو به يې څه اعتبار او باور وكړای شي[٢].

١٦٣ ۞ په شيعګانو كې د حيرانتيا وړ خبره دا ده چې كله هم په مسئله كې دوه قولونه راشي د يو قول قائل معلوم او د بل قول قائل مجهول وي، دوی پكې د مجهول قائل خبره په دې مني چې كېدای شي د كوم معصوم امام قول وي، په دې مذهبي تګلاره يې «حر العاملي» د ډېرې حيرانتيا په مقام كې نيوكه كړې ده، هغه وايي: په مسئله كې د شيعګانو دا شرط چې د مجهول النسب قول بايد پكې هرومرو وي د ډېر تعجب وړ او نا اشنا خبره ده!!

په جهالت سره څنګه پوهېدای شو چې رښتيا دا د معصوم قول دی او كه ګوماني نسبت دی[٣]؟!

١٦٤ ۞ د شيعګانو مذهبي شيخ «مجلسي» وايي: د امامانو د زيارتونو سره د دوو ركعتونو د اداء په مهال قبر ته مخ ګرځول لازمي سنت دي ولو كه كعبې ته شاه هم راشي[٤]!!

۞ های های!! له قبرونو څخه مسجدونه او قبلې جوړول د دوی په كتابونو كې د ال البيت له امامانو نه نهي وارد ده، خو دوی ظالمان يې د خپل خبيث عادت سره سم چې قولونه يې د نفسي خواهشاتو سره سمون ونه خوري په (تقيه) حمل كوي!!

---

(١) جامع المقال فيما يتعلق بأحوال الحديث والرجال: (١٥) د طريحي ليكنه.

(٢) تنقيح المقال فيما يتعلق بأحوال الحديث والرجال: (١٥).

(٣) مقتبس الأثر: (٣/٦٣).

(٤) بحار الأنوار: (١٠١/٣٦٩).

١٦٥ شيعګان زياتره د «**غدير**» حديث او «**أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِيْ أَهْلِ بَيْتِيْ**»(١) حديثونه باربار ذکر کوي خو دا يې هېر دي چې د لومړي ځل لپاره يې د دغې نبوي وصيتونو څخه سرغړونه کړې ده چې د زياتره ال البيت سره يې دښمني اعلان کړه!!

١٦٦ شيعګانو ته وايو: که صحابه کرامو په رښتيا د علي ﷺ د امامت نص پټ او پناه کړی وای نو د هغه په فضيلت او بهترې کې راغلي حديثونه به يې هم پټ کړی وای کنه؟!

او دا د واقعيت سره هم ټکراو لري، جوته شوه که د امامت نصوص وای هغوی به نقل کړی وای، ځکه چې په خلافت باندې د نص شتون لويه مسئله ده او د داسې سترو مسائلو ويل او مشهورول پکار وي تر دې چې مخالف اوموافق دواړه يې وپېژني.

١٦٧ شيعګان روايت کوي چې «حسن عسکري» د دوی غائب امام «مهدي منتظر» پلار له ثقاتو پرته د «منتظر» د حديث په نه تشهيرولو امر کړی دی، بېرته خپلې خبرې په دې ماتوي چې که څوک امام ونه پېژني نو د غير الله عبادت کوي او که پر دغه حالت ومړ مرګ يې د کفر او نفاق دی(٢)!!

١٦٨ له هغې شيعګانو څخه چې عقيده لري چې الله پاک د دوی «مهدي منتظر» عمر سلګونه کال اوږد کړی دی ځکه چې خلک ورته اړتيا لري، بلکې ټوله نړۍ ورته په احتياج کې ده!!

مونږ پوښتنه کوو چې:

- که د خلکو د اړتيا له کبله الله پاک د چا عمر په سلګونو کلنو اوږده و، نو ولې يې د رسول الله ﷺ زندګي نه اوږدوله چې ټول خلک ورته په اړتيا کې دي؟!!

---

(١) صحيح مسلم: (٣٦) حديث. (ژباړن)
(٢) أصول الكافي: (١/١٨١ – ١٨٤).

۱٦۹ شیعګان د حسن عسکري د دوی د امام د ورور جعفر خبره نه مني، او حالانکه هغه وايي چې د حسن عسکري نه زوي نه دی پاتې شوی، شیعګان وايي جعفر معصوم نه دی نو ځکه یې خبره نه منو[1] خو بیرته حسن عسکري د زوي په شتون د عثمان بن سعید چې هغه هم معصوم نه دی خبره یې مني، دا څومره لوي تناقض دی؟!!

۱۷۰ وړاندې په مقدمه کې تېر شول چې د شیعګانو د خورا مشهورو عقیدو څخه هم یوه «طینه» په نوم عقیده ده، د عقیدې نچوړ دا دی چې شیعګان الله پاک د ځانګړې ختې څخه او سنیان یې له نورې ختې څخه پیدا کړي دي او په معلومه بڼه سره خاوره خته ګډه وډه شوه، په شیعګانو د ګناهونو بنستیز لامل د سنیانو د خاورې شریکېدل دي اوپه سنیانو کې د صلاح او د امن امان بنستیز لامل د شیعګانو د خاورې اثر دی، د قیامت په ورځ به د شیعګانو ګناهونه او سزاګانې دواړه په سنیانو او دسنیانو نیک عملونه به شیعګانو ته ورکړل شي!!

خو ولې له شیعګانو څخه هېر دي چې دا عقیده یې په قضا او قدر او د افعال العباد کې د شیعي عقیدې سره سراسر ټکراو او مخالفتونه لري، ځکه ددې عقیدې مطلب خو دا شو چې انسان پخپل کارونو مجبور دی او هیڅ اختیار نه لري، ځکه د انسان فعل د خاورې په بنسټ چې دا ورڅخه پیدا شوی دی منځ ته راځي، سره له دې چې دوی او معتزله سره یو مذهب لري چې انسان د خپل فعل خالق دی!!!

۱۷۱ اثني عشریه شیعګان بار بار تکراروي چې انصارو د علي بن ابي طالب رضي الله عنه سره بې سارې مینه درلوده، له دې کبله یې په صفین کې ډېر پلویان هم دوی و.

مونږ ورڅخه پوښتنه کوو چې ولې یې په لومړي ځل د ابوبکر رضي الله عنه پر ځای دې ته خلافت نه ورکو؟!

---

(۱) الغیبة: (۱۰٦ – ۱۰۷).

هېڅکله هم شیعګان دې پوښتنې ته تسلي بخش او قناعت وړ جواب نه شي ويلای.

زمونږ له نظرونو څخه د انصارو او له دوی څخه وړاندې د مهاجرينو نظر او رايه ډېره پياوړې او حق ته نزدې وه، د انصارو دغه باايمانه او باورې ډله بس دومره وه چې د خلافت او د نبوت د کورنۍ سره مينه ګرکې اړيکو ترمنځ يې لږ توپير ته نظر و.

له همدې کبله د شيعګانو هغه کتابونه چې د صفين په ورځ د علي رضي الله عنه په ملاتړ کې صفتونه کوي نفس هغه کتابونه دي چې د سقيفې په پيښه کې يې په ردت او کفر تورنوي!!

۞ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم صحابه کرام د حيرانتيا وړ ترازو باندې تلل کيږي!!

که چرته د علي رضي الله عنه په ملتيا کې وي نيک او ښه خلک وي، خو که د علي رضي الله عنه سره په کومو چارو کې ټکراو ولري او يا هم د هغه چا مل وي چې د علي رضي الله عنه سره ضد وي نو کافر، مرتد، خود غرضه او منافقين شي؟!

۞ که شيعګان دا وايي: د ردت پريکړه پرې ځکه کوو چې د علي رضي الله عنه د خلافت له نص څخه منکر او په شا تللي دي.

مونږ ورته وايو: ايا اثني عشريه شيعګان دا عقيده نه لري چې د غدير حديث متواتر او په سلګونو صحابه وو روايت کړی دی؟

انکار له کوم ځای څخه راغی؟!

زه چې کله «**مَنْ كُنْتُ مَوْلاَهُ فَعَلِيٌّ مَوْلاَهُ**»[1] بخپله ژبه ووايم نو انکار له کومه راغی؟!

۞ که شيعګان وايي: هغوی د حديث له لفظ نه نه بلکې د معنی نه منکر وو.

مونږ ورته وايو: د حديث په تفسير کې ستاسو په حقانيت دليل څه دی؟

---

(۱) جامع الترمذي: (۳۷۱۳). (ژباړن)

ايا د نبي كريم ﷺ د صحابه كرامو څخه د عقل او فهم له نګاه تاسو بهتر ياست؟!!

او كه نه له هغوى څخه تاسو په عربيت ښه پوهه لرئ چې هغوى د حديث په مغز دومره ښه نه پوهېدل لكه تاسو چې پوهېږئ[(١)]؟!!

١٧٢ زمونږ مخې ته شيعګان دوه ډلې دي:

يو ډول هغه شيعګان دي چې د الله د كتاب د تحريف او تبديل په تور كلك درېځ لري چې په سر كې يې د اثني عشريه د شيعګانو د حديثونو اتوو باورو سرچينو كې د يو كتاب «مستدرك الوسائل» ليكوال دى، هغه د «فصل الخطاب في اثبات تحريف رب الأرباب» په نوم خپل كتاب كې وايي:

د قران په تحريف يو دليل دا دى چې ځينې فقرات يې د بلاغت په انتها كې دي خو ولې نور ځينې فقرات يې په نهايت زيات سخافت او د بې معنا په درجه كې دي[(٢)].

سيد عدنان بحراني وايي: د قران په تحريف او تغيير كې د دواړو خواو د نهايت زيات اخبارو د نقل چې د تواتر له حد څخه هم تجاوز لري او نور ګڼ شمېر حديثونه پرې هم راغلي دي، حتى چې د صحابه وو او د تابعينو په نېز هم پكې تحريف راغلى دى او شيعګانو خو پرې اتفاق كړى دى او په قران كې د تحريف مسئله يې د دين د ضرورياتو له جملې څخه ګرځولې ده[(٣)].

يوسف البحراني وايي: زمونږ پر درېځ روايت شوي اخبار واضحه او غوځ دلالت كوي، كه د كثرت او انتشار باوجود په روايت شوي حديثونو كې طعن ته پام وكړو شايد له دې كره كتنې له مخې به د اسلامي شريعت ډېر حديثونه نور هم له منځه لاړ شي، اصول، سندونه، راويان، استاذان او

(١) ثم أبصرت الحقيقة: (٢٩١ – ٢٩٢).
(٢) فصل الخطاب فى اثبات تحريف كتاب رب الأرباب: (١٢).
(٣) مشارق الشموس الدرية: (١٢٦).

مشائخ ټول یو دي، خو سوګند په رب لا یزال چې د قران په تبدیل او تغییر عقیده نه لرل مې د استبداد او ظلم په ټولواکانو حسن ظن نه نه وباسي، که څه هم هغوی په امامت کبری کې خیانت نه دی کړی خو ولې په نورو امانتونو کې ترې خیانت څرګند بریښي چې دین ته ترې خاروخنډ ستونزه راولاړه ده[1].

دې خواوې په قران کریم د تحریف ښکاره ښکاره نظرونه ورکړیدي!!

دوهمه خواوې «صحابه کرام» دي، د دوی هغه ګناه چې شیعګان یې پرې نه ښښي دا ده چې د علي رضي الله عنه پر ځای یې خلافت ولې ابوبکر رضي الله عنه ته ورکړی دی؟!

**لومړي** خواوې چې د الله پاک په کتاب کې په تحریف قایل دي اثني عشریه شیعګان ورله نهایت زیات معذرت په دې کلماتو چې [**تېروتي دي، دا دهغوی خپل اجتهاد او تاویل دی، مونږ ورسره موافق نه یو او...**] کوي، های افسوس افسوس چې په قران کریم د تحریف یا نه تحریف عقیده له کله راهیسې اجتهادي مسئله جوړه شویده؟!!

د دغې مجرم انسان په دې قول [**خو ولې نور ځېنې فقرات یې په نهایت زیات سخافت او د بې معنا په درجه کې دي**] کې اجتهاد چرته دی؟!!

لوړه په رب لایزال چې دا لوي مصیبت دی!!!

په قران کې د تحریف قائلینو ته مونږ د اثني عشریه شیعګانو ځغلند نظر د بیلګې په توګه څه نمونه ړدو:

د اوسمهاله اثني عشریه شیعګانو لوي عالم سید علي میلاني په خپل کتاب «عدم تحریف القران: ۳٤» کې د میرزا نوري طبرسي څخه په دفاع کې وایي:

میرزا نوري د لوي محدثینو له جملې څخه دی، مونږ د میرزا نوري زیات قدر او احترام کوو، میرزا نوري زمونږ په علماو کې ستر عالم دی، مونږ د هغه

(۱) الدرر النجفية: (۲۹۸) د یوسف بحراني لیکنه، نشر: مؤسسة ال البیت لاحیاء التراث.

په حق کې لږ تر لږه تجاوز هم نه کوو او نه مونږ ته د دې جواز شته بلکې تعدی ورباندې حرامه ده، هغه زمونږ لوي محدث دی!![1]

دا څومره لوي تناقض دی!!

۱۷۳ الله پاک فرمایي:

﴿ٱتَّبِعُواْ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ وَلَا تَتَّبِعُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوۡلِيَآءَۗ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ﴾ [الأعراف: ٣]

دا ایت د نبي ﷺ پرته د هر چا پیروکاري باطله بولي، د امام او خلیفه اړتیا دا ده چې د الله پاک مونږ ته رارسېدلې فرمانونه تنفیذ کړي، نه دا چې خلکو ته نوی دین راوړي او یا د هغه څه ایجادات وکړي چې خلک ورسره نا اشنا او د نبي ﷺ په راوړي دین کې يې ثبوت هم نه وي، مونږ ګورو چې علي رضي الله عنه کله هم قراني پرېکړې ته دعوت شو نو غاړه يې ورته کېښوده او دا يې هم وویل چې په قران فیصله حق او دروست کار دی.

که د علي رضي الله عنه قول رښتیا او سم وي زمونږ همدغه مذهب دی او پرې ولاړ یو او که پرېکړه يې بنسټ نه لري باطله وي نو باطلې خبرې هغه بیخي کوي نه او که د امام په شتون کې په قران پرېکړه ناسمه وي بیا به علي رضي الله عنه ویلي وچې: په قران ولې پرېکړې ته غاړه ږدئ حالانکه زه د نبي ﷺ له اړخه تاسو ته مبلّغ یم؟

- که شیعګان وایي: د نبي کریم ﷺ وروسته امام ته اړتیا لیدل کیږي تر څو دین ورسوي.

**مونږ وایو**: دا باطله او بې دلیله خبره ده، په صحت يې هیڅ دلیل شتون نه لري، ټول د ځمکې خلک یواځې د نبي ﷺ بیان او تبلیغ ته شدیده اړتیا لري، که څوک يې په حضور کې وو، که نه وو او که وروسته ترې راغلي دي، خو چې نبي کریم ﷺ هر څه وواېي هغه به تل لپاره باقي او د ځمکې د ټولو میشتو خلکو لپاره به بیان وي.

(۱) ثم أبصرت الحقيقة: (۲۹٤).

**د تېر په څېر**: شيعګان وايي چې د تل لپاره د امام شتون ته اړتيا ده، که رښتيا داسې وي نو دعوه يې څڅه ماته ده چې د ځمکې په لروپرتو سيمو کې چې ځوک امام سره نزدې حضور نه لري څه کوي، د ځمکې ټول ميشت خلک، د نادار او فقير پورې، د ښځې، د ناجوړه او د ژوند په دندو بوخت خلکو پورې، د ختيځ او لويديځ خلکو پورې هېڅکله نه شي کولای چې امام براه راست ووينې، هغوی ته خو هم تبليغ زيات اړين دی؟!

که له امام څخه تبليغ اړين وي نو له رسول الله ﷺ څخه خو تبليغ او دين رسونه په طريقه اولی اړينه ده او هېڅکله هم خلک له هغه څخه جلا کېدای نه شي[1].

**١٧٤** هغه راويان چې په روايتونو يې شيعي دين ولاړ دی، د شيعګانو په کتابونو کې په ډېر لعن او مذمت ياد شوي دي، که څه يې هم شيعګان د خپلو شيوخو په خولو بد يادوي خو بيا هم راغلی مذمت يې نه مني، (دا څکه که مذمت يې پکې ومنو سنيان ترې جوړېږي) تر څو د راغلي مذماتو مخه ونيسي په تقيه يې حمل کړي دي، له اندکې وجې نه پکې د امام د قول له رد نه نور څه نشته خو که په شيعي مذهب کې د امام له نص څخه منکر کافر وي نو شيعګان خو د انکار له مخې رأسا له دين څخه وتلي دي!

د شيعګانو د معاصرو شيوخو څخه محمد رضا المظفر پخپله اعتراف کړی دی چې له ائمو څخه په ځينو راويانو باندې د مذمت په الفاظو سختې نيوکې شوي دي او پخپله د شيعګانو کتابونو دغه مذمات روايت کړيدي، محمد رضا المظفر زياتوي د هشام بن سالم الجواليقي په ذم کې زياتوي «**په هشام ګڼ شمېر د مذمت په صفاتو نيوکې شوي دي، له دې پرته د اهل بيت په لويو لويو مرستندويه او د هغوی د باور وړ په راويانو هم دغسې نيوکې چې د روايت د رد لامل جوړېږي شوي دي، خو ولې جواب له دغې نيوکو څخه په دې کېدای شي چې (تقيه) ده**»[2].

(١) الفصل في الملل والأهواء والنِحِل: (١٥٩/٤ - ١٦٠).
(٢) الامام الصادق: (١٧٨) د محمد حسين المظفر ليکنه.

بيا وايي: «**د اهل بيتو خلافت او حق دين د همدغو راويانو په نصوصو ولاړ دی، نو څنګه په دغې سترو هستيو کې قدح سمه وبولو**»؟![۱]

وګورئ چې تعصب په انسان باندې څه کوي ېخپله بېرته له هغه چا نه دفاع کوي چې د اهل بيتو له پلوه يې مذمت بيان شوی دی او بېرته د اهل بيتو له پلوه د قدحې او مذمت صفتونه له راويانو څخه ردوي، دا هغه صفتونه دي چې د شيعګانو کتابونو روايت کړي دي دا بيخي داسې برېښي چې دوی هم د اهل بيتو تکذيب کوي او د دجل او افتراء، د درواغو او تهمتونو امامان چې اهل بيتو غندلي دي دوی يې تصديقوي، په دې اټکل چې امامانو دغه قدحه د تقيه په شکل کړې ده، جوته شوه چې شيعګان د اهل بيتو د هغو اقوالو پيروکاري نه کوي چې د سنت سره سمون خوري، بلکې د اهل بيتو د دښمنانو په پل روان او د هغوی پېروکار دي او د خپلو امامانو ټول د جرحې اقوال په تقيه حمل کوي.

**۱۷۵** عام او خاص ته په تواتر معلومه ده چې نبي ﷺ سره د ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم ځانګړی نزديکت و او ټولو خلکو نه يې ورسره ځانګړې په لويه کچه مينه درلوده او د ټولو ورسره منځنۍ اړيکې له سخرګنۍ يا زومولۍ څخه جوړې وې، د هغه هم ورسره ډېره مينه او محبت و، تل يې پرې ثنا او د مدحې کلمات ويلي دي.

- پوښته دا لرو چې د نبي ﷺ په ژوند او له مرګ وروسته به يا دوی ظاهرا او باطنا په سمه وي او يا به نه وي، خو که د دومره نزدې اړيکو سره سره بيا هم هغوی په ناسمه وي دوه خبرې ترې لازميږي:

يا خو نبي کريم ﷺ د دوی په احوالو بيخي ناخبره و.

او يا يې ورسره مداهنت کو.

او د نبي کريم ﷺ په حق کې دغه دواړه کارونه يو له بل څخه په قدح او مذمت کې پورته دي، خو عربي شعر دی چې:

---

(۱) الامام الصادق: (۱۷۸) د محمد حسين المظفر ليکنه.

فَإِنْ كُنْتَ لاَ تَدْرِيْ فَتِلْكَ مُصِيبَةٌ    وَإِنْ كنت تَدْرِيْ فَالْمُصِيْبَةُ أَعْظَمُ

**ژباړه: مصيبت دا دی چې ته پوهېږې نه او چې پوهېږې او بيا هم انکار کوې نو مصيبت خو لا هم پسې نور لوی دی.**

او که چرته هغوی په دين کې له استقامت وروسته ديني انحراف کړی وي دا خو د الله پاک له پلوه د نبي ﷺ د امت په ځانګړو او د هغه په لويو ملګرو باندې د شرمولو معنی ورکوي، په نورو اديانو چې څوک خپل دين بالا غواړي څنګه يې خاص ملګري مرتد کېدای شي؟

دا او دې ته ورته نورو تورونو شيعګان د نبي ﷺ په شان کې ګوستاخي کوي.

**امام ابو زرعة وايي**: دا خلک (شيعګان) غواړي چې له دې لارې د نبي ﷺ ګوستاخي وکړي د دې لپاره چې خلک ووايي: **محمد** ﷺ ناوړه هستي وه ځکه يې ملګري هم ناوړه وو، که نېک سيرته انسان و، نو ټول ملګري به يې نيک او صالحان وو.

١٧٦ په صحابه کرامو کې د شيعګانو د تکفيري مذهب څخه د علي رضي الله عنه کفر هم لازمېږي ځکه چې د الله پاک په امر يې عمل نه دی کړی.

دا هم پرې لازمېږي چې اسلامي شريعت يې له عمل څخه ساقط کړی و بلکې باطل يې ګرځولی و ددوی په عقيده راويان يې مرتدين دي، له دې څخه په قران کريم کې قدحه هم لازمېږي، ځکه چې قران مونږ ته د ابوبکر، عمر، عثمان او د نورو صحابه کرامو له لارې نقل شوی دی، او له دې خبرو څخه د شيعګانو موخه هم دا ده بله نه ده.

١٧٧ شيعګان وايي: **«امامت واجب دی، ځکه چې امام د اسلامي شريعت او مسلمانان په اسلامي لار روانولو کې، له کمې او زيادت څخه د اسلامي احکامو خوندي ساتلو کې د نبي ﷺ نائب دی»**(١).

(١) الشيعة في التاريخ: (٤٤ – ٤٥).

**شيعګان مزيد وايي**: د الله پاک له اړخه د امام تعيين ضروري دی، ځوله نړۍ امام ته اړينه ده هيڅ راز فساد پکې هم نشته، معلومه شوه د امام تعيين واجب دی[١].

**د تېر په څېر وايي**: امامت ځکه واجب دی چې لورينه ده...امامت د الله له لورينې څخه لورينه ده، کله چې خلک داسې مشرتابه ولري چې خبرې يې مني، د نيکۍ لارښوونې ورته کوي، چپاولګر له استبداد څخه قابو کوي، د خير په کارونو يې مجبوروي، د شر او په ناسمو کارونو يې رټي، دغه مهال به خلک خير ښېګړې ته نزدې او له تخريب کارۍ څخه به لري وي، دېته لطف او پېرزو ويلې شي[٢].

۞ مونږ له شيعګانو څخه پوښتنه کو چې له علي ﵁ پرته ستاسو دولسو امامانو کې هيڅ چا هم د دين او دنيا عامې چارې نه دي سمبال کړې او نه يې کوم ظالم په ظلم او تخريب رټلی دی، نه يې د خير په کارونو خلک باعث کړي دي او نه يې له شر او فساد څخه قابو کړي دي، تاسو يې په حق کې ولې خيالي دعواګانې کوئ چې هيڅ واقعيت نه لري؟!

له بل پلوه که تاسو شيعګان لږ غور وکړئ ستاسو په مفهوم دغه عقيده د امامانو ضد ده، ځکه هغه لطف او پېرزوينه چې تاسو يې دعوه کوئ له امامانو څخه نه ده صادره شوې.

**١٧٨** ۞ په «**نهج البلاغة**» کتاب کې راغلي دي چې علي ﵁ به الله پاک سره په دې دعا مناجات او جرګه کوله [**اللهم اغفر لي ما أنت أعلم به مني، فإن عدتُ فَعُد عليّ بالمغفرة، اللهم اغفر لي ما وأيت من نفسي ولم تجد له وفاء عندي، اللهم اغفر لي ما تقربت به إليك بلساني ثم ألفه قلبي، اللهم اغفر لي رمزات الألحاظ وسقطات الألفاظ، وسهوات الجنان وهفوات اللسان**][٣]

---

(١) منهاج الكرامة: (٧٢ – ٧٣).

(٢) أعيان الشيعة: (٦ :/ ٢/١).

(٣) شرح نهج البلاغة: (١٧٦/٦). د ابن أبي الحديد ليکنه. ژباړه: ای الله! هغه ګناه مې راته وبښه چې له ما څخه پرې ته ښه عالم يې، که له ماڅخه ګناه بيا وشي ته يې راته بيا مغفرت وکړه، ای الله! که ما

هغه چې خپله د الله پاک څخه د خپلو ټولو ګناهونو او سهوې د ښښنې سوال کوي، ایا ستاسو د عصمت د عقیدې سره کلک تضاد او ټېنګ مخالفت نه لري!

۱۷۹ شیعګان عقیده لري چې ټولو پیغمبرانو د علي رضي الله عنه ولایت ته دعوتونه کړي دي[1]! بلکې د شیعګانو شیخ (طهراني) دومره غلو کړې ده چې د علي رضي الله عنه ولایت ټولو شیانو ته وړاندې کړی شو، څه شي چې ومنو تر وسه نېک دی، او څه شي چې و نه منو د فساد سره مخ شوی دی!![2].

- مونږ شیعګانو ته وایو: د ټولو انبیاؤ علیهم السلام دعوت توحید او په عبادتونو کې اخلاص ته و، نه د علي رضي الله عنه ولایت ته لکه تاسو چې یې دعوه لرئ.

الله پاک فرمایي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ﴾ [الأنبیاء: ۲۵]

**ژباړه: مونږ ستا نه مخکې هېڅ پېغمبر نه دی لیږلی مګر دا وحي مو ورته کړې وه چې زما پرته بل معبود نشته، او زما عبادت وکړئ.**

ستاسو د دعوې سره سم که د علي رضي الله عنه ولایت رښتیا هم د ټولو پېغمبرانو په صحیفو کې لیکل شوی وای، بیا نو ولې هېڅ چا ته پته نشته او یواځې شیعګانو دغه روایتونه کړیدي؟!

- نورو دیانتونو ته ولې دغه پته نشته؟!
- د نورو دینونو والا ډېرو خلکو ایمان راوړی دی خو هېڅ چا هم د ولایت اړوند څه نه دي ویلي.
- قران کریم چې په ټولو کتابونو ساتونکې دی ولې پکې د ولایت متعلق یوه مسئله هم نشته؟!

---

وعده کړې وې او وفاء پرې رانه نه وې شوې ته یې راته بخښش کړه، ای الله! ماته مې هغه ګناه وبښه چې په ژبه مې درته ځان درنزدې کړی وې او په زړه کې مې مخالفت وې، ای الله! ما ته زما د سترګو لیدلي ګناهونه او د بیهوده الفاظو ګناه راوبښې، ای الله! د زړه سهوه او د ژبې مخالفتونه مې وبښې.

(۱) بحار الأنوار: (۱۱/۶۰). المعالم الزلفی: (۳۰۳).

(۲) ودائع النبوة: (۱۵۵). د طهراني لیکنه.

١٨٠ ایا امامانو متعه کړې ده؟!

له متعې څخه یې کوم بچې پیدا دي؟!

١٨١ شیعګان وایي: په ټولو شیانو چې شوي دي او که کیږي امامان پرې پوهیږي، او علي رضي الله عنه د علم دروازه ده، که رښتیا هم دعلم دروازه وه ولې یې د مذي د حکم پیژندلو لپاره نور څوک نبي کریم ﷺ ته استول تر څو د متعلق مسئلې حکم وپیژني؟!

١٨٢ د شیعګانو د عقیدې په بنسټ د صحابه کرامو رضي الله عنهم لویه سرغړونه دا ده چې د علي رضي الله عنه له ولایت څخه یې انحراف کړی دی او ولایت یې ورته نه دی تسلیم کړی، د شیعګانو په نېز د دې تصرف له کبله یې عدالت له منځه ولاړ.

که عدالت په دغه ډېر تصرفاتو له منځه ځي بیا نو د «فطحیه، واقفه»او د نورو شیعګانو ډلو اړوند ولې دغه حکم نه صادروي چې د امامانو څخه غوخ انکار کوي، بلکې برعکس د دغې ډلو په راویانو دلیل نیسي او تزکیه یې کوي[1]؟

شیعي مذهب ولې دومره منځنی تناقض لري؟!

١٨٣ د امامانو او وغیره نورو خلکو په تقیه د شیعګانو ټول اخستنلیکونه یوه خوله دي، چې لږ مخکې یې ذکر هم وشو او تقیه دېته ویل کیږي چې امام په خوله هغه څه وایي چې په زړه یې نه وي او کله پکې ناحق هم وایي.

څوک چې تقیه استعمال نه کړي امام هم نه شي جوړېدای، ځکه چې هغه به خامخا دروغ وایي او دورغ ګناه ده!!

١٨٤ کلیني نقل کوي چې علي رضي الله عنه ته خپلو ځینو ملګرو وویل: مخکني

---

(١) د مثال په توګه وګوره: رجال الکشي: (٢٧، ٢١٩، ٤٤٥، ٤٦٥). رجال النجاشي: (٢٨، ٥٣، ٧٦، ٨٦، ٩٥، ١٣٩). جامع الرواة: (١/٤١٣). د أردبیلي لیکنه.

خلفاوو چې څومره فسادات کړي دي هغه اصلاح کړه، علي ﷺ دغه مشوره په دې ناسمه وبلله چې هسی نه لښکرې ترې ترې تم شي[۱] سره له دې چې مخکني خلفاء (ابوبکر، عمر او عثمان ﷺ) ته متوجه توروونه د قران کریم او نبوي سنت مخالفتونو ته هم شامل دي.

❁ ایا علي ﷺ د عصمت سره موافق چې دوي پکې دعوه لري دغه مخالفتونه پرېښودل؟!!

**۱۸۵** عمر ﷺ له خپلې مړینې وروسته د شورا شپږ غړي انتخاب کړي وو، لومړې ترې درېو نفرو ځانونه ګوښه کړل، بیا ترې عبدالرحمن بن عوف ځان ګوښه کړ، عثمان او علي ﷺ دواړه پاتې شول.

❁ ولې علي ﷺ له پیل څخه نه ویل چې ما ته په خلافت باندې وصیت شوی دی؟!!

❁ ایا د عمر له مړیني وروسته بیا هم له چا ویرېده؟!!

❁❁❁

(۱) الروضة: (۲۹). د کلیني لیکنه.

IslamHouse.com

islamhouseps IslamHousePs IslamHousePs islamhouse.com/ps/

For more details visit
www.GuideToIslam.com

GUIDE TO ISLAM


contact us :Books@guidetoislam.com

GuidetoIslam.org Guidetoislam1 Guidetoislam www.Guidetoislam.com

المكتب التعاوني للدعوة وتوعية الجاليات بالربوة
هاتف: ٩٦٦١١٤٤٥٤٩٠٠+ فاكس: ٩٦٦١١٤٩٧٠١٢٦+ ص ب: ٢٩٤٦٥ الرياض: ١١٤٥٧
ISLAMIC PROPAGATION OFFICE IN RABWAH
P.O.BOX 29465 RIYADH 11457 TEL: +966 11 4454900 FAX: +966 11 4970126

# هغه پوښتنې چې د شیعګانو د هدایت سبب شوې

د کتاب په اړه: مذکور ژباړل شوی کتاب د لوستوالو ترمنځ په لوی کم او کیف شهرت لري، کتاب د پوښتنو په انداز هغه حقایق رابرسېره کړي دي چې د شیعګانو الحادي او اباحي مذهب بنسټ نړوي، تر دا مهال د شیعګانو علمي کدرونو ډاکټرانو او مذهبي نګرانانو دا کتاب نه دی ځواب کړی، مزعوم مهدي به یې راشي خو دا کتاب به ځواب نه کړی شي، په دې کتاب الله پاک هغو شیعګانو ته هدایت وکړ چې د هدایت اراده یې ورله لرله، د کتاب هره پوښتنه شیعګانو ته په ډېر عقلي او منطقي انداز متوجه ده، د کتاب اسلوب ډېر اصیل او نسق یې خوندور دی ، په دې ارزي چې ژباړه یې د ځمکې ګوټ ګوټ ته ورسیږي، نور په نیتونو الله خبر دی او هغه د خپل دین ډېره ښه مرسته کوي.




IslamHouse.com
Osoul Center
www.osoulcenter.com